امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
معینیت امـــور علـمی

پوهنتون سلام
پوهنځی شرعیات و قانون
پروگرام ماستری تفسیر و حدیث

# حجاب او ستر د قرآن او سنتو په رڼا کې

(رسالهٔ ماستری)

محصل: نجیب الله "الصباح"
استاد رهنما: دکتور فصیح الله "عبدالباقی"

سال: ۱۳۹۶هـ.ش – ۱۴۴۰هـ.ق

د افغانستان اسلامی امارت

دلوړو زدکړو وزارت

د علمی چارو معینیت

پوهنتون سلام

د شرعیات او قانون پوهنځی

د تفسیر او حدیث پروګرام

# حجاب او ستر د قرآن او سنتو په رنا کی

(د ماستری رسالهٔ)


محصل: نجیب الله "الصباح"

لارښود استاد: دکتور فصیح الله "عبدالباقی"


کال: 1396هـ. ل – 1440هـ. ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

### د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د تفسیر و حدیث دیپارتمنت

### د ماستری بورډ

---

# تــــصـديـق نـــــامـــــه

ښاغلی نجیب الله د محمد رسول زوی د ID: SH-MST-95-147 نمبر لرونکی، د تفسیر و حدیث د دویمی دوری محصل د ماستری مرحلې رساله چې عنوان یې: حجاب او ستر د قرآن کریم په رڼا کې ، د چهارشنبې ورخ په ۱۴۰۲/۸/۳ هـ ل نیټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۷۵ (نمرو په عدد) پنځه اویا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید،

له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد محمد نعیم جلیلی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | استاد شکرالله مخلص | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور فصیح الله عبدالباقی | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر ____________  علمی مرستیال ____________

# خلاصة البحث

كومه ليكنه چې ستاسوپه مخ کې ده (حجاب اوسترد قرآن کريم اوسنتوپه رڼاکې) نوموړې موضوع چې د بنده د ماسترى دورې تيزيس دى د قرآن اونبوې احاديثو په رڼاکې چې د قدرمن استاد دکتور فصيح الله عبدالباقي په لارښونه مې په مقدمه سربيره په څلورمباحثوکې چې هرمبحث يې بيا د څومطالبو درلودونکى دى ترتيب کړى دى، لومړى مبحث تمهيدي مبحث دى چې د حجاب لغوي او اصطلاحي مانا،د ستر لغوي او اصطلاحي مفهوم، د ستر او حجاب ترمنځ فرق او د حجاب ګټې او ارزښتونه پکى بيان شوي دي. دوهم مبحث کې بيا په قران کريم کې د ستر اړوند احکام ، د حجاب د نزول ترتيب او تاريخ د حجاب اړوند ايتونو څيړنه، په قرآن کې د حجاب حدود او همدارنګه د حجاب ايتونو اړوند د اسلامې پوهانو نظريات څيړل شوي ديي.

دريم مبحث په دې مبحث کې په سنتوکې د حجاب او ستراحکام،د حجاب اړوند احاديثو څيړنه ،په احاديثو کې د حجاب وقايوي تدابيراو د حجاب د حدودو بيان راغلى دى.

څلورم مبحث د بې حجابى عوامل، اغيزې او په وړاندې يې مسئوليت ،د حجاب ضد توطئه د بې حجابى پيل، عوامل او په ټولنه کې د بې حجابى ناوړه اغيزې،همدارنګه د بې حجابى په مخنيوي کې د حکومت، علمأو او ټولنې مسئوليت په ځانګړيو مطالبوکې بيان شوى دى.

د هر مطلب د اثبات لپاره په قران اونبوى احاديثو استدلال شوى دى او د قرآني ايتونواو نبوي احاديثو سربيره د اسلامي پوهانونظريات هم راوړل شوي دي.

لړ لیک

سریزه........................................................................................ ۱
تمهیدي مبحث........................................................................................ ۸
لومړی مطلب:دحجاب لغوي اواصطلاحي مانا........................................ ۸
دوهم مطلب:دسترلغوي اواصطلاحي مانا............................................ ۱۲
دریم مطلب:دستراوحجاب ترمنځ توپیر................................................ ۱۳
څلورم مطلب:دحجاب ارزښت اوګټې.................................................. ۱۶
لومړی مبحث په قرآن کې دحجاب اوستراړون احکام.............................. ۲۰
لومړی مطلب:حجاب دقران په هنداره کې............................................ ۲۱
دوهم مطلب:دحجاب دوجوب تاریخ.................................................... ۲۵
دریم مطلب:دحجاب اړوندایتونوڅېړنه.................................................. ۲۶
څلورم مطلب :په قٌران کې دحجاب احکام............................................ ۳۲
پنځم مطلب:په قران کې دحجاب حدود................................................ ۴۳
شپږم مطلب: دحجاب ایتونو په اړه داسلامي پوهانو نظریات...................... ۴۷
دوهم مبحث په سنتوکې دحجاب اړوند احکام........................................ ۵۱
لومړی مطلب: حجاب اړوند احادیثو څېړنه............................................ ۵۱
دوهم مطلب: په احادیثو کې دحجاب وقایوی تدابیر.................................. ۵۷
دریم مطلب: په احادیثو کې دحجاب حدود............................................ ۶۱
څلورم مطلب: دحجاب له حکمه دشارع مقصد........................................ ۶۲
دریم مبحث بې حجابي ،عواملاواغیر اوپه وړاندې یې مسؤلیت.................. ۶۴
لومړی مطلب:دحجاب ضد توطئه........................................................ ۶۴
دوهم مطلب: دبې حجابی پیل............................................................ ۶۶
دریم مطلب:دبې حجابی عوامل.......................................................... ۶۸

ځلورم مطلب:په ټولنه دبې حجابئ ناوړه اغیزې........................................ ۷۰
پنځم مطلب:دبې حجابی په مخ نیوی کې دحکومت علماواوټولنی مسؤلیت.........۷۳
مناقشه........................................................................................۷۶
نتیجه ګیري...................................................................................۷۹
وړاندیزونه......................................................................................۸۲
منابع............................................................................................۸۳

## سریزه

الحمد الله والصلاة والسلام علی رسول الله و علی اله و صحبه اجمعین و من تبعهم با حسان الی یوم الدین

له اسلام نه مخکې په غیر اسلامي ټولنه کې ښځه له خپل حقونو څخه محرومه وه اما د اسلام له ظهور سره سم ښځو په ټولنه کې ځانګړی ځای پیدا کړ او دې ته په کتو چې اسلام د ژوند ټولو برخوته شامل دین دی او د ژوند ټولو مسائلو ته هغه که فردي، ټولنیز، فرهنګی او یا هم اقتصادي دي کړنلارې او احکام يې ورته وضع کړي دي په فردي او ټولنیزه برخه کې د اسلام د وضع شوو احکامو څخه یو هم د ښځو حجاب او ستر دی حجاب او عفاف له دې امله چې یو فطري امر دی او د انسانانو اجتماعي ژوند لپاره ضرور دی په ټولو آسماني دېنونو کې د ښځو لپاره حجاب او ستر واجب ګڼل شوی او بشري ټولنه يې دهغه خواته را بللې ده ځکه چې حجاب او حیأ په فطري ډول د ښځو په ضمیر کې اینودل شوی دی او الهی احکام او دستورات هم د انسان فطرت سره سم وضع شوي دي د پیدایښت او قانون ګزارۍ اصل د تناسب او هماهنګۍ له مخې الله جل جلاله د خپلو بې شمیره نعمتونو تر څنګ انسان ته لباس هم ارزاني فرمایلې ده او له حجاب سره د ښځو د قلبي رابطې د استحکام لپاره يې د حجاب قوانین وضع کړل څو دا قیمتی ملغلره (ښځه) د حجاب په صدف کې محفوظه شي او ټولنه د فساد او تباهۍ په کنده کې له لویدو وژغورل شي لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمایلي دي **«يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَىَ ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ».** (۱: اعراف/ ۲۶) .

ژباړه : ای د آدم اولاده په رښتیا چې مونږ ستاسو لپاره لباس رالیږلی څو ستاسو عورتونه پرې پټ شي او زینت(ښایست) دی ستاسی لپاره خو بهترینه جامه د تقوا جامه ده دا د الله جل جلاله د قدرت له نښو نښانو څخه دي څو چی پند واخلي.

که د ټولنو فرهنګ ته نظر واچوو تقریباً په ډېرو ټولنو کې حجاب د یو ارزښت لرونکي اصل په توګه مطرح دی. ډیر لږ اقوام او ملتونه وو چې ښځو يې نا مناسب حجاب

درلود ځکه چې له پردیو څخه د حفاظت په موخه د ښځو لپاره حجاب تر ټولو غوره وسیله وه.

بې حجابه ښځه د هغې ونې د میوې په څېر ده چې ښاخونه یې د باغ له دیواله دباندې ځوړند وي چې امکان لري هر لاروی هغه ته طمعه وکړي. یا هم د گل په څېر ده چې هرسړی یې ښکلولو او ټولولو ته تمایل لري.

په دې اساس په حجاب نه یوازې په اسلام، بلکه په نورو ادیانو په خاصه توگه په یهودیت او مسحیت کې زیات تأکید شوی دی.

اما له مخکنیو ادیانو سره د اسلامي حجاب اساسي تفاوت په دې کې دی چې اسلام د ښځو حجاب د انسانی فطرت په نظرکې نیولو سره سم له افراط اوتفریط نه لري له مناسب نظم او تعدیل سره واجب کړی دی .

بنآ په دې لیکنه کې د حجاب تاریخچه ،اهمیت، او د حجاب اړوند احکام د شرعي نصوصو په رڼا کې روښانه شوي دي ،ډیره اتکا په مذهبي نصوصوشوې ده اود هغودیني پوهانوعلمي توضیحات چې له نورونه په دیني مسائلوښه پوه لري راوړل شوي دي ترډیره کچه له مذهبي کتابونوڅخه گټه اخستل شوې ده .

د دې څیړنې اصلي هدف د حجاب د مسئلې د توجیه په اړه د شرعي مستنداتو وړاندې کول دي، څو وښودل شي دحجاب موضوع یوازې فرهنگي موضوع نه ده بلکی الهی ادیانوهم د انساني فطرت سره سم د حجاب اوعفاف لوري ته میلان د غوره اصل په توگه مطرح کړی

## د موضوع اهميت

دا موضوع په اوس وخت کې له دې وجهې د اهميت وړده ، چې ټول اسلامي هيوادونه په خاصه توګه زمونږګران ټاټوبی افغانستان ترشديدو فرهنګي يرغلونولاندې دی، اوپه تيرو شلو کلونو کې نړيوال استکبارپه پراخه امکاناتوسره ،د لسګونو اوحتی سلګونو صوتي اوتصويري وسايلوڅخه لکه ټلويزيون، راډيو او همدارنګه بې شماره ماهواريي کانالونو اوپراخه خبري او رسنيزې شبکو نه په استفادې ، او دملياردونوډالروپه مصرفولوسره په پوره قوت کوښښ کړی څو زمونږ اعتقادي ، اخلاقي ، معنوي اوديني ارزښتونه له سوال لاندې راولي. اومسلمان ځوانان له اسلامي ارزښتونو اوتعاليموڅخه لرې وساتي اوهغوی د بيهودګۍ اوبې حيايئ خواته وبولي، څو بې قيده اوبې شرطه ازادي رايجه کړي. بنأ داسې حساسو اوسختوشرايطو د ځوان نسل په اذهانو تاثيرات لرلي دي نو ځکه د داسې يو اثر ليکل راته ضروري ښکاره شو څو له يوطرفه موخپل مسؤليت اداکړی وي اوله بله پلوه مو مسلمانانوته د حجاب اهميت اومقام د قران اونبوي احاديثو په رڼا کې ښوولی وي.

### د تحقيق موخې

له دې تحقيق څخه مو موخه د حجاب د مسئلې اړوند شرعي دلايلو وړاندې کول دي څومعلومه شي چې په اسلام کې نه يوازې د ظاهري حجاب په رعايت کولو تاکيد شوی بلکه باطني حجاب د داخلي پاکوالي په توګه د نفس د تأديب لپاره د هرنارينه اوښځينه لپاره توصيه کوي.

په مشخصه توګه دا لاندی اهداف ددې موضوع له تحقيق نه مطلوب دی:

۱ـ دحجاب د مانا اومفهوم څيړنه

۲ـ په اسلام ( قرآن اونبوي سنتو) کې د حجاب څيړنه

۳ـ د حجاب د فوائدوڅيړنه اود بې حجابی پايلې

د تحقيق فرضې اوپوښتنې

۱- دا چې په صدر اسلام کې د حجاب مراعت کول څنګه د مسلمانانود وقارلامل شوی و؟ او اوس ستونزه څه ده چې مسلمانان په خاصه توګه ځوان نسل حجاب په رعايت کې ستونزه لري؟

۲ـ دا اوسنۍ رواجي حجاب ترکومه حده د اسلام د تأييد وړدی ؟

۳ـ د کورنيو له خوا د مسئوليت نه احساسول به وضيعيت ترکومه حده ورسوي؟

**د تحقیق مخینه**

د ستراوحجاب تاریخچه د حضرت آدم اوحوا د ژوندانه دوران پورې رسیږي کله چې د لغزش اوممنوعه ونې څخه له خوړلو وروسته له جنته بیرون شول. په دې اړه الله جل جلاله فرمایي:[ **فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادَاهُمَا رَبُّهُمَا أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُلْ لَكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُبِينٌ (22)**] (اعراف ۲۲)

ژباړه: هرکله چې هغوی دواړو له هغی ممنوعه ونی څخه وخوړل نوشرمګاوې یی ورته ښکاره شوې اوپه خپلو ځانونو یی د جنت د پاڼونښلول شروع کړل، اوپه هغودواړو باندی یی پروردګارغږوکړمګرتاسو مې ددې ونې له خوړولو نه وی منع کړي اوتاسوته مې نه وه ویلي چې شیطان ستاسوښکاره دښمن دی. پورتني آیت ته په کتو حجاب په ټوله انساني ټولنه په ځانګړي ډول بیا په اسلامي ټولنو کې داهمیت وړ و او دی اهمیت ته په کتواسلامي پوهانو هم وخت په وخت حجاب اړوند څیړنې کړي دي لکه۱- حجاب د مولانامودودی۲- مسأله حجاب د مرتضی مطهري۳-اهمیت حجاب داکترعلی فتحی اوحجاب دراسلام ړابوالقاسم اشتهاری اوځینې نورې کوچني او لویې رسالې چې ټولو لیکوالانو دحجاب مووضوع توجبه کړې ده.

**د تحقیق تګلاره**

د موضوعاتوپه تحقیق اوڅیړنه کې له لاندې طریقواوشیووڅخه کاراخستل شوی دی.

۱ـ له مخکې د تعین شویومفرداتومطابق له کوچنیو اولویوعنوانونولاندې موضوعات ترتحقیق اوڅیړنې لاندې نیول شوي دي .

۲ـ علمي مواد موپه علمي اوتحقیقي مراکزو کی د منل شویو اسلوبومطابق جمع بندي کړي اوپه دې برخه کې موله ډیردقت څخه کاراخستی دی.

۳ـ هڅه شوې ده ترڅود هرې موضوع مطابق آیات اواحادیث راټول اوپه مناسب ځای کې وضع شي اود دې اړوند د مفسیرینواومحدیثینونظریات هم راوړل شوي دي.همدارنګه د معاصرویهودي اوعیسوي علمأوله نظریاتوهم استفاده شوې ده.

۴ـ د قرآن الکریم آیتونه په مشکل ډول«له حرکاتوسره»کاپی شوي دي څوهرکس وکولی شي په سمه اوآسانه توګه هغه ولولي.دآیتونو د سورت د نوم له ذکرسره دایات شمیره لیکل شوې ده.

۵ـ داحاديثوپه تخريج کې کوښښ شوی ترڅواحاديث له معتبرو او صحيحو کتابو نوڅخه تخريج شي اونسبت يې اصلي مرجع ته ورکړل شي د بخاري اومسلم پرته دامکان په صورت کې د نوروااحاديثوتخريج هم شوی دی.

۶ـ له کتابونواومراجعونه د مطالبوپه نقل کې له پوره امانت داری څخه کار اخستل شوی دی او د کتابونو د مراجعو بيان په معياري توګه شوی دی.

۷ـ مغلقي اوتخصصي کلمې اواصطلاحات د امکان ترحده د لغت د معتبرو کتابونوپه واسطه شرح اوبيان شوي دي.

۸ـ دهرمطلب په اخرکې مأخذ د کود نمبرله شميرې سره سم ذکرشوی دی، چې اول مأخذ د کود شميره ورپسې د جلد شميره اوپه تعقيب يې د پاڼې شميره ذکرشوې ده.

۹ـ په اخرکې د منابعوفهرست په معياري ډول راوړل شوی دی دهرې منبع د فهرست نمبردهغې مرجع د کود شميره ګڼل کيږي.

# تمهیدی مبحث

## لومړی مطلب د حجاب لغوی اواصطلاحی مانا

## دوهم مطلب دسترلغوی اواصطلاحی مانا

## دریم مطلب دستراوحجاب ترمنځ فرق

## څلورم مطلب دحجاب ګټی اوارزښت

## تمهيدي مبحث د حجاب اوستر پيژندنه

دا چې دبحث موضوع موحجاب اوستر ده نوله هرڅه د مخه بايد لومړی د ستراو حجاب لغوي او استطلاحي مفهوم تشرح کړو، او په عامه توګه د حجاب مفهوم سره اشنايي حاصله شي.

## لومړی مطلب د حجاب لغوي او اسطلاحي مانا

د حجاب تعريف: اصلي موضوع ته له داخليدومخکې ضرور دی چې د حجاب لغت تعريف شي.

د حجاب لغوي مفهوم: حجاب يوه عربي کلمه ده چې دعربي ژبې پوهانودهغی لپاره دوه اصلي مانا ګانی ذکرکړي دي.

۱ـ د دوشيانو ترمنځ حايل او پرده : په مصباح کې راغلي دي حجب د منع په مانا سره استعماليږي؛ له دې امله حجاب ته حجاب ويل کيږی چی له ښکاريدونه مانع کيږي.

ساتونکي اونګهبان ته حاجب ويل کيږي ځکه يوخاص محيط اوحرم ته داغيارو اوبيګانه ګانود ورود مانع کيږي. نود ښځې ستراو حجاب هم د بيګانه وپر وړاندې د يوحاجب او مانع په توګه د نورونamوس اوحريم کې د تصرف مخنيوی کوي.

د حجاب اوستراصلي معنی اومفهوم هغه جسم ده چې د دوو جسدونو ترمنځ حائل وګرځي او کله کله په معنوي امورو هم اطلاقيږي؛ همداعلت ده چې ويل شوي دي «عجز» د انسان او د هغه د مراد ترمنځ حجاب ده،« معصيت »د بنده او پروردګار ترمنځ حجاب ده.(۴۲: ۴۷).

۲ـ حجاب د ستراو پټوالي په معنی: په لسان عرب کې حجاب د ستر په معنی بلل شوې ده: « حجاب د ستراو پټوالي په معنی ده؛ «حجبهُ» يعنې هغه يې وپوښه محجوبه ښځه هغې ښځې ته ويل کيږي چې هغه پوښل شوی وي (۷: ۲۹۸).

**د حجاب اصطلاحي مانا اومفهوم**

قرآن کريم دالاحزاب اونورپه سورتونوکي د نارينه اوښځوترمنځ اړيکې اود حجاب حدود ذکرکړي دي؛ بغيرله دې چې د«حجاب»کلمه يې په کارولې وي. په کوم آيت کې چې دحجاب کلمه کارول شوې ده د پيغمبرصلی الله عليه سلم د ښځواړوند کيږي. اما د ښځې د حجاب په توګه د حجاب د کلمې کارول نسبتاً نوې اصطلاح ده، په تيرو وختونو کې نه کارول کيده په خاصه توګه بياد فقهاو په اصطلاح د «ستر» کلمه چې د حجاب په معنی ده د ښځې د حجاب لپاره کارول شوې ده.

فقهاوچې په کتاب النکاح او کتاب الصلواة کې له دې مطلب نه یادونه کړې ده د ستر کلمه یې کارولې ده نه د حجاب (۳۳: ۶۴).

**نوی اصطلاحي مانا:**

حجاب له هغه پوښښ اوپردې نه عبارت دی چې ښځه باید د نامحرم په مقابل کې تری استفاده وکړي اوپه هغه سره ځان له تظاهراوخودنمايئ نه وژغوري. اویاپه بل عبارت حجاب له هغه پړوني نه عبارت دی چې په هغه سره سرغاړه اوغوږونه پوښل کيږي.(۲۴: ۳۲۴).

په دې تحقیق کې هم همدا اصطلاحي معنی مراد ده؛ بې له شکه چې په دې اندازه حجاب د ټولو ابراهیمی ادیانو ترمنځ یومشترک حکم او هم د اسلام یوله ضروري احکامو شمیرل کیږي او ټول اسلامي مذاهب په هغه سره اتفاق لري.

د اسلام سترلارښود حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اسمأته وفرمايل: «یاأسمأ ! ان المرأة اذابلغت المحیض لم یصلح ان یری منها الا هذا وهذا واشارالی وجهه وکفیه» [1](۹: ج۲ ۴۶۰).

ای اسماء! داچې نجلۍ د بلوغ حد ته ورسیږي سزاوارنه ده چې څه شی د هغی له بدنه ظاهرشي، مګردا! په دې وخت کې آنحضرت صلی الله علیه وسلم لاسونو اومخ ته اشاره وکړه.

**د حجاب مفهوم اومصداق**

حجاب په لغت کې د مانع پردې اوپټوالي په معنی ده لکه څنګه چې په تعریف کې ذکرشول، د دې کلمې ډیراستعمال د پردې په معنی ده اوله دې امله د حجاب مفهوم افاده کوي چې پرده د حجاب وسیله ده، ولې هرپټوالی حجاب نه دی؛ بلکه هغه پټوالي ته حجاب ویل کیږي چې د پردې شاته د واقع کیدو په واسطه منځ ته راغلی وي حجاب د ښځو د اسلامی پردې په معنی د دوه بعدونو ایجابي اوسلبي بعدونو درلودونکی دی.

ایجابي بعد یې د بدن د حجاب وجوب ده اوسلبي بعد یې د نامحرم پروړاندې د ځان ښکاره کولوحرمت دی؛ اودا دواړه بعدونه باید د یوبل په خواکې واوسي څواسلامي حجاب متحقق شي؛ کله کله ممکنه ده چې ړومبی بعد واوسي اودوهم بعد نه وي په دې صورت کې نه شوویلی چې اسلامي حجاب تحقق پیدا کړی دی .

که په عام ډول د ګناه پر وړاندې هرډول مانع او پردې ته حجاب و وایونو بیا کیدای شي چې حجاب مختلف ډولونه او انواع ولري .(۳۷: ۱۹).

[1]قال ابوداود هذامرسل اسناده ضعیف.نمبرحدیث:(۴۱۰۴).

**د اسلامی حجاب فلسفه**

د قرآني آیتونواونبوي احادیثوپه تصریح سره د حجاب د حکم حکمت اوفلسفه د روانی امنیت تأمین، د ټولنې د اخلاقي ارزښتونوساتنه،حیأ اوعفت ته ارزښت ورکول دي.

د تقوی اوعفت د مَلَکی پرکسب کولواوتقوی باندې د قرآن، نبوي احادیثواوفقهي متونوتأکید، د نامحرمونارینه اوښځوترمنځ د حیا اوعفت د مراعت ضرورت او د ځینو اموروحرمت ( لکه د نامحرم نارینه اوښځې یوځای کیدل په داسې محیط کې چې بل څوک نه وي ورسره، په ډیروسختوټکوسره د نارینه ود چشم چرانی منع کول، د نامحرم په وړاندې د ښځود ستروجوب اوهمدارنګه له هرډول تحریک آمیزه کړنوڅخه په ټولنه کې ځان ساتل( لکه تبرج اویاهم مهیجه خبری کول) له عفاف اوحیاسره د حجاب د ارتباط ښودنه کوي.(۲۷: ۳۳۶-۳۳۷).

کله چې قرآن الکرم د حجاب د مسئلي د لزوم یادونه کوي له دې سره سره یې د حجاب د ضرورت علت اوفلسفه هم داسې بیان فرمایلی ده:« ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ».(۱:احزاب/۵۹).

ژباړه : د دې لپاره چې ونه پیژندل شي او ازاراوذیت نه شي.

یعنی حجاب له احترام کولواوحرمت نه عبارت ده د هغې ښځې لپاره چې نامحرم نارینه هغه له حیوانی دید اوجنبې نه ونه ګوری اودا حرمت یوازی د مسلمانوښځوحق دی اوغیرمسلمانې ښځې له دې احترام نه بې برخې دي.د ښځې د عزت اوکرامت ساتنه او د کورنی د پیوند استحکام او د هغې له ازار او اذیت نه مخنیوی شاید د حجاب ترټولو مهمترین حکمت اوفلسفه وي.

د حجاب فلسفه اوله مشروع همسرنه پرته د جنسي رابطې ممنوعیت د کورنی اجتماع له نظره داده چې د یوشخص هغه قانوني میرمنه یاخاوند له رواني جهته د شخص د خوشبختۍ لامل په توګه حسابیږي.

مګرپه مطلق ازاد نظام کې د قانوني ازدواج رابطه په رواني توګه د یومزاحم، رقیب اوزندان بان په توګه ګڼل کیږي په نتیجه کې یي د کورنی نظام د د ښمنۍ اونفرت پربنسټ بناکیږي.(۲۲: ۷۰).

که د تیروملتونوله فرهنګونوته ځیرشو مونږته رامعلومیږي چې د نړی د ټولوملتونواوپرګنوښځوحجاب درلود. یوازې د حجاب په کیفیت کې یې فرق وه.

چې له دې نه بیا دحجاب په فلسفه اوحکمت باندې ښه پوهیدی شو.

**دوهم مطلب د ستر لغوي اواصطلاحي مفهوم:**

عورت (ستر) په لغت کې: د انسان د شرمګاه، خالیګا او هرهغه څه چې له هغه نه شرم او حیا وشي په معنی ده.

عورت د شریعت په اصطلاح کې: د انسان د بدن هغه برخه ده چې د هغو لیدل او نوروته یی ورښودل حرام دي.(۲۴: ۳۴۴).

د لغت په کتابونو کې د عورت لپاره څو معناګانې ذکرشوي دي چې د هغوله جملې څخه یې یو هم : « العورة كل مايستحى منه والعورة كل خلل يتخوف منه فى ثغر او حرب »(۲۱: ۷۵۹) .

په دې تعریف کې د عورت لپاره دوه معنی ګانې ذکرشوي دي اول د انسان د بدن هغه اعضا چې عیب او ناخوښ دی او حیایې د ښکاره کیدو مانع ګرځي ، دوم هر هغه ضرر رسیدونکی شی چې د نګرانی وړ وي لکه سرحدات او مرزونه ، عورت دی .

دآسیب پذیری له امله ښځې ته هم عورت ویل شوی دی حضرت عبدالله ابن عباس روایت کړی چې د الله رسول په خپل مشهورروایت کې وفرمایل: « المرأة عورة ، فإذا اخرجت أستشرفهاالشيطان »[2] (۱۶: ۳۳۹).
یعنې د ښځې ټول بدن عورت ده کله چې پرته له سترنه له کوره بهر راوځي نوشیطان یې په کنترول کې راولي .

له دې امله ښځې ته عورت ویل شوی چې لکه زیان رسیدونکې ساحه باید په حصاراو پرده کې و اوسي او یاهم د هغې بدن په فزیکي لحاظ سره داسې ده چې حیأ د دې مانع ګرځي څو د نامحرم پر وړاندې یې ښکاره کړي .

نوعورت د یوزشت او ناخوښه امرپه معنی نه ده او په هغو مواردو کې چې هیڅ قبح و نلري هم استعمالیږي لکه د یو هیواد سرحدات او یاهم بې یواله کور.

لکه څنګه چې په قرآن الکریم کې عورت په دې معنی هم استعمال شوی دی :

[وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ...](۱: احزاب/۱۳)

یوې ډلې د الله له رسول نه اجازه وغوښته څو کورونو ته مراجعه وکړې په دې بهانه چې زمونږکورونه بې ساتونکې دي.

له دې امله ویلی شوچې دا کلیمه په اسلامی ادبیاتوکې د بدن دهغې برخې په معنی ده چې پټول او حجاب یې لازم دي لکه څنګه چې علامه مودودی فرمایلي دي :« العورة فى مصطلح الاسلامى مايجب ستره من الجسم على كل رجل وامراة »(۵۲: ۳۰۲).

---

[2] قال ابوعيسى:هذاحديث حسن غريب نمبر(۱۱۷۳)الترمذى

عورت په اسلامی اصطلاح کې د نارینه اویاښځینه د بدن هغه حصه ده چې پټول یې لازمي دي.

## دریم مطلب د ستر اوحجاب ترمنځ فرق

یوشمیر خلک د بې حجابی د اثبات په غرض له هغوروایاتونه استدلال کوي چې په هغه کې وجه اوکفین له پټوالي نه استثناشوی دی اودا په اصل کې یوه تیروتنه ده ځکه هغه روایات چې په هغه کې د مخ اوکفینوپټول مستثنی شوي دي په سترعورت پورې اړوند دي اوله حجاب سره هیڅ ډول تړاو نه لري. له بله اړخه هغه روایات چې د مخ اولاسونوپه سترکولو باندې حکم کوي حجاب پورې مربوط دی اوسترعورت پورې څه اړه نه لري په هرحال سترعورت اوحجاب دوه جداګانه مسئلې دي .

سترعورت یوازې ښځوپورې اړوند نه ده اونارینه وته هم شاملیږي منتها حجاب بیایوازې ښځولپاره ده اونارینه پورې تعلق نه لري .

د ښځې ټول بدن عورت ده اوپه هرحال کې باید وپوښول شي په استثنا د وجه ،کفین اوقدمین او د نارینه وعورت له نامه لاندې بیا ترځنګنوپورې ده چې په هرحالت کې باید پټ وساتل شی او دا فرض ده .نومعلومه شوه چې د نارینه اوښځې د سترعورت په اړه یوډول حکم راغلی ده ، کوم فرق نه لري اویوازې په حدودوکې یې فرق موجود دی .حجاب بیا یوازې د ښځولپاره ده اود نارینه لپاره نشته ځکه د دې دواړومسئلوپه نوعیت کې هغه تفاوت موجود ده کوم چې د نارینه اوښځوترمنځ وجود لري .سترفی نفسه لازم ده اود کوم چا په لیدلو اویانه لیدلو پورې تړاونه لري، ځکه د مخصوصوغړیو پټول د انسان د فطرت او اخلاقو تقاضا ده په نارینه او ښځینه دا لازمه ده چې خپل عورت له محارمونه هم لکه پلار، مور، ورور، خور، ځوی، لور،...او نورونه پټ وساتي .که چیرې هلته هیڅ کوم محرم یانامحرم وجود ونه لري بیاهم له ضرورت پرته دعورته لوڅول مکروه دي .حجاب د دې په خلاف فی نفسه لازم نه ده کله چې نا محرم لیدونکي موجود واوسي په هغه صورت کې به ښځه مخ لاسونه اوقدمین پټوي اوبغیرله هغه نه د محرم پروړاندې یا د لمانځه د ادا کولو په وخت کې یې ظاهرول کوم قباحت نه لرې خلاصه د خبرې دا شوه چې سترعورت اصلي او حجاب اضافي پردې ته ویل کیږي، په اسلامي شریعت کې د شهوت د غړیو پټول فی نفسه لازم دي او لوڅول یې د شرعي یاطبعي ضرورت لپاره جایزده اوبس. او د ښکلا د غړیو پټول لکه مخ لاسونه او قدمین فی نفسیه نه دي لازم او په هغه ځای کې چې د فتنې خطرموجود وي نوپټول یې لازمي دي دا معلومه شوه چې د سترد اعضاو پټوالی اصل ده او د حجاب په غړوکی لوڅوالی اصل ده او پټول یی بناپر ضرورت دی.(۴۱: ۲۶۳)

لکه څنګه موچی مخکی ولیکل سترعورت اوحجاب دوه جدا جدا مطلبونه دی اوحکمونه یی هم بیل بیل دی اسلامی پوهانو د سترعورت اوحجاب ترمنځ فرق واضح کړی دی چی یوڅو یی دلته ذکرکوو:

۱ـ دسترعورت لباس همغه لباس ده چی له شرایطوسره به یی بیان کړو.

۲ـ حجاب له هغی ټوټی لباس نه عبارت ده چی پرهغولباسونوسربیره چی عورت پټوی اغوستل کیږی اوټول بدن پری پوښل کیږی.

« د خاوند لپاره د ټول بدن لوڅول روا دی ، سراوغاړه کوی شی چی د ورور او یا ځوی پرووړاندی ښکاره کړی، اما د نامحرم پرووړاندی باید له څلورګونوحجابونو څخه استفاده وشی: ازار، کمیس(درع) ټیکری (خمار) له ټیکری لوی حجاب چی په سینه اچول کیږی او د پرارت وی.»

امام فخرالدین رازی[3] چی دشپږم قرن نوم وتی عالم دی هم حجاب په څلورو ډولونو تقسیم کړی دی .«اعلم ان العورات علی اربعة اقسام ،عورة الرجل مع الرجل وعورة المرءة مع المرءة وعورة المراة مع الرجل وعورة الرجل مع المراة»(۴۱: ۲۶۴).

پوه شه چی عورات په څلور ډوله دی د نارینه عورت د نارینه پر وړاندی ،د ښځی عورت د ښځی پر وړاندی ،د ښځی عورت د نامحرم نارینه پر وړاندی او د نارینه عورت د نامحرمی ښځی پرووړاندی.چی د هریولپاره بیا جداګانه احکام بیان شوی دی.د مسلمانوخویندو د حجاب موضوع د هغوی د انسانی شخصیت په اساس نه ده ؛ بلکه د هغوی له جنسیت سره ارتباط لری ځکه د هغوی د خلقت ښکلا دا تقاضا کوی چی د قیمتی مرواریدو په څیرخپل مصؤنیت وساتی او د هرچا د ساتیری وسیله ونه ګرځی.

**د نارینه اوښځینه ود عورت حدود**

اولین څه چی اسلام د اجتماع د سلامتی په منظورهغه ته توجه کړی ده د برهنګی او نارینه او ښځود عوراتوتعیین باطلول دی. نو اولین درس چی اسلام یی تلقین کوی همدا ده چی فرمایی: [**يَا بَنِي آَدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآَتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَى ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آَيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ** (26)].(۱:اعراف/۲۶)

ای د آدم اولادی په رښتیاچی مونږتاسوته لباس را ولیږه هغه چی ستاسوعورتونه پټوی او(ستاسولپاره ) زینت (ښایست) دی، ولی بهترینه جامه بیا هغه د تقوا لباس دی، دا د الله جل جلاله د قدرت له نښانونه دی څو تاسی پند واخلی .

---

[3] ابوعبدالله محمد بن عمر فخر رازی متولد ۵۴۳ ومتوفی۶۰۶ مشهورترین اثریی مفاتح الغیب معروف په تفسیر کبیرفخررازی (احستل شوی له (فخرالدین رازی)نوشته دفتح الله حلیف.

د ذکرشوی آیت په واسطه د نارینه او ښځینه و د بدن ستروجوب ثابت شواود الله رسول د عورت له ښکاره کولواویا کتلونه سخته منع فرمایلی ده لکه څنګه چی فرمایی:« لاینظر الرجل إلی عریة الرجل و لا المرأة إلی عریة المرأة ». [4](۹: ۷۹۷).

یونارینه دی د بل نارینه عورت ته اونه د ی هم یوه ښځه د بلی ښځی عورت ګوری.

همدارنګه فرمایی:« إیاکم و التعري فإن معکم من لایفارقکم » [5](۱۶: ۷۴۸)

له بی پردګی نه ځان وساتی ځکه له تاسوسره فرشتګانی دی چی هیڅکله له تاسو نه نه جدا کیږی.

**الف: د نارینه د ستر(عورت )حدود**

د دی احکامو تر څنګ اسلام نور ځانګړی حدود هم د نارینه او ښځینه ولپاره تعین کړی دی ، د نارینه عورت له نامه لاندی بیاترځنګنوپوری متعین شوی دی د هیڅ چا لپاره جواز نه لری چی هغه ښکاره کړی او یاهم د بل چا هماغه قسمت ته نظر وا چوی .

د ابو ایوب انصاري په روایت کې هم د عورت اندازه له نامه نه ترځنګنو پوری ښودل شوی دی لکه څنګه چي فرمايي:« ما فوق الرکبتین من العورة وما أسفل من السرة من العورة [6]»ه ځنګنونه ترنامه لاندي پوري عورت ده. په یوبل حدیث کي چي ځینوفقهاو له هغه نه د ټول بدن په حجاب استناد کړی فرمايي: بهزبن حکیم له خپل نیکه نه روایت کوی چی له رسول الله نه می دعورت د حکم په اړه وپوښتل هغه و فرمایل «احفظ عورتك إلا من زوجتك أو ما ملکت یمینك ».[7](۱۶: ۷۴۷).

خپل عورت وساته مګرله ښځی او یاکنیزی نه دی.

په لمانځه کی د عورت پټول واجب دی دا که لیدونکی ( څه محرم اویاغیرمحرم ) شتون ولری او یاهم نه ، په دی اساس د عفا ف د حفظ او استقرار په موخه ستر د یوی ایمانی وجیبی په حیث په ټولو اجتماعی مناسباتو کی له ښځو نه علاوه په نارینه وهم فرض دی چی د ټولنی له افرادو سره په خپلو ارتباطاتوکی که هغه نارینه غیرمحرم وی او یاهم ښځینه د ستراو عفاف مراتب رعایت کړی، د نارینه اوښځینه د ستر حدود اوتفاوتونه د د لازیات تفصیل لپاره د فقهی په کتابونوکی وکتل شی.

---

[4]اخرجه مسلم.باب تحریم النظرالی العورات.۴۰۱۸.ابوداود
[5]قال ابوعیسی هذاحدیث غریب.نمبرحدیث: (۲۸۰۰).
[6]کتاب الاستحسان مبسوط سرخسی
[7]قال ابوعیسی:هذاحدیث حسن.ن (۲۷۹۴).

**ب:د ښځينه ود ستر(عورت )حدود**

د ښځينه ودعورت حدود د نارينه په پرتله زيات دی نوځکه ښځه مکلفه ده چی د نارينه په وړاندی ټول بدن په پرده کی وساتی پرته له مخ اوکفينونه حتی له پلار، ورور او نورو اقاربو څخه چی نارينه وی او له هغی جملی نه يوازی خاوند مستثنی دی لکه چی د الله رسول فرمايی:

۱ـ « لايحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الاخر ان تخرج يد يهاالا الی ههنا وقبض نصف الذراع »(۳۶: ۳۰۵).

ژباړه : هغی ښځی ته چی په الله جل جلاله او د قيامت په ورځ ايمان ولری روانه ده چی لاسونه يی له دی ځايه ډيرښکاره شی او د لاسونو بندونو ته يی اشاره وکړه.

۲ـ په هغه حديث کی چی له حضرت عايشی نه روايت دی چی اسمأ د ابوبکر صديق لور په داسی حال کی چی نازکی جامی يی په تن وی د پيغمبرصلی الله عليه سلم حضورته حاضره شوه دالله جل جلاله رسول له هغی نه مخ وګرځاوه او ورته يی وفرمايل: « ياأسمأ ! ان المرأة اذابلغت المحيض لم يصلح ان يری منها الا هذا وهذا واشارالی وجهه وکفيه »[8](۹: ۸۱۲)

ای اسمأ!کله چی ښځه د حيض مودی ته ورسيږی د هغی لپاره روانه ده چی بغيرله لاسونواومخ څخه نورغړی يی ښکاره شی .

له دی ټولو ذکرشويو روايتونو نه داسی معلوميږی چی د ښځی د بدن ټولی حصی عورت دی البته په استثنا د مخ اولاسونو، داسی عورت چی په کورنی کی يی هم له ټولونه له نږدی خپلوانوهم پټ وساتی، د ښځی لپاره دا روا نه ده چی عورت يی له ميره نه پرته نوروته ښکاره کړی نوهغه يی که پلار وی او ياهم ورور او ياکوم بل نږدی خپلوان حتی د محارمو پر وړاندی يی هم روانه ده چی له نازکو او شفافو لباسو نو نه استفاده وکړی چی جسم يی تری ښکاره شی .(۵۲: ۳۵۰).

اود ځينوفقهاوپه اند بيا د دی آيت په استناد [أَوالطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ].(۱: نور۳۱).د ښځی حجاب يوازی د نارينه پروړاندی نه دی بلکه د مميزنا بالغ نارينه پر وړاندی هم بايد دا تکليف مراعت کړی.(۲۶: ۱۹).

[8]قال ابوداود هذامرسل اسناده ضعيف.نمبرحديث:(۴۱۰۴).

**څلورم مطلب د حجاب ارزښت اوګټې**

ستراوحجاب په مختلفو اړخونو کی زیات شمیر آثار او فواید لری چی ځینی مهم یی دلته ذکرکوو:

۱-په فردی ډګرکی د حجاب ګټې

په فردی بُعد کی د حجاب له ارزښتونو او فوائدو نه یو دا دی چی په دی سره د ټولنی د افرادو ترمنځ روانی سکون پیداکیږی همدارنګه د حجاب له فوایدو څخه یوهم عدم تهیج او جنسی تحریک دی چی د بی حجابی په نتیجه کی د نارینه او ښځو جنسی التهابات او هیجانات زیاتیږی او د سکس غوښتنه د یونه اشباع کیدونکی غوښتنی په توګه منځ ته راځی . او دا یو څرګند حقیقت دی چی د بشرله غریزی یوه جنسی غریزه ده چی په طول د تاریخ کی د فتنی ، جنګونو،عصبی نا ارامیو، عملی بی نظمیو او همدارنګه د زرګونو نورو بلاو لامل شوی او کیږی. اوس هم د فرهنګی سیاست او بیګانه ود تسلط د تحمیل غوره وسیله ده .د جنسی غریزی ترویج اوتهیج خلقتاً د ښځوپه وجود کی ډیر ده اوحجاب د دی غریزی د طغیان د مخنیوی او د ټولنی د روانی ارامتیالپاره غوره اوبهتره لارده. بی له شکه هغه ښځه چی د بی حجابی په دام کی ولویږی او خپل ټول وخت په عرایش ، مد او فیشن کی تیرکړی د خپلی روحی او معنوی ارتقا لپاره وخت نه شی پیداکولی . له دی نه علاوه بی حجابی په ټولیزه توګه د ټولنی د معنوی سقوط لامل دی، په مقابل کی بیامؤمنه باحجابه ښځه سره له دی چی په خپل کمال سره د کورنی د خوشبختی لامل ده په ټولنه کی د انسان جوړونی او نیکو اخلاقو د ترویج غوره مربی ده. (۴۰: ۵).

۲- په کورنی بُعد کی د حجاب ګټې

په کورنی بُعدکی د حجاب له فوائدو نه یوهم کورنی محیط بیا په خاصه توګه د خپل خاوند لپاره د جنسی تلذذ ځانګړی کول دی چی دا ځانګړنه بیاد ښځی او خاوند د پیوند د استحکام او په نتیجه کی د کورنی د ساتلو باعث کیږی ، برعکس د حجاب نه شتون د کورنی د انهدام لامل ګرځی.

یوه عالم د کورنۍ په له منځه وړلوکی د بی ستری رول او تأثیر داسی بیانوی:

په هغه ټولنه کی چی بی پرد ګی حاکمه وی هره ښځه او نارینه همیش د مقایسی په حالت کی وی هغه داسی چی کله بی پردی نارینه او یاښځی وګوری نو ښکلا قوت او نور صفات یی بیا له خپلی میرمنی او یا خاوند سره مقایسه کوی ،چی دا مقایسه بیا د هوس اور د میړه او ښځی او خاصتاً د میړه په وجود کی شعله ور کوی .

هغه ښځه چی شل یا دیرش کاله یی د خاوند په خواکی ژوند کړی وی او د ژوند ډیر مشکلات یی شاته پری ښودی وی ، د هغه په غم او ښادی کی شریکه وی، نومعلومه ده چی په کرار کرار یی د مخ پسرلی خپله تازګی له لاسه ورکوی او خزان کیږی.

په داسی حالاتو کی چی زښت زیات د خپل خاوند مهراو مینی ته اړتیالری، نو په دی وخت کی ځوانه ښځه په کوڅه، بازار، مکتب، دفتراونوروځایونوکی د هغی خاوند سره مخ کیږی او د مقایسی فرصت ورکوی؛ چی دا بیا د کورنی د لمنځه تلو او د هغهی ښځی چی ځوانی یی هم له لاسه ورکړی د امیدونو او آرمانونو د بربادی مقدمه ده ؛ ټولی خویندی په دی پوهیږی چی هیڅ ځوانی نه ده مګر دا چی پختګی اوزوړوالی ته رسیږی او حتماً په دی هم پوهیږی چی لابد داچی نن دوی ځوانی او ښادی دی سبا د دوی په بی طرواتی کی بیاهم داسی ځوانانی شته چی و کولی شی ځود دوی د کورنی سبا لپاره هماغه خطر ایجاد کړی کوم چی هغوی نن د نورو کورنیو لپاره جوړ کړی ده .(۲۲ :۶۹-۷۰).

دی کی شک نشته هغه څه چی د کورنی پیوند د تحکیم او زوجینو د صمیمیت لامل ګرځی د کورنی لپاره مفید دی او په ایجاد کی یی باید نهایت کوشش وشی او بالعکس هرڅه چی د زوجینود رابطی د سستی اوسوړوالی لامل شی د کورنی ژوندانه لپاره ضرر رسونکی دی او باید چی له هغه سره مبارزه وشی.

**په ټولنیز بُعد کی د حجاب ګټی**

په اجتماعی بُعد کی د حجاب له فوایدو نه یوهم د ټولنی په سطح د کاری قوت تحفظ دی. بل مقابل بی حجابی او بد حجابی ټولنی نه جنسی لذت او کورنی کانون له منځه وړی چی په نتیجه کی د ټولنی د کاری ځواک د تضعیف او له منځه وړلو لامل ګرځی .بی له شکه هغه نارینه چی په بازار، دفتراو کارخونه کی تل د ښځوله ارایش کړیو مهیجو او محرکو قیافو سره مخ کیږی، د هغه د کاری تمرکز ځواک کمیږی . له کورنی نه ټولنی ته د جنسی تمتعاتو ایستل د ټولنی کاری ځواک او هڅی زیانمنی کوی .اسلام غواړی څود حجاب په رعایت کولوسره د ټولنی چاپیریال له دا ډوله خنډونو نه پاک و اوسی او جنسی تلذذ دی یوازی په کورنی او هغه هم د مشروع ازدواج په چوکاټ کی ترسره شی .که مسلمانه ښځه وغواړی چی ځان یواځی د خپل خاوند او یا د هغو مجالسو لپاره چی د ښځولپاره دی اماده کړی، نه به د غربی سرمایه دارانو لپاره مصرفونکی وی او نه به یی د استعمار په ګټه بل ماموریت چی د ځوانانو د اخلاقی انحطاط، د ارادی کمزورتیا او د ټولنی د کاری ځواک رکود او ګډوډی رامنځته کیدل دی ترسره کړی وی .(۵۰: ۸۴-۹۴).

### ۳- په اقتصادی ډګرکی د حجاب ګټی

د یوه علم له قوله یوه حجاب لرونکی ښځه ګرځنده مسجد ده چی د حجاب او نقاب ترشا د اسلامی فرهنګ او ارزښتونو د ساتلو او د استعماری قدرتونو د سؤ استفادی د مخنیوی لپاره کارکوی (۴۰: ۵).

له ستراو حجاب نه ګټه اخستل په ځانګړی توګه بیا له لوی ټیکری نه استفاده کول چی له کوره بهرد ښځو یو رنګی او د لباس سادګی ښیکارندویی کوی ، کوی شی چی له اقتصادی پلوه هم د ښځود مُد پرستی په غوښتنو کی کمښت رامنځته کړی؛ البته په دی شرط چی خپله دا لوی او دروند ټیکری د دی مُدی تقاضا ښکار نه شی .

په ډیرخفګان سره باید و وایوچی په لویوټیکریوکی هم ځینی د مُد پرستی مظاهر ترسترګو کیږی هغه داسی چی ښځی د درندو،متینواو با وقاره ټیکریو پر ځای نازک او د نازکو او جلبونکو طرحو لرونکی ټیکری چی د حجاب له فلسفی سره اصلاً څه ربط او مناسبت هم نه لری اغوندی .یوی محجبی زدکونکی په خپلوخاطراتوکی د مُدګرایی د فرهنګ د ترویج په اړه داسی لیکلی: هغه وختونه می چی حجاب نه درلود ښه می په یاد دی که دوه ورځی وروسته به هم چیرته تلم نوحاضره به نه وم چی د نن ورځی اغوستل شوی جامی بیا وا غوندم ! داسی به می فکرکاوه چی یو مسخره او نامناسب کار دی او آن دا چی د نورو لباس به می په عاریت اخیسته او اغوسته به می څو زه هم هغه محفل ته له نوی لباس سره حاضره شوی یم . په رښتیاهم دی کار له میرمنو نه ارام او راحت وړی وه .(۱۰: ۲۲۲).

دا ډیره ښکاره ده چی څه په علمی او یاهم اقتصادی میدان کی بی حجابی د انرژی د هدرتلو لامل ګرځی چی هغه باید په علمی او اقتصادی میدان کی و کارول شی .

### ۵- د حجاب ګټه د ښځی په احترام اوارزښت کی

نارینه په مطلق ډول په جسمی صورت سره په ښځو باندی تفوق لری او د فکر او مغزی قوت له جهته هم د نارینه تفوق د بحث وړ ده .

ښځه په دی دوه برخوکی د نارینه پر وړاندی مقاومت نه لری، ولی ښځی بیا په عاطفی میدان کی همیش په نارینه باندی خپل تفوق ثابت کړی دی .د ښځی او نارینه ترمنځ د حریم ساتل یوله مرموزو وسایلو څخه دی چی ښځی د نارینه پر وړاندی د خپل مقام ساتلو لپاره تری استفاده کړی ده .د اسلام مبارک دین ښځه دی ته هڅولی څو له دی وسیلی نه سمه استفاده وکړی او تاکید یی کړی چی ښځه په هر اندازه په متانت وقار او عفت حرکت وکړی او د نارینه و پر وړاندی له ځان ښود نی ځان وساتی په هماغه اندازه یی قدر اوا حترام کی زیات والی راځی. (۴۹: ۴۳۵).

د ویلدورانت[9] ویناده « ښځه هلته ژوندی ده چې معشوقه وی اوهغی ته پاملرنه له هغی نه د حمایت لامل ده »

د ښځی داعاطفی او روانی احساس د قرآن په اصطلاح تبرج او ارایش ته د ښځی د میلان سبب گرځی، او س که دا عاطفی میلان له حقیقی مجرا چی هغه له کورنی حریم څخه عبارت دی بیرون و ایستل شی نو طبعی ده چی د نارینه و جنسی او حیوانی نظر په جلبولو سره د ښځی د انوثیت او کرامت ساتنی پرځای به د نارینه ود زود گزرو هیلو او هوس اسیره شی.(۵۴: ۱۵۱).

له یادو شویو مندرجو فوایدو نه علاوه حجاب ځینی فوائد او آثارنور هم لری چی مهمترین دهغو به یی په لاندی توگه بیان کړو:

-د ناروا او ناجایزو اولادونو له راوړلومخنیوی

-د انسانی ارزښتونو ساتنه لکه عفت ،حیا ،متانت او په ټولنه کی د اخلاقی مفاسدو کمول.

-د انسانی امیال او غرایزو هدایت کنترول او درسته گټه اخستنه .

-د ټولنی د افرادو د نسل د پاکی او سلامتی تضمین.

---

[9] مشهور امریکایی لیکوال اومورخ په ۱۸۸۵میلادی کی تولد اوپه ۱۹۸۱ کی مړشوی دی مشهور ترین اثریی تاریخ تمدن په ۱۱جلدونوکی (مقدمه تاریخ تمدن)

## لومړی مبحث په قرآنکی دحجاب اړونداحکام

## لومړی مطلب حجاب دقرآن له نظره

## دوهم مطلب دحجاب د وجوب تاریخ

## دریم مطلب دحجاب اړوند ایتونوڅیړنه

## څلورم مطلب په قران کی دحجاب حکمون

## پنځم مطلب په قرآن کی دحجاب حدود

## دحجاب ایتونوپه اړه داسلامی پوهان نظریات

## لومړی مبحث قرآن کی د حجاب او ستر اړوند احکام

اسلام په خپل دقیق نظرسره د عامه عفت حریم ساتلو په موخه، د فساد او بی عزتی د مخنیوی، د شهوانی غریزی کنترول، د اقتصادی او علمی بازار د رکود د مخنیوی ، د ښځی انسانی کرامت ته درنښت، د کورنی د نړیدو، د بی نسبه نسل رامنځته کیدود مخ نیوی په موخه او په ټوله کی د ټولنی د روانی اراماتیا په موخه یی د ستر او حجاب مسئله مطرح کړه.

مخکی له دی چی حجاب د د قران له هنداری بررسی کړو لازمه ګڼو څو د حجاب اړوند هغه ځمکه چی اسلامی احکام پکی نازل شوی معرفی کړو.

**له اسلام نه مخکی دعربی ښځوحجاب**

زیات شمیرقرآنی شواهد دا په ګوته کوی چی له اسلام نه د مخه په عربی ټولنه کی ښځی به چی ټولنی ته داخلیدی نو مناسب او مطلوب ستر به یی نه درلود ښځو به هم د نارینه و په څیر حجاب او سترته زیاته پاملرنه نه کوله ټولو مفسیرنو او تاریخ لیکونکو په دی خبره سره اقرار کړی او د قران الکریم دا آیة :« وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى »(۱:احزاب\۳۳) یی په همدی معنی تفسیر کړی ده.

په تفسیر الکشاف عن حقایق التنزیل تالیف علامه جارالله زمخشری [10]کی راغلی دی چی :په هغه زمانه کی د ښځو جامه خلاصه وه هغه داسی چی غاړه، سینه او د هغی څنډی مستوری نه وی (۲۸: ۲۳۱).

ښځوبه د جاهلیت په دوران کی مطلوب حجاب نه رعایت کاوه، ټیکری به یی داسی په سرکاوه چی غاړه د سینی تخته او د غوږونو خواوی به تری ښکاره کیدی په دی آیت کی هغوی ته دستور ورکړل شوی چی خپل ټیکری داسی په سرکړی څو یادی شوی مواضع پټی شی او د جاهلی دود سره مخالفت وکړی.(۳۴: ۵۵).

همدارنګه د عربو نارینه او ښځوعادت درلود چی بربنډ طواف وکړی او دا به یی فضیلت ګاڼه په دی اړه بیهقی له ابن عباس رضی الله تعلی عنه نه نقل کړی: ښځوبه د جاهلیت په دوران کی بربنډ طواف کاوه څوچی د اعراف سورة ۳۲ایت قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ »نازل شو(۱۵: ۲۲۳).

د عربو شبه جزیری خلک کاملاً له حجاب سره نابلده نه ول او حد اقل د یهودی او عیسوی ښځو ستریی چی د مکی او مدینی په اطراف کی اوسیدل لیدلی وه.

---

[10] محمود بن عمرملقب په جارالله زمخشری کنیه یی ابو القاسم پیدایښت ۴۶۷وفات۵۸۳مشهورترین اثریی الکشاف ده (زمخشری وکشاف اثردمحمد مقدم علوی ۱۳۵۳)

تاریخ لیکلی دی:د جاهلیت دوران عربی ښځوبه له سرپړونی او ټیکری پرته یوبل ټیکری هم درلود چی له معمولی ټیکری څخه به لوی وه، دا لوی ټیکری یی له کوره د باندی اغوستلو لپاره وه (۵۰: ۱۷۴).

په داسی محیط کی د اسلام په سترپیغمبرصلی الله علیه وسلم باندی د ښځود حجاب اړوندآیتونه او دساتیر نازل شول.

**لومړی مطلب حجاب د قرآن په هنداره کی**

په عربی ټولنه کی ښځه د پیداښت له مودی نه بیا په قتل او اعدام محکومه وه، نجونی د ژوندانه له حق نه محرومی وی او د ژوند په صورت کی د میړه او پلار په میراث کی یی حق نه درلود، د میړه له مرگ وروسته ښځه د نورو اموالو ترڅنگ د هغه د ورثی حق گڼل کیده او یوچاته به د میراث په توگه رسیدله. د اسلام له ظهورسره سم ښځو په ټولنه او کورنی کی ځانگړی ځای پیداکړ.(۸:ج۶ . ۱۲۷) دی ته په کتو چی د اسلام مبارک دین د ژوندانه ټولو اړخونو لکه فردی، ټولنیز، فرهنگی او اقتصادی برخوته شامل دی او هریوته جلا کړنلاره لری ،احکام یی ورته وضع کړی دی. چی په دی فردی ټولنیزاو فرهنگی حوزه کی یوهم د ښځواو حتی نارینه د حجاب او ستراحکام او مسائل دی. د اسلام مبارک دین په مسلمانو ښځو د حجاب مراعت کول واجب کړی دی د نور سورة (۳۱) شمیره آیت، د احزاب سورة (۵۹) شمیره آیت او د قرآن الکریم په یوشمیر نورو آیتونوکی ورته اشاره شوی ده.په همدی دلیل د یوی مسلمانی ښځی لپاره د حجاب درلودل یوضروری اومهم امر گڼل کیږی.د اسلام په صدرکی د امهات المؤمنین او نورو مسلمانو ښځو د حجاب پابندی او د اولی صدی د مسلمانانو له خوا د هغی استقبال د دی ښکارندویی کوی چی په ابتدأ کی د حجاب د تشریع حکمت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د شأن او حرمت ساتنه او په یو ډول سره د هغه میرمنو ته ځانگړی قدردانی وه «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ»(۱: احزاب\۵۳).

ژباړه ای هغوکسانو چی ایمان موراوړی د نبی کورونوته مه ورننوځی مگرهغه وخت چی اجازت درکړل شی تاسو ته د طعام لپاره په دی شان چی دهغه دپخلی انتظارمه وباسی نوکله چی دعوت درکړی شونو ورځی نو بیا چی هرکله ډوډی وخوری خواره واره شی او د خبرو لپاره ناست مه باته کیږی بیشکه چی ستاسو په خبرو تکلیف رسیږی نبی ته خوهغه ستاسو لحاظ کوی او الله تعلی په صفا وینا کی لحاظ نه کوی اوهرکله چی د پیغمبر صل الله علیه وسلم له بیبیانو نه څه غواړی نو د پردی ترشایی وغواړی .

دا آیت د حجاب په اساس اوبنیاد باندی مشهور ده.اما یو شمیر مفسیرینو دا آیت د پیغمبرصلی الله علیه وسلم ښځو ته مختص کړی او په دی عقیده دی چی نورو ښځو ته شامل نه دی .همدارنګه یی ویلی دی چی په دی آیت کی د حجاب حدودنه دی معین شوی د آیت شأن نزول ته په کتودا آیت د دی ښوونه کوی چی د پیغمبرصلی الله علیه صلواة وسلم له میرمنوسره د پردی له شانه تماس ونیسی.(۱۹: ۲۴۳).

د نامحرموپه وړاندی د مسلمانو ښځوحجاب مراعت کولو مسئله د امت د ټولو فقهأو او مذاهبو د اتفاق وړ موضوع ده.اما حدود او اندازه یی د امت د فقهاو ترمنځ د بحث موضوع ده د هغوی د اختلاف عمده موضوع د حجاب له حکمه د استثاشویو مواضعو پرسرده. په دی تحقیق کی د حجاب اړوند مسائل له قرآن او نبوی سنتونه د اسلامی فقهاو او مفسیرینو نظریات او استنباطات بررسی او له څیړنی لاندی نیول شوی او په اړه یی دلایل او اصول مطرح شوی دی.

**د حجاب نزول ترتیب**

دلته هغه اصل مطلب چی د ښځوستراو له هغه سره په طبعی توګه عادت اخستل دی د نزول ترتیب اومراحلو بیان مطلوب دی:

حجاب اوسترهم لکه د اسلامی شریعت ځینی نوراحکام په تدریج سره نازل شوی دی په ابتداکی الله جل جلاله بیګانه نارینه او ښځی له مخامخ خبرو نه منع کول. او ښځه د پخوا په شان له کوره بهروتلی شوی او په دی اړه هیڅ مانع هم نه وه. له هغه وروسته آیات نازل شوکه بیګانه نارینه او ښځه په لاره کی سره مخامخ کیږی نو باید یو بل ته ونه ګوری او سترګی دی ښکته وا چوی، ښځو ته د سینګار او زیوراتو په پټولو امر شوی دی. د دی په تعقیب دستورنازل شوچی ښځی دی له کوره د وتلوپه وخت کی په لوی ټیکری سره له سر ترپښو او حتی خپل مخ پټ کړی څو د شیطان صفتو او مفسدو انسانانو له تندو او شهوت پارونکو کتلو څخه په امن کی شی، بلآخره د کورد ننه د کښیناستو دستور نازل شو چی تاسو ښځی باید په کورونو کی کښینی او له ضرورته پرته بهرلاړی نه شی.(۷۵:۵۰).

**د حجاب لفظ په قران کی**

په قرآنکریم کی په اوو آیتونوکی د حجاب لفظ په کار وړل شوی ده چی په لاندی ډول بیانیږی:

**۱- [وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ] (46)اعراف**

ژباړه: د دوزخ اوجنت ترمنځ حجاب دی اوپه اعراف کی خلک قرارلری چی هریوله اهل د موضعینونه یی په قیافو سره پیژنی او په جنتیانو باندی به اواز وکړی

چی په تاسو باندی دی سلامتیا وی دا (داعراف خلک)به لا په جنت کی نه وی داخل شوی خوطمعه به یی کوی (امیدواره به ناست وی)

۲.[وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ ايُؤْمِنُونَ الْآَخِرَةِحِجَابًا مَسْتُورًا] (45)الاسرا

ژباړه: اوهرکله چی ته قران لولی نو موږستا اودهغوخلکو په منځ کی چی په اخرت باندی ایمان نه راوړی یوه پټه پرده راواچوو.

**۳. [فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا] (17)مريم**

ژباړه: نود خلکو د مخی نه یی پرده وکړه نوموږ ورته خپله خاص پرښته ولیږله چی دهغی په وړاندی دسم دم بنیادم په شان ښکاره شوه .

**۴.[وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ]احزاب۵۳**

ژباړه : اوهرکله چی د پیغمبر صل الله علیه وسلم له بیبیانو نه څه غواړی نو د پردی ترشایی وغواړی .

**[فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ (32)ص**

نوهغه وویل چی زه د خپل مال په محبت کی د خپل رب له یادولو غافل پاتی شوم تردی چی لمر(د مغرب ) په پرده کی پټ شو.

**وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ (5)]فصلت** ژباړه: او(کافرانو) وویل چی زموږ زړونه په پردو کی دی دهغی څه نه چی تاسو موږ دهغی خواته رابولی او زموږ په غوږونوکی دروندوالی(کونوالی ) دی او زموږ او ستاسو ترمنځ پرده څوړنده ده نوته خپل کارکوه او موږلګیایو خپل کارونه کووو.

**[وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ ](51) شورى**

ژباړه: اودهیڅ بشرلپاره داممکنه نه ده چی الله جل جلاله دی ورسره خبری وکړی خو یادا چی الهام ورته وکړی اویادپردی شاته اویا پرښته راولیږی نوهغه ورته د الله په حکم داسی وحی راوړی لکه څنګه چی خوښه وی د الله جل جلاله بیشکه چی الله جل جلاله ډیر اوچت دی اود حکمتونو خاوند دی.

په دی ټولوآیتونوکی حجاب د پردی ،مانع اوستر په معنی راغلی ده، خاصتاَ بیا څلورمه شمیره آیت چی د حجاب د آیت په نوم نومول شوی ده.

**دوهم مطلب د حجاب د وجوب تاریخ**

له پورتنیو بیاناتو څخه دا په ډاګه کیږی چی د حجاب د نزول تاریخ د حضرت زینب د ولیمی له تاریخ سره سمون خوری، اوس لازمه ده څو په دی پوه شوچی حضرت مصطفی صلی الله علیه وسلم څه وخت له حضرت زینب سره نکاح وکړه.
په دی اړه ځینی د مدینی منوری علمأ په دی اند دی چی پیغمبرعلیه سلم بی بی زینب د هجرت په پنځم کال په خپله نکاح کی واخسته او ځینو خو لا دا هم وراضافه کړی چی دا نکاح د ذوالقعدی په میاشت کی وه، د بیهقی قول دا دی چی د بنی قریظه له غزوی نه وروسته یی ورسره واده وکړاماداسی یوقول هک شته چی دا نکاح ( د حضرت زینب) د هجرت په دریم کال ترسره شوه لیکن لومړی قول دا چی د هجرت په پنځم کال یی نکاح وشوه مشهورده او همدا قول ابن جریر او اکثره تاریخ پوهانوغوره کړی ده .( ۲۸: ج۳ص۱۴۷)

نوپه ډاګه شوه چی آن حضرت صلی الله علیه وسلم له زینب بنت جحش سره د بنوقریظه له غزوی نه وروسته د هجرت په پنځم کال واده کړی. اګرچی مؤریخین د دی غزوی په وقوع کی سره په یوه خوله نه دی مګرهغه څه چی د روایاتو له مقایسی نه ترلاسه کیږی هغه دا دی چی د بنوقریظه او احزاب غزا ګانی د شوال میاشت او دهجرت په پنځم کال پیښی شوی دی. د خندق په غزاکی حضرت عایشه د بنوحارثه په قلعه کی چی د مدینی له محکموکلا ګانو نه شمیرل کیده اوسیده او دا د حجاب له نزول نه مخکی وه .(۳۶:ج۲ص۲۴۰).

له دی غزوی نه له راګرځیدو وروسته یی سمدلاسه د بنوقریظه په لور حرکت وکړ او سعد ابن معاذ هم په همدی غزوه کی وفات شو. له هغه نه وروسته د ذیلقعدی په میاشت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضرت زینب سره واده وکړ.

دهجرت په ۶کال د شعبان په میاشت کی د بنومصطلق غزوه پیښه شوه اوداغزوه د حجاب له نزول نه وروسته وه لکه چی حضرت عائشه فرمایی «فخرجت مع رسول الله صلی الله علیه و سلم بعدما نزل الحجاب فکنت أحمل في هودج »(۱۳ :۵۹۴).

په دی غزوه کی حضرت جویره د اسیرانو په ډله کی اسیره شوه چی له ازادیدو نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله نکاح کی واخسته او دا د آنحضرت اتمه نکاح وه .(۵۲ : ۲۷)

د افک واقعی په وخت کی حضرت زینب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نکاح کی وه، هغه وخت چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغی څخه د حضرت عایشی په اړه وپوښتل، په ځواب کی یی وویل: ای دالله رسوله الله جل جلاله د زما غوږونه اوسترګی وساتی په الله جل جلاله قسم چی بغیرله خیراو ښه والی نه په بل څه نه یم پوهیدلی.(۱۳ :۵۴۹)

ابن شهاب فرمایی : « انس بن مالک رضی الله تعلی عنه خبرراکړچی مدینی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تشریف راوړلو په وخت کی د لسو کالو وم پوره لس کاله چی حضرت پیغمبرصلی الله علیه وسلم ژوندی وه دهغه په خدمت کی وم د نورو خلکو په نسبت زه د حجاب په اړه ډیرپوهیږم ابی ابن کعب د هغه په اړه زه وپوښتلم،د حجاب د نزول لومړنی وخت هغه وه کله چی رسول الله صلی الله علیه سلم له حضرت زینب بنت جحش سره واده وکړ د انحضرت صلی الله علیه وسلم د واده لومړنی سهار وه خلک یی د سبا ناری خوړلو لپاره را دعوت کړل هغوی د ډوډی خوړلو نه وروسته بهر شول او یوازی یو څو نفره له پیغمبرصلی الله علیه وسلم سره په حجره کی کښیناستل آن دا چی دا ناسته ډیره وځنډیده، حضرت انس رضی الله عنه فرمایی د الله جل جلاله خوږ پیغمبر ولاړ شو او له حجری نه د باندی ووت زه هم له هغه سره بهر ووتم څو هغوی هم و وځی پیغمبرصلی الله علیه سلم د حضرت عایشی د حجری تر دروازی پوری لاړ وروسته په دی گمان چی هغوی به وتللی وی بیرته را وگرځید او زه هم له رسول الله سره وم څوچی د حضرت زینب خوا ته ورغی خوویی لیدل چی هغوی لا تراوسه نه دی تللی او ناست دی دوهم ځلی لاړه اوزه هم ورسره وم څوچی د حضرت عایشی تردروازی پوری ورسید او په دی گمان چی گنی هغوی به تللی وی بیرته را وگرځید زه هم راوگرځیدم دا ځلی بیاهغوی تللی وه دلته وه چی حجاب نازل شو او پیغمبرصلی الله علیه وسلم زما او خپل ځان ترمنځ پرده واچوله »(۱۳ :۱۹۲).

له دی حدیث نه د ځینی نورو مسائلو ترڅنگ دا هم په ډاگه کیږی چی د حجاب حکم د حضرت زینب د ولیمی په وخت کی نازل شوی.

**دریم مطلب د حجاب اړوند ایاتونوڅیرنه**

مخکی موتصریح کړه چی د حجاب کلمه اوه (۷) ځلی په قران کریم کی (اغلبا د مانع او پردی) په معنی په کاروړل شوی ده .

اما د حجاب مسئله د قرآن له سورتونوځینی په دوه سورتونوکی مطرح شوی ده اولأدا مسئله د احزاب په سورة کی په اجمالی ډول یاده شوی بیا په پوره تفصیل سره د نورپه سورة کی بیان شوی ده. چی مونږریی دلته په ترتیب سره ذکرکوو.

۱ـ داحزاب سورة (۵۳)ایة

د احزاب سورة مسلمان نارینه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ښځو سره له مخامخ کیدو منع کړی دی، د دی آیت نزول له بیگانه نارینه وسره د ښځو د موا جهت په صورت کی د سترکولو لومړی مرحله وه، چی مفهوم او حدود یی په تدریجی ډول سره د آیتونو د نزول په دوران کی وسعت پیدا کړ[ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ

فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا (53)](**۱:احزاب/۵۳**) ژباړه ای هغوکسانو

چی ایمان موراوړی دنبی کورونوته ورننوځی مگرهغه وخت چی اجازت درکړل شی تاسو ته دطعام لپاره په دی شان چی دهغه دپخلی انتظارمه وباسی نوکله چی دعوت درکړی شونو ورځی نوبیا چی هرکله ډوډی وخوری خواره واره شی او دخبرولپاره ناست مه باته کیږی بیشکه چی ستاسو په خبرو تکلیف رسیږی نبی ته خوهغه ستاسو لحاظ کوی او الله تعلی په صفا وینا کی لحاظ نه کوی اوهرکله چی دپیغمبر صل الله علیه وسلم له بی بیانو څه غواړی نو د پردی ترشایی وغواړی، داغوره طریقه د پاکی ده ستاسی دزړونواوهم دهغوی دزړونولپاره اتاسوته داجایزه نه ده چی دالله جل جلاله رسول ته تکلیف ورکړی اویاداچی له هغه نه پس دهغه له بی بیانو سره نکاح وکړی، داخبره دالله په نزد ډیره غټه گناه ده . په پورتنی ذکرشوی آیت کی نارینه وته دا امرشوی چی د ضرورت په وخت کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ښځوسره د پردی له شا(من وراءحجاب) خبری وکړی اود پیغمبرصلی الله علیه وسلم ښځی دی دنامحرمود سترگو پروړاندی نه وی ولاړی اودا کارد دواړوجانبو د زړونود پاکوالی لپاره غوره ښودل شوی ده.د آیت حکم چی دحجاب دلفظ دذکر کیدوپه خاطرد «حجاب آیت » په نوم پیژندل کیږی یوازی دپیغمبر صلی الله علیه وسلم ښځوپوری ځانگړی وه اونورو مسلمانوښځوته شامل نه وه. خوابن کثیرد دی حکم تعمیم د نورو ښځولپاره هم قیاس کړی ده.(۲:احزاب/۵۳)

۲- د نور سورة(۳۰-۳۱)آیتونه

د ځینو نکاتو ذکر چی د احزاب په سورة کی په اجمالی توگه د پیغمبر علیه سلام د میرمنو او ځینو مسلمانو ښځو اړوند راغلی دی وروسته بیا د نورپه سورة کی په تفصیلی توگه بیان شوی دی.

اول د نارینه په اړه فرمایی:[ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (30)](۱:نور ۳۱).

ای پیغمبره مؤمنو نارینه وته ووایه څو خپلی سترگی له ناروا کتلو نه ټیټی کړی او خپل عفت وساتی چی دا بیا ستاسی د پاکی لپاره ِغوره ده. البته الله جل جلاله په هرڅه باندی چی تاسی یی کوی ښه آگا او باخبردی.

وروسته بیا د ښځو په هکله فرمایی: [وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ

إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (31)] (١:نور/٣١)

اومومنانوښځوته ووایه چې خپلې سترګې د ی ښکته واچوی اودخپلوسترونوحفاظت دی کوی اونه دی ښکاره کوی خپل سینګارمګر هغه چې (په طبعی ډول )ښکاره دیاوهغوی دی خپل ټیکری په خپلوسینوباندی راواچویاونه دی ښکاروی خپل ښایست مګر خاوندانوخپلوته یاپلورونوته یاخسرخپل ته یاخپلوځامنو ته یادخاوندانو ځامنوته یاخپلو ورونوته یاخپلو وریرونوته اویاخپلوخوریونوته اویامسلمانوښځوته اویاخپلومینځوته ،یاپه نارینه وکی هغه غلامانوته چی نفسانی خواهشات نلری یاهغه ماشومانو ته چی لاد ښځو د پردی له خبرونه واقفه نه وی اد (تلوپه وخت کی) دی ښځې خپلې پښی په زوره به رمکه نه وهی څوپه هغه سره دهغی هغه پټ زینت ښکاره شی اوټول توبه وباسی الله ته ای مومنانو دد ی دپاره چی کامیابان شی .

٣. داحزاب سورة (٣٢-٣٣)آیتونه

اولاً د احزاب په سورت کی د پیغبرصلی الله علیه وسلم ښځوته په خطاب فرمایی: [يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا (32)](١:احزاب٣٢)

ای د پیغمبر ښځو تاسو هیڅکله هم لکه د نورو ښځو په شان نه یاست که تقوا لری نو په ناز خبری مه کوی څو د هغو په زړونو کی چی د نفاق مرض ده، طمع ونه کړی او سیده خبری کوی. [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (33)](١: احزاب٣٣)

په کورونوکی کښینی اود قدیمی جاهلیت دوران په څیرخپل سینګار او ښکلا مه ظاهره وی او لمونځونه ادا کړی او زکات ورکړی، الله او د هغه د رسول فرمان ومنی الله جل جلاله یوازی غواړی چی له تاسو (د نبووت) له کورنی نه پلیتی لری کړی او تاسو پاک او پاکیزه کړی.

یوه ډله مفسیرینو دا آیت یوازی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کورنی پوری خاص کړی او نوری ښځی یی له دی نه مستثنی کړی دی.

او لیکلی یی دی په دی آیت کی د حجاب حدود نه دی ځانګړی شوی بلکی د آیت شان نزول ته په کتو له آیت نه دا ثابتیږی چی د پیغمبرصلی الله علیه وسلم ښځو سره باید د پردی له شاخبری وشی.(١٩: ٢٤٣).

۴ـ داحزاب سورة (۵۹)آیت

د احزاب سورة د (۵۹) آیت په نزول سره د پیغمبرصلی الله علیه وسلم ښځو او لوڼو ته او همدا رنګه نورو مؤمنو ښځوته د هغوی د پیژندنی لپاره او همدا چی د نورو له ازار او اذیت نه محفوظی وی لارښوونه شوی ده څو خپل ځانونه په جلباب سره پټ کړی [ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا (59)](۱:احزاب۵۹)

ای د الله رسوله خپلو ښځو او لورګانو او همدا رنګه د مؤمنانو ښځو ته ووایه چی له خپل ځانه دی لوی ټیکری راتاو کړی دا د دی لپاره ده چی وپیژندل شی او ازار او ازیت نه شی نو دا کار(احتیاط) ته نږدی ده او الله جل جلاله ښنونکی او مهربان دی.

بیا د زړوښځود حجاب په اړه د نورپه سورة کی فرمایی:

۵. [وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (60)](۱: نور/۶۰).

ترجمه:اوهغه زړی ښځی چی د ازدواج امید نه لری که حجاب لری کړی نو څه ګناه نشته وربادی (په دی شرط ) چی خپل سینګار ښکاره نه کړی، او د عفت او پاک لمنی اختیارول د هغوی لپاره بهتره ده او الله جل جلاله ښه اوریدونکی دی.

**یوه شبهه او د هغی ځواب:** یوشمیر لیکوالان په دی اند دی چی اسلامی حجاب د ایرانیانو، اعرابو او رومیانو ترمنځ د فرهنګی تعامل نتیجه ده او اسلام د نامحرم پر وړاندی د ښځی د راښکاره کیدو لپاره کوم خاص قانون نه لری او هغه څه چی نن سبا د شرعی د ستور په بڼه عام شوی کوم شرعی استناد نه لری.

د داسی خلکو په جواب کی ضروری ده چی د هغو سورتو نو د نازلیدو تاریخ چی د حجاب حکم پکی نازل شوی بیان او ولیدل شی.

۱ـ د احزاب اونورسورتونود نازلیدوتاریخ

د علوم القرآن علما په اتفاق سره د نور اواحزاب سورتونه د قرآن الکریم له مدنی سورتونو څخه شمیرلی دی.

یوشمیرعلما په دی اند دی چی د احزاب سورة د هجرت د پنځم کال حوادث او وقایع بیانوی څلورم او یاهم پنځم سورت دی چی په مدینه منوره کی پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی او د نور سورت هم وروسته د نصرله سورته چی د حدیبی له صلح نه وروسته د هجرت په شپږم کال وه د مکی له فتح نه مخکی

(د روژی میاشت دهجرت اتم کال) په مدینه منوره کی پررسول الله نازل شوی ده.(۳۲: ۴۱).

د اسلامی تاریخ څیرونکی او لیکوالان په دی اتفاق لری چی د نور سورت نږدی د اتم هجری کال په اوا یلو کی پر آنحضرت باندی نازل شوی ځکه چی دا سورت د نصر له سورت نه وروسته نازل شوی او مؤریخینو په دی هم اقرارکړی چی د دی سورت له نزول نه وروسته پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوه کاله ژوندی وه. او د احزاب له سورت نه چی نزول یی د هجرت د پنځم کال په اوا یلوکی شروع شوی و ورسته نازل شوی دی. د ابن عباس په روایت د نور او احزاب سورتونو په منځ کی څو نور سورتونه هم نازل شوی دی .(۳۲: ۴۲).

۲ـ د ایران روم اواسلام ترمنځ د ارتباط قائمیدوتاریخ: د رومیانو او ایرانیانو روابط له اسلام سره له هغی زمانی نه شروع کیږی کله چی پیغمبرصلی الله علی وسلم تصمیم ونیوه څو خپلی بلنی ته پراختیا ورکړی او ایران، روم او نورملتونه د اسلام لوری ته راوبلی .د تاریخی شواهدو پر اساس پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هجرت په شپږم کال د روم او یونان حاکمانو ته د لیکونو استول او اسلام ته د هغوی بلنه پیل کړه، البته په دی مرحله کی له هغوی سره ارتباط فائم نه شو او ایرانیانو سره خو آن د اسلام د دوهم خلیفه (حضرت عمر) ترزمانی پوری د اسلامی حکومت اړیکی په همدی حد کی وی او مسلمانانو د اسلام د دوهم خلیفه (حضرت عمرفاروق) په زمانه کی ایران فتح کړ او د هغوی ترمنځ ډیر نږدی روابط جوړ شول او د متأثره کیدو او فرهنګی تعامل زمینه برابره شوه.له رومیانوسره د مسلمانانوارتباط هم همدی دوران ته ورګرځی.که په سطحی توګه هم د حجاب آیتونو نزول او په اسلام کی د حجاب تشریع تاریخ اود عربو مسلمانانو او نورو ملتونو د ارتباط زمانی ته نظر واچوو نو دا به په ډیره آسانی سره جوته شی چی له نورو ملتونو نه د اسلامی حجاب سرایت او تاثیرګزاری ناسمه ده.

ولوکه د حجاب دستور په غیرعربی ټولنوکی دود وه؛ اما د عربی ښځوحجاب له نورو قومونو نه نشأت نه دی کړی. په روښانه توګه د حجاب حکم د هجرت په اتم کال نازل شوی دی او دا هغه وخت وه چی اسلام لا له عربی جزیری نه بېنه د باندی نه وه ایښی او د هغه په تعقیب سره عربو مسلمانو ښځو له دی الهی دستور نه پیروی وکړه او هغه یی عملی کړ.(۲۸: ۹۴۳).

**د نزول سبب**

د نور سورت (۳۰-۳۱) آیتونو شأن نزول د حجاب له نزول نه مخکی د ستر کیفیت ته اشاره کوی.

۱- د دی آیتونو په شان نزول کی راغلی دی (کان النسأیتقنعن خلف آذانهن) یعنی ښځو به د خپل ټیکری پیڅکه د خپلو غوږونوپه شا اچوله. بناَغاړه او د غوږو خواوی به یی ښکاره کیدی .

د اکثرو مفسیرینو په قول به عربو ښځو داسی کمیسونه اغوستل چی گریوانونه به یی خلاص ول او خپل ټیکری به یی داسی اچول چی غاړه او سینی به یی نه پټولی او قسماً به یی غوږونه او د سینو سرونه معلومیدل.(۵۲:۱۲۳)

امام سیوطی د ابن مردویه په روایت له حضرت علی رضی الله عنه نه په نقل لیکلی: د انصارو له ډلی یو ځوان د مدینی په ښار کی له یوی ښځی سره مخامخ شو، په هغه وخت کی ښځو د خپل سرحجاب د غوږونو ترشا اچاوه «چی په پایله کی به یی د غوږونو څنډی او غاړه به یی ښکارید له » کله چی ښځه د هغه په خوا کی تیره شوه هغه ځوان مخ شاته را وا ړا وه او هغی پسی یی کتل آن دا چی کوڅی ته ننوت او په هغی پسی یی کتل، په همدی ډول یی خپل حرکت ته دوام ورکړ چی ناڅاپه یی مخ له دیواله په را وتلی شیشه او یاهم ادوکی باندی ولگید او مات شو. کله یی چی هغه ښځه له سترگو نه پناه شوه ویی لیدل څو بدن او لباس یی په وینو سور شوی وه « په خود راغی » او ویی ویل په الله قسم چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ورځم او هغه له دی خبری نه خبروم. نو د رسول الله خدمت ته حاضرشو. پیغمبر صلی الله علیه وسلم چی هغه ولید او د حال پوښتنه یی تری وکړه ،هغه هم جریان د الله د رسول په مخ کی بیان کړ. له هغه پس جبرائیل راغی او د نور سورت (۳۰) ایت نازل شو.(۳۲: ۴۱-۴۳).

[ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (30)](۱:نور ۳۱).

ای پیغمبره مؤمنونارینه وته ووایه څوخپلی سترگی له ناروا کتلونه پټی کړی او خپل عفت وساتی چی دا بیا ستاسی د پاکی لپاره غوره ده. البته الله جل جلاله په هرڅه باندی چی تاسی یی کوی ښه آگا او باخبره دی.

له دی شأن نزول نه دا جوتیږی چی دا آیت ( د نورسورت ۳۰) لومړنی آیت ده چی د حجاب د تشریع او نظر د حدودواوکنتروړ په اړه نازل شوی ده.

دا آیت نازل شو او لاربښوونه یی وکړه چی ښځی باید خپل ټیکری دا سی په سر کړی چی یاد شوی حصی پټی کړی او همدا رنگه د ښځی خپل ویښتان، غاړه او د هغی اطراف و پوښوی.

۲ـ مفسیرین د آیت د دی عبارت په اړه [ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ]دا چی مؤمنی ښځی د جلباب په اغوستلو سره له څه ډول کسانو نه ځانګړی وپیژندل شی په یوه خوله نه دی. ځینو د آیت شأن نزول ته په اشاری استناد کړی دا چی د مدینی ښځی د بی ادبو او لا ابالی کسانو له نامناسب او ادب نه له لری کړنو سره مخامخ شوی. او د هغوی دا بهانه مخکی کول چی ګویا د کنیزی په ګمان یی هغو ازادو ښځو ته مزاحمت کړی، ځکه نو جلباب مسلمانو ښځو ته توصیه شو څو ازادی ښځی له کنیزی نه وپیژندل شی او هغوی د بی بندوباره خلکو له تعرض او اذیت نه مصؤنه باتی شی. (۳۲: ۲۲۰).

هرڅنګه چی د دی خبری دا مانا نه ده چی ګویا شارع د کنیزو په ازار او اذیت او یا هغوی ته په مزاحمت کولو راضی وی. او نه هغوی دا حق درلود چی کنیزو ته مزاحمت وکړی ، بلکه منظور دا وه چی د فاسدو اشخاصو له لاسه دا بهانه هم واخستل شی. ښاغلی سیوطی بیا د احزاب سورت د(۵۹) آیت شأن نزول د محمد بن القرضی له قوله داسی نقل کړی ده: الله جل جلاله مسلمانو ښځو ته په مخ پټولوا مر وکړ څو یی له کنیزانو توپیر وشی.(۳۲: ۲۲۱).

## څلورم مطلب په قران کی د حجاب حکمونه

که په ټوله کی د حجاب اړوند آیاتونو ته نظر واچوو نو دا به په ښه توګه څرګنده شی چی الله جل جلاله نارینه و ته امر فرمایلی څو له فحشانه د ځان ژغونی په موخه خپلی سترګی پټی (ښکته ) کړی، همدا رنګه د نارینه وپه څیر ښځو ته هم لارښو ونه شوی چی د عمل او معاشرتی سلوک په ډګرکی له دینه علاوه د نورو احکامو په پابندی هم مأمور شوی دی چی په واضحه توګه په دی دلالت کوی څو د اخلاقود ساتنی لپاره یوازی د سترګو پټول او د فروجو ساتل کفایت نه کوی بلکه ځینی نور احکام او ظوابط هم شتون لری چی باید په عملی ژوند کی د هغوی هم اهتمام وشی.

**لومړی د بدن د حجم حجاب**

یوشمیرپوهان او فقها په دی نظر دی چی د بدن د حجم حجاب لازم نه دی، که د ښځی د بدن حجم ښکاره شی نوڅه مانع نه لری.(۳۰: ۱۲۷).

اما جمهور علما په دی عقیده دی چی د بدن د حجم پوښل هم لازمی دی ځکه چی که د ښځی د بدن برجستګی ښکاره شی نو د نارینه وتوجه جلبوی له دی جهته یی ستر واجب ده او په لاندی دلایلو استناد کوی :

۱ـ ابن عاشور [11] په دی اړه داسی روایت کوی « ان عمربن الخطاب نهی النسأ عن لبس القباطی».(۵: ۱۶۷).

ابن عاشور د ابن رشد په حواله د دی روایت په شرح کی دا سی لیکلی دی: قبطی لباسونه چی د اسلام دوهم خلیفه هغه منع کړی ول تنګ و او د تنګی او نازکی له وجهی به په بدن پوری چسپیدل او د بدن اندامونه به تری ښکاریدل.شاید د ښځی د بدن د حجم د زینت د مصداق په توګه یی دا آیت دلیل ګرځولی وی « **وَلَا يُبْدِينَ** زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا) او له دی امله به یی د بدن د حجم حجاب لازم کرځولی وی. (۵: ۱۶۷).

۲ـ ځینو د احزاب سورة د۳۳ آیت [وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى] په تفسیرکی داسی عقیده ښودلی ده: دا چی ښځی د جاهلیت په دوران کی د ښکلا او محاسنو په ښودلو سره کوڅو او بازارونو ته راوتلی، دا آیت نازل شو اوهغوی یی له دی کاره منع کړی.همدا رنګه ځینی علماو له دی پورته ذ کرشوی آیت نه د حجاب وجوب استنباط کړی دی.(۱۹: ۲۲۹).

له مجاهد نه په یوروایت کی نقل شوی دی، دا آیت هغو ښځو ته اشاره ده چی د نارینه وو په منځ کی تردد کوی .(۸: ۳۶۳).

ولوکه د دی آیت خطاب د پیغمبر صلی الله علیه صلواة وسلم ښځو ته دی مګر هغه تعلیل ته په کتوچی په مخکنی آیت کی مطرح شوی دی [ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ](۱: احزاب/۳۲)

(هغه چی په زړونوکی یی مرض ده طمع وکړی.) کوی شی چی دی حکم ته عمومیت ورکړی. اودا د اکثرومفسیرینوبرداشت دی .(۸: ۳۶۳).

۳ـ الله جل جلاله د ښځو« خلخال » ( پایزیب) د توجه د جلبولو په موخه نهی کړی دی. [وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ].(۱: نور/۳۲).

(او خپلی پښی دی [په داسی ډول په زمکه ] نه وهی څو هغه څه چی له خپل زینت څخه یی پټوی ښکاره شی ).

حد اقل د ثانوی حکم په توګه د بدن د حجم په ښکاره کولو راضی نه دی، په خاصه توګه که بیا د فتنی د پیدا کیدو لامل شی او همدا مطلب د هرډول کړنو یاحجاب په رابطه چی د توجه د جلبولو لامل شی مطرح کوی شو؛ ځکه له «خلخال » نه استفاده د هغه وخت مروج زینت د آیت د حکم لپاره علت ذکر کوی د نظر خاوندان په دی عقیده دی چی په احکامو کی دعلت بیان حکم ته له ذکر شوی مورد نه نورو اړخونو

[11] محمدظاهرابن عاشور (۱۲۹۶-۱۳۹۳ق)ادیب اومفسرتونسی مالکی مذهب مشهورترین اثریی تفسیر التحریر والتنویر المعروف بتفسیرابن عاشور.(ابن عاشورج۴ ص۱۴۵۶

ته عمومیت ببښی، نو ځکه هرهغه څه چی ښځو خواته د نارینه توجه جلبوی او احتمالاً د مریضو خلکوپه زړونو کی د طمع پیداکیدل مقصد دی په اسلام کی ممنوع دی.

۴ـ شاید له همدی امله غیرمتعارفه لباس اغوستل چی ښځه ځانته په ګوته کړی اویاهم د مخالف جنس (نارینه ) له لباس نه استفاده کول حرام شوی وی اواغوستونکی یی د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د لعنت وړګرځیدلی دی.

څنګه چی ابن عباس رضی الله تعلی عنه له پیغمبر صلی الله علیه صلواة وسلم نه روایت رانقل کړی: لعن رسول الله:« لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم المتشبهات بالرجال من النساء والمتشبهین بالنساء من الرجال »[12](۱۶: ۷۴۶).
(دالله رسول په هغو ښځو چی د نارینه وسره مشابهت کوی او په هغه نارینه و چی د ښځو سره ځان مشابه کوی لعنت کړی دی.)

همدامطلب له حضرت عائشی رضی الله عنها نه هم روایت شوی دی چی رسول الله هغه ښځی چی د نارینه وسره ځان مشابه کوی لعنت کړی دی .

په یوبل روایت کی بیاحضرت ابوهریره له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی: « صنفان من أهل النار لم أرهما قط ...ونساء کاسیات عاریات »(۵۳: ۹۵۱).

دوه ډلی به په جهم کی وی ... هغه ښځی چی په ظاهر کی یی لباس اغوستی وی، مګر په حقیقت کی حجاب نه لری.

احتمالاً چی نازکواوبدن نما لباسونوخواته یی اشاره فرمایلی ده لکه ځینوچی په هغه تصریح هم کړی ده.

په دی اساس د ښځی د بدن دغړیوتحریک او فساد د مخ له فسادنه هم زیاتیدی شی نودی ته په کتوویلی شو چی د ښځی د بدن د حجم حجاب هم لازمی دی .

**دوهم د سترګوپټول**

که د حجاب آیتونوته نظرواچووالله جل جلاله نارینه و اوښځوته امرفرمایلی ده چی خپلی سترګی ښکته واچوی البته له دی پټولونه مقصد دا نه ده چی ګویا ښځی دی خپلی سترګی له ځمکی څخه نه پورته کوی بلکه هدف د سترګو اونظرله زنا نه ځان ساتل اود فتنی مخنیوی ده، امام ترمذی په خپل سنن کی له ام سلمه (رضی الله عنها) نه روایت کوی چی زه اوحضرت میمونه (رضی الله عنها) دواړه له حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوځای ووچی چی ابن ام مکتوم راغی اوداخل شو، دا هغه وخت دی چی مونږپه حجاب باندی مأموری شوی وونوحضرت رسول الله مونږته وفرمایل : چی له هغه نه په پرده کی شی، وموویل ای دالله رسوله آیا هغه

---

[12] قال ابوعیسی :هذاحدیث حسن صحیح.الترمذی

ړوند نه دی ؟ نه مونږه وينی اونه موهم پيژنی رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل آيا تاسی هم ړندی ياستی او هغه نه وينی؟[13](۱۶ :۱۰۱).

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايلی: « كان الركبان يمرون بنا ونحن مع رسول الله صلى الله عليه و سلم محرمات فإذا حاذوا بنا سدلت إحدانا جلبابها من رأسها على وجهها فإذا جاوزنا كشفناه »[14](۹ :۲۶۱).

سپاره به زمونږ له مخی تيريدل اومونږبه په احرام کی ووکله به چی له مونږه تيريدل نومونږبه خپل تيکری له سرنه په مخ رااچول اوکله به چی تيرشول نونقاب به موبيرته له مخه ليری کړ.

**دريم د زينت تظاهر نه کول**

د سترګو د پټولو حکم دواړو طبقو (نارينه اوښځينه) وته متوجه وه اوس د ښځو لپاره ځينی ځانګړی احکام بيانوو، چی د زينت د تظاهر له ممانعت څخه عبارت دی او د اسلام مبارک دين د ښځی ارايش او زينت يوازی د ميره لپاره جايز ګرځولی دی، [وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا] ښځی دی خپل ارايش او سينګار نه ښکاره کوی مګرهغه چی ظاهردی .

(زينت په لغت کی هغه څه ته ويل کيږی چی انسان خپله د هغه په واسطه ځان ښکلی او ښايسته کړی؛ لکه ښکلی او ښی جامی، زيورات او د ارايش لوازم او دهرډوله سينګاراو ښکلا ظاهرول ممنوع او حرام دی، هغه که خلقی زيور وی لکه د بدن غړی په خاصه توګه بيامخ او ياهم کسبی لکه رانجه (سرمه) خضاب، کوتمه، غوږوالی، اونور زيورات.هغه که اواز لرونکی سينګار وی او ياهم بی غږه، د ښځی زينت او سينګار د هری تولنی د عرف او عادت په تناسب سره فرق لری.

الله جل جلاله له دی نهی نه دوه استثنابيان فرمايلی دی:۱- د منظورپه اعتبار(هغه ځای چی هغه ته کتل کيږی)۲- دناظر(کتونکی)په اعتبار.

لومړی استثنا:[ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ]يوازی هغه چی ظاهر وی له هغه نه په دی تعبيرچی ښځی ته روانه ده څوخپل سينګار ظاهرکړی مګرهغه اندازه چی عادتا د کورد کار او فعاليت په وخت کی ښکاريږی او د هغه پټول د سختي لامل شی؛ لکه د مخ د کاسی او دواړو لاسونو او هم هغه زينت چی په هغوی شوی وی. له ابن عباس رضی الله عنه نه روايت شوی دی« د الله جل جلاله له دی قول نه چی فرمايي: ښځی دی خپل سينګارنه ښکاره کوی مګرهغه چی عادتاً ښکاره دی، هدف مخ، د سترګو سرمه، د لاسو او ګوتو خضاب دی، دا په کور کی د هغو خلکو لپاره چی هلته تګ راتګ لری ښکاره وی(۹ :۹۳).

---

[13]هذا حديث حسن صحيح
[14]قال ابوداود:اسناده ضعيف نمبرحديث:(۱۸۳۳).

له دی حدیث نه دوه مطلبه روښانه کیږی:

۱ـ زینت عام دی؛ یعنی هرسینګار چی ښځی یی استعمال کړی او مخ لزوما په دی استثنا کی شامل دی .

۲ـ د فی بیتها له قید نه مالومیږی چی منظور ابدأ فی نفسیه دی، نه د اقاربو په مخ کی ؛ یعنی ښځه دی په کور کی داسی لباس واغوندی چی مخ دواړه لاسونه او د هغو سینګار تری معلوم شی، په دی صورت کی هغه خلک چی د محرم والی له امله کورته د ننوتلو حق لری د هغوی په مخ کی د دا سی سینګار ښکاره کول څه ممنوعیت نه لری.(۳۱ :۱۸۲)

نن سبا دغربی فرهنګ تهاجم له امله ښځی په کورونو کی ستر عورت نه مراعت کوی تنګ، ترش او چسپ لباس چی ځان پوری یی نښتی وی اغوندی. ناویلی دی نه وی چی دا غیر اسلامی عادات او روسوم دی، د ښځی ټول بدن په عورت کی شامل دی او عورت باید په هرحال کی پټ و ساتل شی یوازی مخ او لاسونه چی له هغه نه استثنا دی .البته که ښځه د سخت مجبوریت په اساس له کوره وتلوته مجبوره شوه په دی وخت کی بیا د حجاب موضوع رامخته کیږی چی حجاب مخ لاسونواوقدمونوته شاملیږی. [وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ](۱: /نور۳۱).

زینت او سینګار دی نه ښکاره کوی مګرخپلو میړونو، پلرونو او د میړونو پلرونو ته او خپلوځامنو ته او د میړونو ځامنو ته او خپلو ورونو ته او د ورونو ځامنو ته او د خپلو خویندو ځامنو ته او خپلو ښځو ته (مسلمانی ښځی) او خپلو مالکو شویو کنیزانو ته او اتباع (هغه څوک چی ښځوته رغبت نه لری) او هغه نارینه او ښځی یاماشومان چی لا تر اوسه د ښځو په محارمو با ندی نه پوهیږی.

په پورتنی آیت کی د دوهم استثنأبیان دی او هغو خلکو ته شاملیږی چی په دوو علتونو شرعاًله هغوی نه حجاب او پرده کول واجب نه دی:

۱ـ هغه نارینه چی استثنی دی له هغوی نه د فتنی فکراوخطرمتوجه نه دی ځکه چی الله جل جلاله خلقتا د هغوی طبایع داسی پیدا کړی چی د هغوی د عصمت او پاکلمنی محافظ دی.

۲ـ په یوځای کی اوسیدل تګ راتګ د دی سهولت غوښتنه کوی. البته یوی نکتی ته باید متوجه و اوسو چی پرته له خاونده نور محارم یوازی د حجاب له احکامو مستثنی دی نه د ستر عورت، د ښځی د بدن هغه غړی چی په ستر کی داخل دی په لمانځه اویاهم د نورو محارمو په وړاندی د هغه ښکاره کول روا نه دی.

دلته اته تنه له نارینه محارمو او څلور تنه له نورو افرادو څخه متذکر دی چی د حجاب له حکمه مستثنی دی، د احزاب سورة چی د نزول په اعتبار مقدم دی اوه ډلی پکی ذکرشوی او د نور سورة چی له هغه نه وروسته نازل شوی پنځه ډلی نوری هم وراضافه کړی دی.(۴۱ :۴۰۳)

**محارم**

د محرم لفظ دلته په عامه معنی سره تعبیرشوی دی چی خاوند ته هم شاملیږی اود فقهاو هغه اصطلاحی مفهوم تری مراد نه دی، اوعبارت دی له:

۱ـ خاوند:د ښځی د بدن له غړیونه یویی هم له خاوندنه پټ نه دی،حال داچی دبدن د مخصوصوغړیوکتل له ضرورته پرته خلاف د اولی دی.حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی:«مارأی منی ولارأیت منه»(۳۶ :۲۱۸).

نه پیغمبر صلی الله علیه وسلم زما مخصوصه غړی لیدلی وه اونه ماله هغه نه څه لیدلی دی.

۲ـ پلار: دپلار پلاراودپلار د پلارپلارهم همداحکم دی.

۳ـ د خاوند پلار،نیکه اودنیکه پلار هم ددی آیت په حکم کی داخلیږی.

۴ـ د ښځی اولادونه اوځامن.

۵ـ دخاوند ځامن چی له بلی ښځی څخه یی وی.

۶ـ ورور، فرق نه کوی که عینی ورور وی یاعلاتی اویاهم که اخیافی، آن رضاعی ورونه هم په دی حکم کی شاملیږی.

۷ـ وراره (دورور ځوی).

۸ـ خوریی(دخورځوی).

دا اته ډلی د محارمو له جملی څخه دی،البته د کاکا ځوی،د ترورځوی،د ماما ځوی، محرم نه دی او له هغوی نه حجاب واجب دی.

۹ـ مسلمانی ښځی: هغه غړی چی ښځه کولی شی د نورومحارمو په حضورکی یی ښکاره کړی د مسلمانو ښځو په مخ کی یی هم ظاهرولی شی البته دا استثنا د حجاب له حکمه ده نه د سترعورت. د ستر په مسئله کی مسلمانی ښځی له نورو محارمو سره یوشانته دی.

۱۰ـ هغه کسان چی د ښځی مملوک وی: دا چی په دی زمانه کی شرعی غلامان او کنیزی شتون نه لری د دی مطلب تفصیل ته ضرورت نشته .

۱۱ـ معتوه او هغه کودن خلک چی د ښځو خواته هیڅ ډول تمایل او میلان نه لری، په خلاف د مخنثاتو؛ چی له مخنث نه د ستر د موضوع تفصیل مخکی د یور وایت پربنیا د بیان شوی ده.

په شرح منهاج کی راغلی دی: ولو که سړی عنین (نامرد)، مجبوب (مقطوع الذکز)او یازوړ او ضعیف هم وی له هغه نه حجاب واجب ده او د دی آیت حکم هغو کسانو ته نه شاملیږی.(۴۱: ۴۰۵)

۱۲ـ هغه کوچنی هلک چی لا تراوسه د ښځوله مخصوص صفاتواو احوالو نه بی خبره وی؛ البته هغه هلک چی د ښځو خواته رغبت ولری مراهق (بلوغ ته نږدی) وی له هغه نه حجاب واجب دی.(۴۱ :۴۰۵)

په دی آیت کی د کاکا او دائیه ذ کرنه دی شوی ځکه چی دا دواړه د أبائهن په کلمه کی داخل دی، او د هغوی محرمیت له نبوی احادیثو نه ثابتیږی لکه چی په یو روایت کی پیغمبرصلی الله علیه سلم حضرت عائشی ته وفرمایل:« فقال لیدخل علیك فانه عمك »(۵۳ :۴۶۷)

افلح دا اجازه لری چی تا ته درشی ځکه چی هغه ستا کاکا ده.

د اواز لرونکو زینتونوتظاهرنه کول:

**[وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (31) ]**(۱:النور۳۱)

ښځی دی خپلی پښی په ځمکه په زورسره نه وهی څو هغه پټ زینت یی ښکاره نه شی او توبه و باسی د الله جل جلاله طرف ته په ټولیزه توګه ای مؤمنانو ترڅو چی کامیابان شی.
هرهغه څه چی د فتني او تحریک لامل شی او یا د نارینه وزړونه خپل ځان خواته مایل کړی د هغه ظاهرول د ښځو لپاره حرام دی لکه د مخفی زینت ښکاره کول او په اواز را وستل لکه: پایزیب، پاولی... هغه اواز چی له داسی سینګارنه د نارینه وغوږونوته رسیږی او د هغوی زړونه خپلی خواته متمایله کوی، داسی ښکاریږی چی په داسی کولو سره د ښځی قلب هم د نارینه خواته متمایل ده.
دا چی د پایزیب آواز د نامحرم غوږوته رسیدل حرام دی، د ښځی د اواز پورته کول اود نامحرموغوږونوته یی غږرسیدل په طریقه اولا سره حرام دی. ځکه د ښځی غږپه مراتبو سره د زیورد اوازله اوریدلو نه فتنه انګیزده همدا وجه ده چی د ښځی آزان مکروه ده.

پیغمبر صلی الله علیه وسلام دهغوښځوپه باره کی چی خپل زینت او سینګارد نورو پر وړاندی ظاهروی فرمایلی دی: « مثل الرافلة في الزينة في غير أهلها ، كمثل ظلمة يوم القيمة ، لا نور لها »[15](۱۶ :۱۳۹).
دهغی ښځی مثال چی ځان بغیر د اهل نه بل چاته سینګاروی د قیامت د ورځی هغی تیاری په شان ده چی هیڅ ډول نوراوروښنایی به نه لری .
**تبرج اوځان ښودنه**
د تبرج او ځان ښودنی تعریف : ( د تبرج معنی دا ده چی کله ښځه له کوره راوځی نوبهترین لباس واغوندی او ځان ښکلی او سینګار کړی، څو خلک په ګناه آلوده کړی په داسی حالت کی که خپله په آمان کی پاتی شی مسلماً نور خلک په امن کی نه شی پاتی کیدی.
دا چی تبرج یوله ډیرو بدو او د جاهلیت زمانی له مضمنو صفاتو څخه دی الله جل جلاله د پیغمبرصلی الله علیه سلم ښځی له هغه نه منع فرمایلی دی. [ **وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى**](۱: /احزاب۳۳)
په خپلوکورونوکی کښینی اوسکون حاصل کړی اود جاهلیت دوران په څیر سینګار اوځان ښوونه مه کوی.
**د تبرج اوځان ښودنی څونمونی :**
۱ـ له داسی نازک لباس سره بهرته راوتل چی له هغه لا ندی د ښځی بدن ښکاره شی.
۲ـ له داسی تنګ او ترش لباس سره د ښځی بیرون راوتل چی د بدن ځینی غړی یی ښکاره شی.
۳ـ له کورنه په داسی حال کی راوتل چی د بدن ځینی غړی او یاهم ویښتان یی ښکاره شی .
۴ـ د ښځی په داسی حالت کی بهرته راوتل چی عطریا نورخوشبوی یی استعمال کړی وی.
۵ـ دا چی ښځه له قصده او په عمدی توګه خپلی پښی داسی په ځمکه ووهی چی اواز وکړی او د خلکو توجه ځان ته جلب کړی .
**څلورم د مخ پټول**
الله جل جلاله د نارینه د شهوت انګیز او تند نظرنه د ښځی د ساتلولپاره ښځی ته امرکړی چی د کوم شرعی یاطبعی ضرورت د پوره کولوپه غرض له کوره د بهر وتلوپه وخت کی دی مخ په جلباب سره وپوښی اود هغه په واسطه دی خپل خلقی اوکسبی سینګارپټ وساتی، لکه چی فرمایی:[**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا** ](**59**)

ای پیغمبره خپلو لورانو، ښځو اوهمدارنګه د مسلمانانوښځوته ووایه چې مخ پړونی په خپل ځان راواچوی دا مناسبه ده له دی چې و پیژندل شی(له کنیزانونه ) او اذیت ونه وینی ،الله جل جلاله ښه ښونکی اومهربان دی.
دا آیت یواځې د مخ د ستر په اړه نازل شوی ده او جلابیب د جلباب جمع ده چې لوی لباس، ټیکری یابرقع ته ویل کیږی. یدنین د ښکته را اچولو په معنی ده نو د آیت حرفی ژباړه به داسې شی چې د ټیکری یوه پیڅکه دی په مخ ښکته را واچوی اوهمدا د مخ د پټولو په معنی ده، مخ باید پټ شی برابره ده که د ټیکری، برقع او یا بل هرڅه په واسطه وی او آیت د مخ د دی پټولو ګټه دا ښودلی ده چې که ښځې له دی سترسره له کوره دباندی راوځې، اهل فسق اوفجوریې پیژنی چې دا عفیفی اوشریفی ښځې دی نه کنیزی او فجاری نوځکه نه د هغوی مزاحم کیږی اونه تعرض ورباندی کوی.د دی ذ کرشوی آیت د تفسیر په اړه ټول مفسیرین په یوه خوله دی (۵۲ :۳۰۶).
که نبوی آحادیثوته مراجعه وکړو نودا به جوته شی چې د دی آیت له نزول نه وروسته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کی به چې کله ښځې له کوره بهر وتلی نوله پړونی او برقع نه به یی استفاده کوله او بربندمخ به بهرته نه راوتی چې په راتلونکی کی به بیان شی .
د مفسیرینو اقوال: امام طبری له ابن عباس رضی الله عنه نه په یوروایت کی فرمایلی دی: الله جل جلاله په دی آیت کی مؤمنو ښځوته امرکړی دی چې د کوم حاجت د پوره کولو په خاطر له کوره د وتلو په وخت کی دی خپل مخونه د خپل سر په څادر پټ کړی او یوازی دی یوه سترګه د لاری لیدلو په غرض خلاصه کړی.(۳۵ :۳۳).
۲- د الله جل جلاله د دی قول مراد چې «علیهن » یعنی په خپلومخونو باندی ځکه د جاهلیت د زمانی د ښځو یوازی مخونه بربنډ ول اوبس.(۴۱ :۲۵۰)
۳- د الله جل جلاله دا قول چې فرمایی [أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ...] د ښځې د مخ د لوڅوالی په عدم جواز دلالت کوی .(۴۱ ۴۸۲)
۴- د آیت معنی دا ده چې د کوم حاجت د پوره کولو په غرض له کورونو نه د وتلو په وخت کی دی خپل مخونه او بدن د جلباب په واسطه و پوښی او د کنیزانو په څیر دی لوڅ مخونه او بربنډی څیری له کوره بهرنه راوځی.(۲۸ :۲۴۰)
۵- کله چې له کورنه د کوم حاجت د پوره کولوپه خاطر بهر راوځی نویوه څنډه د جلباب د په خپل مخ باندی راځوړنده کړی او یوه سترګه دی پریږدی څولاره ورته ښکاره شی.(۸ :۳۵۷)
۶- دعربانوله عاداتونه یوهم له ځان ښودنی لریوالی وه، اود زاړه لباس اغوستل د ستر په معنی ګڼل کیدل اما مخونه به یی لکه د کنیزانو په څیر ښکاره کول همدا د ښځوله خوانارینه وته د کتلو یوه داعیه اوبلنه اودهغوی په فکرکی د لویدو لامل وه الله جل جلاله یی خپل ګران پیغمبرته دستور ورکړچې ښځوته د جلباب په اغوستلوامر وکړی څوپه ستر کی شی اود آزادواوکنیزانوترمنځ فرق هم ظاهرشی.(۲۸ :۵۵۹))
۷- دآیت معنی دا ده چې ټیکری دی په ځان را واچوی، مخ او بغلونه دی پری پټ کړی، کله چې د ښځې له مخه لباس لری شی نو ویل کیږی لباس دی مخ ته رانږدی

کړه. سدی فرمایی: یوه سترګه تندی اود مخ بل طرف دی هم پټ کړی او بله سترګه دی خلاصه کړی. همدارنګه له کسایی نه نقل شوی چی فرمایی په مخ پړونوسره دی ځانونه داسی پټ کړی چی مخونه یی ښکاره نه شی .(۲۸ : ۵۶۰)
۸ـ محمد بن سیرین فرمایی: د «یدنین » آیة په اړه می له عبیده سلمانی نه وپوښتل هغه سراومخ پټ کړل اوچپه سترګه یی ښکاره کړه. (۸ :۴۴۲)
۹ـ د آزادوعربوښځوله عاداتونه یوهم د زینت اوځان ښودنی پریښودل وه، او مخونه به یی د کنیزانوپه څیربربنډول چی دا پخپله د نارینه ود افکارو د مخشوش کولو او هغوی ته د کتلو بلنه وه، الله جل جلاله یی خپل رسول ته دستور ورکړچی هغوی ته ووایی چی د حاجتونو د پوره کولو په غرض له کوره د وتلو په وخت کی دی په سربآندی ټیکری را واچوی،او مخکی له دی چی تشنابو نه جوړشی ښځی به د قضای حاجت د پوره کولو لپاره صحرا ته وتلی.(۴۴ : ۲۹۰).
هغه څه موچی د مخ د ستر په اړه ذ کرکړل د تفسیرد ځینوامامانود نظریاتو خلا صه او نچوړ وه البته دا نکته هم د ذکر وړده چی د یوی سترګی لوڅول د لاری د لیدلو په خاطر له دی امله ده چی ښکته یی باید واچوی او بیګانه نارینه وته پری ځیرنه شی ځکه چی د ښځی د سترګی له کونجه کتل هغه غشی دی چی د نارینه په زړه باندی لګیږی اود حجاب فلسفه هم له منځه ځی نوغوره دا ده چی د مقنع په واسطه سره ټول بدن وپوښل شی څویوطرف هم ضرر ونه وینی.
د ښځو ستر او حجاب پوری مربوطواحکاموته په کتوسره د فقهی منابعو نه معلو میږی چی دا الزامی د ستورد مختلفو مراتبو درلودونکی دی له هغی جملی څخه یوهم هغه محیط ده چی ښځه په هغه کی اوسیږی او د هغه په رابطه یی یوډول انعطاف ښودلی دی.کله چی د ښځی عمرزوړوالی ته ورسید، شک نشته چی ذکرشوی احکام تری تخفیف کیږی، هغه بوډۍ ښځی چی د زوړوالی له امله ازدواج ته هیڅ امیدواری نه لری د قرآنکریم د نص په اساس له ذکرشوی حکم نه مستثنی دی اودهغو ویښتانو ظاهرول چی د زړو ښځو په منځ کی د هغوی تظاهرمتعارف وی. لکه د ویښتانو څنډی او د لاسونو متی چی ظاهرول یی د هغوی لپاره جایز دی، په دی شرط چی له دی کارنه یی ځان ښوونه مقصد نه وی ؛هرڅنګه چی د هغه پټول هم ورته افضل دی.
الله جل جلاله فرمایلی دی :[وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَمُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ(60)](۱: نور/ ۶۰) اوهغه زړی ښځی چی د ازدواج امید نه لری که حجاب لری کړی نو څه ګناه نشته وربآندی (په دی شرط ) چی خپل سینګار ښکاره نه کړی، او د غفت اختیارول د هغوی لپاره غوره دی ،الله جل جلاله ښه اوریدونکی او پوه دی.
لکه څنګه چی لیدل کیږی په آیت کی هم د تخفیف علت ذکرشوی دی او د نکاح له عدم توقع نه مقصد دا دی چی ښځه داسی سن او سال ته ورسیږی چی جنسی شهوت پکی ومری او د ښځی په وجود کی جازبیت هم پاتی نه شی. له دی سره سره چی

الله جل جلاله وربادنی دا لازمه کړی چی د لباس په غورځولو سره د زینت تظاهر نه کوی، مګر په داسی حال کی چی لاتراوسه د ښځی په وجود کی جنسی شهوت موجود وی ورته روانه ده چی له خپل سره پرده لری کړی ځکه چی تخفیف د هغو ښځو لپاره دی چی عمریی لوړوی داسی چی هغوی لباس ته اصلاً توجه ونه کړی او په داسی حالت کی وی چی ټول ورته د احترام اواکرام په سترګه وګوری داسی ښځی که له خپل سره ځادرلری کړی نوڅه باک پکی نشته (۵۲: ۳۰۶).
اسلامی فقهی د حجاب د احکامو نور جوانب هم څیړلی دی، لکه د بوډی ښځو حجاب له بلوغ نه وروسته د حجاب د وجوب پیل یا د ځانګړو نارینه و او یاهم ماشومانو په وړاندی د حجاب څرنګوالی. چی دا دی دلته یی ځینوهغو ته اشاره کوو:
۱ـ فقهاود « **وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ** » آیت په استناد په اضطراری مواردو کی لکه (ناروغی اونور) د حجاب رفع جایزه ښوولی ده .
۲ـ د اسلامی فقهی پراساس د غیر ازادی ( کنیزی ) ښځی لپاره د حجاب هغه اندازه له نورو ښځونه ډیره کمه ده.
۳ـ همدارنګه د نورسورة د (۳۱) آیت په استناد دهغو نارینه وپه مخ کی چی په عقلی او جنسی نواقصو اخته وی او یا هغه اطفال چی د بلوغ سن ته نه وی رسیدلی ښځه په معروف حجاب نه ده مکلفه .
لکه چی الله جل جلاله فرمایی :
[**أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ**](۱:انور/۳۱)
(هغه نارینه چی له ښځونه بی نیازه وی اویاماشومان چی د ښځوله عوارتونه بی وقوفه وی).
په ښځه دالازمه نه ده چی له « **غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ** »اویا غیرممیزطفل نه خپل ځان پټ کړی.
او د« غیر اولی الاربه » په لفظ کی اختلاف موجود ده. ځینوهغه نه مراد هغه زاړه نارینه اخستی چی د زوړوالی له امله زناشوی ته رغبت ونه لری د عادی نارینه وپه نسبت د هغوی پروړاندی ډیرکم حجاب مراعت کولوکی هم څه باک نشته (۶: ۴۶۲).
لکه څرنګه چی په حدیث شریف کی راغلی دی:
د طائف له غزوی نه مخکی دوه نفره چی عاموخلکوهغوی له غیراولی الاربه (هغه نارینه چی له ښځونه بی پرواوی) له جملی نه ګڼل د طائف د یوی ښځی د ظاهری وضع اوجمال تعریف یی کاوه چی داسی اوهغسی ده پیغمبرصلی الله علیه وسلم دهغوی خبری واوریدی اود هغو د واړوپه اړه یی وفرمایل:« وینوچی تاسودواړه د ښځوخواته تمایل لری (**غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ** نه یاستی) بیا یی امروکړاوهغوی دواړه یی د«عرایا» نومی ځای ته تبعید کړل.»(۱۳: ۳۲۹).

۴ـ واجب ده چی آزاده بالغه ښځه په لمانځه کی ټول بدن پټ کړی برابره ده که څوک لیدونکی وی اویاهم نه وی؛ مګرد مخ، لاسونه د ګوتوله څوکونه تر بندونوپوری اود مشهورقول پر بنیاد پښی(دګوتوله څوکوتربجلکه پوری) پټول لازمی نه دی.
۵ـ په حج کی د لاسونواومخ د روبند اونقاب په واسطه سره داسی چی په مخ نښتی وی د احرام په حال کی د ښځی لپاره حرام دی.
۶ـ په جهاد اوجنګی حالاتوکی اسلام ښځوته اجازه ورکړی چی له نارینه وسره په جنګی امورواوخدماتوکی شریکی شی اوپه همدی خدمتونوکی د مصروفیت له امله دی چی د حجاب په حدودوکی کمی راغلی ده، په هغه کی یی تخفیف اختیار کړی دی اوښځوته یی اجازه ورکړی که چیرته داسی حجاب واغوندی چی که کمی اوتعدیل هم ولری پروانشته .(۵۲: ۳۶۹).

**پنځم مطلب په قرآن کی د حجاب حدود**

په قران کریم کی د حجاب مختلفو اړخونوته اشاره شوی ده لکه:

۱ـ د سترګوحجاب غض البضر

د نظرکولو او کتلو ستر چی نارینه او ښځو دواړو ته د نامحرم سره د مخامخ کیدو په صورت کی توصیه شوی ده.

الف غض البصر دنارینه لپاره : الله جل جلاله د غض البصرپه مورد کی نارینه او ښځو هریوته جدا ګانه امرکړی د نور په سورت کی نارینه وته په خطاب فرمایی :[ **قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (30)**](۱:انور/۳۰)

ای د الله رسوله! مؤمنونارینه وته ووایه چی خپل نظرونه دی ښکته وغورځوی او خپلی شرمګاه وی دی وساتی دا د هغوی لپاره غوره ده او الله جل جلاله په هغه څه چی کوی یی ښه باخبره دی.

«یغضو» له غض نه مشتق دی او د کمولو، ښکته غورځولواو پټولو په معنی ده او منظور داده چی له هغه څه نه دی چی کتل ورته شرعاً حرام او ناروا دی خپلی سترګی ښکته واچوی او نه دی ورته ګوری، پورتنی آیت شهوت رانی په مکمله توګه محوه ګرځولی ده، د فتنی اولین اومهمترین سبب چی نظرکول اوکتل دی اوروستی نتیجه یی چی زنا ده په صراحت سره ذکرکړی اوحرام یی ګرځولی دی که د آیت دنزول سبب ته ځیر شونودا موضوع به لاښه روښانه شی: « له حضرت علی نه روایت دی چی د مدینی په یوه لاره کی یوسړیَ له یوی ښځی سره مخ شه اوپه یوبل کی یی سترګی خښی کړی نوشیطان هم له فرصت نه استفاده وکړه اوپه زړه کی یی وسوسه واچوله نوکتل نورهم تیزی اوشهوت پارونکی شول سړیَ د د یوال په خواکی په لاره روان وه خوسترګی یی د ښځی خواته متوجه وی ناڅاپه یی پوزه په دیوال ولږیده اووینی شوه سړی قسم وخوړ چی همدا اوس به دپیغمبر صلی

الله علیه وسلم خواته ورځم اوداماجرابه ورته وایم، په همدی حالت کی درسول الله حضورته حاضرشو اوداستان یی لکه ځنګه چی وه بیان کړهغه ورته وفرمایل دا دی دهغی ګناه سزا ده چی مرتکب شوی یی په دی وخت کی الله جل جلاله دا آیت نازل کړ: [ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ...] دنظرحفاظت هم دنارینه او هم ښځینه لپاره یوضروروری امرګڼل کیږی اوله بل پلوه د زړه د پاکی اوصفایی لامل هم ګرځی لکه چی فرمایی :« ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ » ابن ابی د نیا له حضرت ابوهریره نه روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : « کل عين باكية يوم القيامة ، إلا عينا غضت عن محارم الله تعالى ، وعينا سهرت في سبيل الله تعالى ، وعينا خرج منها مثل رأس الذباب من خشية الله تعالى »(۳۳ : ۳، ۲۸۳)

تولی سترګی به د قیامت په ورځ زړیږی مګرهغه چی محرماتوته یی نظرنه وی کړی اوبل هغه چی د الله جل جلاله په لاره کی ویښی پاتی شوی وی اوهغه چی د مچ د سرپه اندازه اوښکی یی د الله جل جلاله له ویری تویی کړی وی.اسلامی شریعت د نارینه خصوصیت ته په کتوچی په طبیعت کی یی دا نغښتی ده چی کله یی یوڅه خوښ شی نودهغه دلاسته راوړلو اوحاصلولولپاره اقدام کوی په همدی علت یی په هغه اندازه چی نارینه بیګانه ښځوته په نظرکولومنع کړی دی دا منع د ښځولپاره بیاهغومره شدیده نه ده.

### ب غض البصر د ښځولپاره

مخکی مو ولوستل چی الله جل جلاله ټول هغه څه چی شهوت پاروی حرام او ناروا ګرځولی دی نو ترټولو مهم او اساسی څه چی د شهوت د پارونی لامل دی هغه هم کتل اونظرکول دی چی الله جل جلاله نارینه اوښځی په جلا جلا آیتونوکی له دی کاره منع کړی دی.[ وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ....] مؤمنو ښځو ته ووایه چی خپل نظر دی لاندی وا چوی... د دی آیت په شروع کی هماغه حکم بیان شوی چی په ذکرشوی آیت کی هم د هغه بیان راغلی وه، حال دا چی لومړی آیت نارینه او ښځودواړو ته شامل وه نودلته ښځو ته د تأکید په غرض هغوی ته جداګانه خطاب وشو، له دی آیت نه دا په ښه توګه معلومیږی چی ښځو ته هم دا ناروا ده چی بیګانه نارینه ته وګوری اواکثرمطلق علما په دی اند دی چی اجنبی سړی ته د ښځی کتل په قطعی ډول حرام دی هغه که د شهوت او فاسد نیت له امله وی یاهم پرته له شهوته وی. دهغه حدیث په استناد چی اُم سلمه روایت کړی فرمایی: یوه ورځ زه اوحضرت میمونه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناستی وو چی یوناڅاپه عبدالله ابن اُم مکتوم چی نا بینا او ړوند شخص وه راغی د الله رسول مونږ ته د حجاب دستور راکړ، اُم سلمه فرمایی مونږعرض وکړ ای د الله رسوله دا سړی خو نابینادی نه مونږ وینی او نه مو پیژنی، د الله رسول و فرمایل: آیاتاسو هم ړندی یاستی، آیا تاسو هغه نه وینی !(۹ :۲۱۴- ۱۶ :۱۰۱)

دا حدیث په ټول وضاحت سره څرګندوی چی د ښځی کتل بیګانه نارینه ته حرام دی او که د کوم ضرورت په اساس سره مخ کیږی هم، باید سترګی ښکته وا چوی ځکه رسول الله خپلو میرمنو ته امر وکړځو له نابینا سړی نه هم په امن کی و اوسی په داسی حال کی چی د کوچنی فتنی د بروز خوف هم نه وه موجود او الله جل جلاله په خپل پاک کلام کی د هغوی په طهارت او پاکی باندی ګواهی ورکوی .

۲ـ د ویناستر

د قرآنی ستر او حجاب بل ډول هم د نامحرم په وړاندی د ښځو د وینا او غږستر دی:

[فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ].(۱: احزاب/۳۲).

په نازاو نزاکت خبری مه کوی داسی نه هغه څوک چی په زړه کی یی مرض ده څه طمع وکړی.

۳ـ په تلوکی ستر

د قرآنی حجاب بل ډول هم د نامحرم پروړاندی د ښځو د رفتار حجاب دی یعنی په تلو کی د ستر مراعت کول دی. ښځو ته لار ښوونه شوی چی داسی په لاره لاړی نه شی چی د ښکلا په ښوولو سره د نامحرم پام خپل ځان خواته را جلب کړی.

« وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ ».(۱: نور/۳۱).

او داسی دی خپلی پښی په ځمکه نه وهی چی پایزیبونه او د پښوپټ زیور یی ښکاره شی.ایماندارہ خویندی باید د بوټونو په اخستلو او اختیارولو کی ډیره سعی وکړی څو داسی بوټونه اختیار نه کړی چی له کوره د بهر وتو په وخت کی غږ او آواز و کړی.

هرهغه څه چی د توجه جلبولو لامل شی حرام دی او دا د اکثرو مفسیرینو برداشت دی. شاید له همدی امله غیرمتعارف لباسونه چی ښځی ځانګړی په ګوته کړی ممنوع دی، په همدی اساس دی چی الله جل جلاله د ښځوپای زیبونه چی د توجه لامل ګرځی حرام کړی دی.[ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ] . (۱:نور/۳۲).

(اوخپلی پښی دی په ځمکه داسی نه وهی څوهغه ښکلایی چی مستوره ده ښکاره شی).

اوهمدامطلب کولی شو دهرډول حجاب یاکړنوپه رابطه چی د نورود توجه وړ وګرځی مطرح کړو:

ځکه پایزیب چی دهغی زمانی مروج زینت وه ، نوموړی آیت ددی حکم لپاره علت ذکرکړی، د نظرخاوندان په دی عقیده دی چی په احکاموکی دعلت بیان حکم له

ذکرشوی مورد نه نوروموارد وته عام کوی، نوځکه هرهغه څه چې د ښځوخواته د نارینه وو توجه جلب کړی اود زړونود ناروغانود طمع پیداکیدو احتمال پیداکړی، په اسلام کی منع دی.

له پورتنیو ذکر شویو آیتونو نه په روښانه توګه دا څرګندیږی چې په اسلام کی د حجاب له وجوب نه مقصد په ټولنه کی د نارینه او ښځو ترمنځ حریم او مانع واقع کیدل دی که هغه د ژوندانه په هره برخه کی وی لکه د سترګو د نظرستر په تللو او خبروکی ستراو نور. د قرآنی آیتونو مطابق مسلمانو ښځو ته سپارښتنه شوی چې خپل بدن، سر او ګریوان، فرج او زیورات له نامحرمه په پرده کی وساتی.

همدا رنګه د دی سپارښتنه هم شوی چې د بدن هغه غړی او برخی چې د نارینه ود تحریک لامل ګرځی باید په پرده کی وساتی.دا پرده او ستربه داسی وی چې ښځه خپل ځان او د بدن هغه غړی چې د تحریک لامل ګرځی د زیوراتوپه شمول باید پټ کړی. او د دی پردی چې د قرآن او نبوی احادیثو په اساس بیان شوه، حد اوحدود ساتل په هرمسلمان لازمی ده.

**۴- اجازه غوښتل**

دعورت د تحفظ لپاره چې اسلامی شریعت بل حد وضع کړی هغه هم د هماغه کورونو نارینه دی چې بغیر له اجازی نه به خپلو کورونو ته نه داخلیږی څو خپلی ښځی په داسی حالت کی ونه ګوری چې د لیدلو وړنه وی.

**[وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (59)]**(۱: نور/۵۹)

دا چې ستاسو اطفال د بلوغ سن ته ورسیدل بایدله تاسو نه اجازه وغواړی لکه څنګه هغو کسانو چې مخکی له دوی نه وه اجازه یی غوښتله الله جل جلاله همداسی خپلی د قدرت نښانی بیانوی، الله جل جلاله ښه پوه او باتدبیره دی. په دی آیت کی د یو مهم امرعلت ته اشاره شوی او هغه هم د بلوغ سن ته د اطفالو رسیدل او یا په هغوی کی د جنسی شعور پیداکیدل دی نو کله چې اطفال د بلوغ سن ته ورسیږی مکلف دی څو دا حکم تطبیق کړی .

د دی ترڅنګ یی بیګانه وته هم امرکړی څو هیڅ کورته پرته د کور د څښتن له اجازی داخل نه شی .**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (27)]**(۱:نور/۲۷)

ای هغوخلکوچې ایمان یی راوړی دی هغو کورونوته چې ستاسی نه وی بغیر له اجازی مه داخلیږی او د هغه په اهل سلام ووایی دا ستاسولپاره غوره ده څو اوسی

چې پند واخلي.د دې آیت مقصد د کور او له کوره د باندې حدودو حد فاصل تعین دی ځوښځه او خاوند په خپل فامیلي ژوند کې د اجانبو له سترګو نه په امن کې و اوسي، په اول کې عربان د دې کار په حکمت نه پوهیدل او له بیرون څخه به یې داخل د کورونو ته کتل، لکه یو ځلې چې عینې پیښه له آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره هم وشوه چې یونفر د رسول الله د کورد حجرې له منفض نه داخل د حجره کې رسول الله ته کتل او د الله د رسول په لاس کې ږمنځ وه چې ویښتان یې پرې ږمنځول نوویې فرمایل:« که زه پوه شم چې ته د نظرکولو قصد ولرې په دې ږمنځه باندې به دې سترګو سره ووهم »(۱۳: ۳۹۶).

**شپږم مطلب د حجاب ایتونوپه اړه د اسلامی پوهانونظریات**

حجاب د سلامی احکامو له جملی څخه یو ثابت حکم دی چې ټول اسلامی مذاهب د هغه په وجوب اتفاق د نظرلری؛ اما د څرنګوالی په اړه یې مختلف نظریا ت شتون لری چې کولی شوپه دوه عمده مذاهبو یې تقسیم کړو.

جمهور فقها مخ او د لاسونو ورغوی په حجاب کې شامل نه بولی او د هغو پټول لازمی نه ګڼی .

ځینی نور بیا د ښځې د ټول بدن پوښل لازم او حجاب کې شامل بولی او د هیڅ استثنا قائل نه دی. د هغوی ترمنځ د اختلاف اساسی عامل د نورسورت (۳۱) [:[ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ] (مګرهغه ښکاره زینت ) آیت په استثنا شویو مواضعو کې دی چې په څو ډوله تفسیرشوی دی.

**د لومړی ډلی دلایل**

د اسلامی امت زیاتره فقها مخ او دواړه لاسونه (اصطلا ًحاکفین) په حجاب کې شامل نه بولی او بغیرله مخ او لاسونو نه د ټول بدن پوښل لازمی ګڼی.

د جمهورو علمأو څو مهم دلایل :

۱- [وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا].(۱: نور/۳۱).

او خپل ښایست دی نه ښکاره کوی مګر هغه چې په طبعی توګه نمایان دی.

د هغوی په اند ظاهری زینت هغه ده چې په عادی توګه ظاهر وی لکه: رانجه نکروزی (خینه) ګوتمی چې د هغو پټول لازم نه دی او دلته مقصد د هغو د مواضعو ښکاره کول دی چې له مخ او دواړو کفینو نه عبارت دی.

او نور هغه رویات چې له پټوالی نه د مخ او لاسونو په استثناکولو او حتی هغوی ته د نظرکولو په جواز دلالت کوی هغه هم د دې نظری مؤید دی.(۲۹: ۱۵۲-۱۵۴).

۲- د[وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ] عبارت چې له دی څخه د ګریوان او سینې د پټوالی وجوب ثابتیږی، خمر د خمار جمع چې د ښځو د ټیکری یامقنعه په معنی ده. په حقیقت کې ښځو د خپل سر وېښتان پټول. امادا چې آیت د حجاب د حدودو د بیان په موخه د غاړی او سینې تختی د پوښلو وجوب بیانوی ولی د مخ د پټوالی په اړه یې څه ته اشاره نه ده کړی.(۴: ۲۱۶).

د حجاب په هیڅ یو آیت کې هم د مخ د پټولو امر نه ده شوی د مخ او لاسونو پټول چې په عادی توګه ښکاره وی په ورځنی ژوند کې د تکلیف لامل ګرځی، نوځکه مخ او لاسونه په حجاب کې نه شاملیږی او پټول یې هم نه دی لازم.

۳-کله هم د احزاب سورة په (۳۳) آیت استدلال کوی [وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى]. د جاهلیت د تیر دوران په څیرخپل زینت مه ښکاره کوی.

ښځو به د جاهلیت په دوران کې مطلوب حجاب نه مراعت کاوه ټیکریَ به یې داسی په سرکاوه چې سینه، غاړه او د غوږونو څنډی به یې تری ښکاریدی، په دی آیت کې هغو ته امر شوی څو خپل پړونی داسی په سر کړی چې ګریوان او سینه یې پټه کړی؛ یعنی دواړه خواوی دی له یوی او بلی خوا مخی ته را وا چوی څو دا ټولی برخی د هغه په واسطه پټی کړی.(۳۴: ۵۵).

د دوهمی ډلی دلایل

هغه فقها چې د ښځی د ټول بدن حتی د مخ او لاسونو پوښل هم لازمی بولی دلایل یې په لاندی ډول بیانیږی:

۱ـ د دوی هغه مهم دلیل د احزاب سورت (۵۹)ایت دی:[ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ]

خپل حجابونه دی په ځان را وکاږی دا د دی لپاره چې وپیژندل شی او اذیت نه شی.

په دی آیت کې جلباب د پاکلمنو ښځو د پیژندنی علامه ده څو له نورو هغو څخه جلا شی او هم د بی بندوباره کسانو له تعرض نه مصؤنی پاتی شی.او دا امر به هلته تحقق پیدا کړی چې د ښځی مخ پټ وی (۳۴: احزاب/۵۹).

جلباب هغه لوی لباس ته ویل کیږی چې د ښځی ټول بدن و پوښی او د غاړی، سینې او د غوږونو پټول هغه وخت ممکن دی چې څادر په مخ را واچول شی.(۳۴:۳۶).

۲- د جلباب له معانیو څخه یوهم د ټول بدن حجاب ښودل شوی، نو له دی امله د جلباب له تذکرنه د ټول بدن د حجاب او پوښلو حکم ثابتیږی؛ دا ډله پوهان په دی اند

دی چی د آیت له ترکیب او همدا رنګه د « **يُدْنِينَ** » کلمی متعدی کیدل د « علی » له کلمی سره دا ثابتوی چی د مخ ستر هم واجب دی.

د مثال په ډول زمخشری داسی لیکی:« ومعنی **يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ** يدنينهاعليهن ويغطين بهاوجوههن واعطافهن، يقال اذا زل الثوب عن وجه المرأة أدنی ثوبک علی وجهک».(۲۸ :۵۵۹).

آیة امرکوی چی حجابونه د داسی په خپل مخ را واچوی څو مخ او د وجود نوری برخی پری پټی کړی ځکه چی په ورځنی محاوره کی کله چی د ښځی له مخه ټیکری لری شی ویل کیږی څادر دی په مخ را واچوه.

۳- د«جلباب»او« **يُدْنِينَ** » کلموله فهم نه د ښځو د سر، سینی او غاړی پټول د څادرد اچولو په واسطه ثابتیږی او د مخ په اړه هم اکثرو علمأو دا واضحه کړی چی له نوموړی آیت نه د مخ حجاب هم ثابتیږی.

ځینوهم «د **يُعْرَفْنَ** » له کلمی څخه چی د ښځود حجاب اصلی لامل ده دا استنباتوی چی آزادی ښځی باید خپل مخونه وپوښی څوله کنیزانو نه جلا او وپیژندل شی.

ځکه چی په هغه زمانه کی د کنیزانوسر او مخ لوڅ وه او له هغوی نه د ازادو ښځو د تفکیک لپاره دا حکم صادر شو.(۳۶: ۳۴).

۴- په بل ځای کی بیا د سترد وجوب په عامو دلایلو او یاهم بیګانه ښځو ته د نظر کولو د ممانعت حکم څخه په استدلال سره وایی د نورسورة (۳۰) آیت چی نارینه و ته یی د نامحرمو ښځو ته په نه کتلو امر کړی چی لاسونه او مخ هم پکی شاملیږی.(۲۷: ۱۰۸).

د دواړونظرنوجمع کول

۱- د ځینی فقهاو په اند د سترله و جوب نه د لاسونو او مخ استثناکولو او هغوی ته د نظر کولو تر منځ څه ملا ذمة شتون نه لری. د اسلامی فقهی او احادیثو په کتابو نو کی په روښانه توګه بیان شوی چی د مخ او لاسونو د سترله عدم وجوب نه د هغوی د نه پټولو وجوب نه ثابتیږی، او اساساً د ښځو مستورووالی یوغوره کاردی او د ښځو او نارینه وترمنځ یی د امکان ترحده د پردی د رعایت غوښتنه کړی .(۵۷: ۲۵۵).

۲- هغه علمأ چی وایی مخ په عورت کی نه دی شامل نو شروط یی ورته وضع کړی دی.

لومړی شرط: د مخ له سینګاراو ارایش نه باید ځان وژغورل شی.

دوهم شرط: د فساد او فتنی خوف موجود نه وی، هر کله چی ښځه داسی ښکلی وی چی د رخسار ښکاره کول یی د نورو په فتنه کی د ا چولو لامل شی او یاهم ټولنیز اخلاق په دی اندازه ضعیفه وی چی مجرداً د ښځی د مخ په لیدلو سره فساد جوړ شی په داسی حالاتو کی د مخ بربنډول جایزنه دی.

دریم شرط: د علمأوله دی وینا چی ګویا د ښځو مخ عورت نه دی دا نه ثابتیږی چی ګنی د مخ لوڅوالی دی واجب وی، او مسلمانی ښځی دی حتماً باید خپل مخونه لوڅ کړی بلکه هغه مخ لوڅول هم د ضرورت په وخت کی ده کله چی مسلمانه ښځه د ضرورت په وخت کی له کوره بهرشی په دی توګه چی نه شی کولی ځوخپل مخ د درس او یاهم کارپه وخت کی پټ کړی نو کوی شی ځو خپل مخ لوڅ کړی، ولی په نورو مواردو کی باید خپل مخ لوڅ نه کړی او د ښځو د مخ د لوڅولو په وخت کی بیا نارینه وته امر شوی دی څود هغوی مخونو ته ونه ګوری. بلکه په داسی حالاتو کی بیا د نارینه ومسؤلیت دی چی خپلی سترګی پټی کړی:[ **قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ**]ای پیغمبره مؤمنو نارینه وته ووایه چی خپلی سترګی له نارو انظرکولو نه وساتی.(۲۴: ۳۴۸).

۳ـ علامه شوکانی لیکلی [16]دی:«هذا(کشف الوجه ) عندامن الفتنة...اتفاق المسلمین علی منع النسأ ان یخرجن سافرات الوجوه لاسیما عند کثرة الفساق».(۳۴: ۲۴۴).

په داسی وخت کی چی ښځی په فتنه کی د لویدو نه په امن کی وی نود مخ پټول او ستر نه دی لازم؛ اما د مسلمانانو اجماع په دی ده چی ښځی باید په بربنډ مخ له کوره بهر را ونه وځی؛ په ځانګړی توګه بیاپه داسی حالاتو کی چی له نااهله کسانو سره مخامخ کیږی.

ضمناً دا اخلاقی لارښوونی چی نهایی هدف یی د ټولنیزژوندانه ساتنه او په ټولنه کی د بی نظمیو مخنیوی کول دی باید له الذامی فقهی احکامو سره خلط نه شی

[16] محمدبن علی بن محمد شوکانی داهل سنت له فقهاو څخه په ۱۱۷۳ه ق په یمن کی متولد اوپه ۱۲۵۰ وفات شوی آثاریی نیل الاوطار ۲فتح القدیر فی التفسیرچی ډیرمشهور دی (ویکی پدیا محمد الشوکانی) ۱۶ اګست ۲۰۱۸)

# دوهم مبحث په سنتوکی د حجاب او ستراړوند احکام

## لومړی مطلب د حجاب اړوند احادیثو څیړنه

## دوهم مطلب په احادیثوکی دحجاب وقایوی تدابیر

## دریم مطلب په احادیثوکی د حجاب حدود

## څلورم مطلب د حجاب له حکمه د شارع مقصد

## دوهم مبحث په سنتوکی د حجاب او ستراړوند احکام

د قرآنی آیتو نو سربیره د احادیثو بی شمیره روایتو نه د دی نکتی ښودنه کوی چی حجاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کی نازل شوی دی او هغه جناب به له هغو کسانوسره چی ځان به یی له نوی وضعیت او حکم سره نه وه عیار کړی او لاهم به یی له پخوانی مرسوم( د جاهلیت د دور) سترنه استفاده کوله جدی برخورد کاوه او هغوی به یی له دی کاره منع کول.

### لومړی مطلب دحجاب اړوند احادیثوڅیړنه

لومړی غواړوچی دحجاب اړوند احادیث رانقل کړو وروسته به بیا داحادیثو اړوند احکام په منظمه توګه ترڅیړنی لاندی ونیسو

١- « عن دحية الكلبي قال: أخذ رسول الله صلى الله عليه و سلم قباطي فأعطاني قبطية فقال:اصدعها صدعتين فاقطع أحدهما قميصا واعط الآخر امرأتك لتختمر بها فلما أدبرت قال: مر امرأتك أن تجعل تحت صدعتها ثوبا لا تصفها »[17](٩: ٨١۴).
له دحية الكلبی نه روایت ده چی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو چا نازکی مصری جامی هدیه راوړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم له هغونه یوه را واخسته او راوی ته یی ورکړه او هغه ته یی وفرمایل: دا دی خپلی میرمنی ته ورکه خوهغی ته ووایه چی له دی نه دی د استر ټوټه جوړه کړی څو د هغی بدن تری ښکاره نه شی.

٢- « عن عائشة رضي الله عنها أن أسماء بنت أبي بكر دخلت على رسول الله صلى الله عليه و سلم وعليها ثياب رقاق فأعرض عنها رسول الله صلى الله عليه و سلم وقال " يا أسماء إن المرأة إذا بلغت المحيض لم تصلح أن يرى منها إلا هذا وهذا " وأشار إلى وجهه وكفيه. »[18](٩: ٨١٢).
عائشه رضی الله عنها فرمایی: اسمابنت ابی ابکرپه داسی حال کی چی رقیقی جامی یی په تن وی په رسول دخدای داخله شوه نوهغه مخ تری واړاوه او ویی فرمایل : ای اسما کله چی ښځه دعدت مودی ته ورسیږی درسته نه ده چی بغیر له دغه اوهغه ځای نه یی بل ځای معلوم شی اولاسونو او مخ ته یی اشاره وفرمایله .

٣-حضرت عائشه رضی الله عنها په یوبل روایت کی فرمایی:« عن عائشة رضي الله عنها قالت : خرجت سودة بعد ما ضرب الحجاب لحاجتها وكانت امرأة جسيمة لا تخفى على من يعرفها فرآها عمر بن الخطاب فقال ياسودة أما والله ما تخفين علينا فانظري كيف تخرجين . قالت فانكفأت راجعة ورسول الله صلى الله عليه و سلم في بيتي وإنه ليتعشى وفي يده عرق فدخلت فقالت يا رسول الله إني خرجت لبعض حاجتي

---

[17]قال ابودا ود اسناده حسن، نمبرحدیث:(۴۱۱۶).
[18]قال ابوداودهذامرسل،اسناده ضعیف.نمبرحدیث:(۴۱۰۴).

فقال لي عمر كذا وكذا قالت فأوحى الله إليه ثم رفع عنه وإن العرق في يده ما وضعه فقال ( إنه قد أذن لكن أن تخرجن لحاجتكن )[19].(۱۳: ۳۹۶).

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی : حضرت سوده رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمن دحجاب له فرضیت نه وروسته دخپل حاجت د پوره کولو لپاره بیرون وتلی وه چی غټ جسم یی درلود، چاچی لیدلی وه نوپیژندله به یی حضرت عمر له هغی سره مخ شو اوورته یی وویل ته له مونږه پټېدی نشی اوهغه یی ملامته کړه ځو ولی بهر وتلی ده هغی رسول صلی الله علیه وسلم ته شکایت راوړ چی زه دحاجت دپوره کولو لپاره وتلی وم اوعمر راسره داسر چلند وکړپه داسی حالت کی چی په هغه صلی الله علیه وسلم باندی دوحی دراتګ خوله وه بیا دا آیت له کوره د ښځو د وتلوپه دفاع کی په داسی حالت کی چی حجاب ولری نازل شو.او ورته ویی فرمایل اوس تاسو دااجازه لری چی دخپلو حاجاتو دپوره کولو لپاره بهرلاړی شی.

۴ـ له ام سلمه نه په یو بل روایت کی رانقل شوی دی :« عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتْ (يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلاَبِيبِهِنَّ) خَرَجَ نِسَاءُ الأَنْصَارِ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِنَّ الْغِرْبَانُ مِنَ الأَكْسِيَةِ.».[20](۹: ۸۱۲).

د دی آیت له نزول نه وروسته د انصاروښځی په وقاراوسکون سره له کورونه بهرراوتلی په لاره به داسی تلی چی تابه ویلی چی سربانډی یی کارغه ناست وی اونقل کوی یی اومخ پړونی یی هم له توری ټکی نه جوړشوی لباس وه.

۵ـ عائشه رضی الله عنها فرمایی:« يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ { وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ شَقَّقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا».[21](۹:۸۱۲). الله جل جلاله د د انصارو په ښځو رحم وکړی د احزاب سورة د۵۹ آیت له نزوله وروسته به یی ټکه تاو کړه او په سر به یی ترله په پیغمبر صلی الله علیه وسلم پسی به یی اقتدا کوله ته به وایی چی په سربا ندی یی قرغه ناست دی ایښی.

له دی ټولو روایتونو د حجاب له اثبات نه علاوه دا هم ښه روښانه کیږی چی په اسلام کی د حجاب د و جوب هدف د نفس تزکیه، عفت، پاکوالی او په ټولنه کی د پاکلمنی نهادینه کول دی، ځو په ټولنه کی صلاح رامنځته شی او د فساد مخه ونیول شی.

---

[19]أخرجه مسلم في السلام باب إباحة الخروج للنساء لقضاء حاجة الإنسان رقم 2170 رقم حديث ۴۵۱۷»

قال الألباني : صحيح . [20] قال ابوداوداسناده حسن نمبرحديث:(۴۱۰۱).

[21]قال ابوداوداسناده حسن نمبرحديث: (۴۱۰۰) قال الألباني : صحيح.

## د احادیثو څیړنه

اوس غواوچې دحجاب اړوند احادیث اوله هغه نه را ایستل شوی حکمونه ترڅیړنی لاندی ونیسو.

۱- د خاوند خپلوانو په اړه د احادیثو ارشادات : مخکی مو ولوستل چې الله جل جلاله د [وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ] آیت په نزول سره ښځو ته په کورکی کښیناستلو باندی امر کړی دی او په همدی توګه یی هغوی له اختلات نه لری کړی لیکن په کور کی د اوسیدو سره سره که هلته بی بندوباری مروجه وی بیاهم نشی کوی چی د حجاب په فلسفه برلاسی شو.

عموماً د نارینه نږدی فا میلونه له دی سره سره چې نامحرمه دی هغوی ته د محرمیت په سترګه کتل کیږی او هغوی ته د کورنی غړی وایی؛ اما راځی چې څیر شوڅو په دی اړه د اسلام نظرڅه ده؟ حضرت عقبه دعامرځوی روایت کوی چې د الله جل جلاله رسول وفرمایل:« عن عقبة بن عامر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إياكم والدخول على النساء فقال رجل من الأنصار يا رسول الله أفرأيت الحمو قال الحمو الموت »[22](۱۶ : ۱۳۹). ښځو ته له داخلیدو نه جداً ځان وژغوری، هغه وخت یو انصاری سړی پوښتنه وکړه ای د الله رسوله

یاد الله رسوله د نارینه اعزه او اقاریب څنګه ؟ د الله رسول وفرمایل: هغوی مرګ دی. دلته دا خبره د توجه وړ ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولی د خاوند نږدی خپلوان د ښځی لپاره مرګ مقررکړ؟ دا چې عموماً د خپلوی له امله په دی افرادو غفلت او اطمنان موجود وی او خلک بد ګمان او تصور نه کوی ښځه وایی پلانی شخص زما د میړه وروور دی نو څنګه له هغه نه په ستر کی و اوسم؟ فلانی می د کاکا ځوی او هغه می د ترور، خاله او ماما ځوی ده په دی توګه هغه لکه وروور داسی ګڼی او ورسره خبری کوی، خاندی او توقی کوی اما دا تولی اړیکی او کړنی نا روا او حرامی دی، که دا ورونه وی نو څنګه بیاله هغوی سره نکاح سمه ده؟ محرم هغه چاته ویل کیږی چې په ابدی توګه له هغه سره نکاح جواز ونه لری او هغه څوک چې له هغوی سره نکاح کیږی محرم نه دی او حجاب تری واجب ده . همدا ډول له حضرت حسن بصری نه روایت دی چې حضرت علی کرم الله وجهه فرمایلی دی:عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ،ُأَنَّهُ كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ، فَقَالَ : أَيُّ شَيْءٍ خَيْرٌ لِلْمَرْأَةِ ؟ فَسَكَتُوا ، فَلَمَّا رَجَعْتُ قُلْتُ لِفَاطِمَةَ : أَيُّ شَيْءٍ خَيْرٌ لِلنِّسَاءِ ؟ قَالَتْ : أَلا يَرَاهُنَّ الرِّجَالُ ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ، فَقَالَ : إِنَّمَا فَاطِمَةُ بِضْعَةٌ مِنِّي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا[23]. یوه ورځ د الله رسول له

---

[22]قال ابوعیسی هذاحدیث حسن صحیح نمبر(۱۱۷۳)الترمذی
[23]وَهَذَا الْحَدِيثُ لاَ نَعْلَمُ لَهُ إِسْنَادًا عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِلاَّ هَذَا الإِسْنَادَ. مسند بزار ج ۱ ص ۱۱۰ مُسْنَد البزَّار کاملاًحدیث نمبر۵۲۶

مونږ نه وپوښتل :« أَيُّ شَيْءٍ خَيْرٌ لِلْمَرْأَةِ ؟ » د ښځې لپاره کوم شی ډیرغوره

دی؟ له حاضرو کسانو نه هیڅ یو هم ورته جواب ورنه کړای شو کله چې زه د حضرت فاطمې خواته را وګرځیدم: ومی ویل ای د محمد صلی الله علیه وسلم لورې د الله رسول له مونږه د یوې مسئلې په اړه پوښتنه وکړه او مونږ یوه هم ورته جواب ورنه شوی کړی، حضرت فاطمې وفرمایل: له تاسو نه یې څه وپوښتل ؟ ومې ویل : ویې فرمایل: د ښځې لپاره څه شی ډیرغوره دی ؟ ویې فرمایل :تاسو ځواب ورنه کړ! ما وویل :نه هغې وفرمایل : د ښځې لپاره له دینه غوره بل څه نشته چې هغه بیګانه نارینه او بیګانه نارینه هغه و نه ګوری.حضرت علی فرمایی: د شپې کله چې بیا د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مجلس ته حاضر شوم عرض مې وکړ ای د الله رسوله! تاسو له مونږه یوه مسئله و پوښتله او مونږ جواب درنه کړ، د ښځې لپاره له دی کوم بل غوره شی نشته چې هغه بیګانه نارینه او بیګانه نارینه هغه ونه وینی، د الله رسول وفرمایل: « ومن قال ذالک » داخبره چا وکړه؟ ماورته وویل: فاطمې ویې فرمایل: « إِنَّمَا فَاطِمَةُ بِضْعَةٌ مِنِّي »(۲۶ :۳۲۵) ربښتیا یې ویلی فاطمه زما د تن یوه ټوټه ده

له ذکرشویو روایاتو نه دا معلومیږی چې ښځه باید له هغو کسانو نه چې محارم یې نه وی ځان په پرده کی و ساتی هغه که هر ډول رابطه او خپلوندی ور سره ولری.

**۳ـ د مخ پټوالی**

که نبوی احادیثوته ځیرشونودا به څرګنده شی چې ډیردا سی روایات او احادیث شتون لری چې د مخ په پټولو او د ستر په وجوب دلالت کوی :

۱ـ په صحیح البخاری کی له آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه روایت دی « لا تنتقب المرأة الحرام و لا تلبس القفازين »(۱۳ :۲۸۴) قال الأعظمي : إسناده صحيح يعنی ښځې دی د احرام په حالت کی نقاب او دست کش نه اغوندی .

۲ـ حضرت جعفر یی له خپل پلارنه روایت کوی: « أَنَّ عَلِيًّا كَانَ يَنْهَى النِّسَاءَ عَنِ النِّقَابِ وَهُنَّ حَرَمٌ ، وَلَكِنْ يُسْدِلْنَ الثَّوْبَ عَلَى وُجُوهِهِنَّ سَدْلاً »(۵۳ :۳۳۷)

حضرت علی به د احرام په وخت کی ښځې له نقاب اچولو منع کولی البته هغوی به تیکری په مخونو باندی را ځړول.

۳ـ حضرت عائشه فرمایی:«**كان الركبان يمرون بنا ونحن محرمات مع رسول الله فإذاحازونا سدلت إحدانا جلبابها على وجهها فإذا جاوزونا كشفناه** »[24](۹ : ۲۶۱)

سواره به زمونږ له مخه تیریدل او مونږ به له رسول الله سره د احرام په حالت کی وو او کله به چې راتله نو مونږ به خپل تیکری په سر باندی له پاسه را ځړول او کله به چې له مونږه تیر شول نقابونه به مو له مخه لری کړل .

---

[24] قال ابوداود:اسناده ضعیف نمبرحدیث:(۱۸۳۳).

داسی روایات په علنی توګه په دی دلالت کوی چی ښځی د نبوت په دوران کی له دستکشو او نقاب اچولو سره عادت وی مګر د احرام په حالت کی له هغه نه منع شوی له دی حکمه هدف دا نه ده چی خلک دی د هغوی مخ وګوری بلکی په عادی ژوند کی ټیکری د لباس جز وه او د احرام په حالت کی د احرام جزونه ګرځی، لکه چی له ام سلمی نه روایت دی چی د « يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلاَبِيبِهِنَّ » آیت له نزول نه وروسته به له کوره د وتلو په وخت کی د انصارو ښځو داسی خپل ځانونه پټول لکه د تورکارغه په څير.[25](٩ : ٢١٢).

٢ـ دنامناسب حجاب په اړه وعید

کله ترسترګو کیږی چی محجبی میرمنی په حجاب کی له ځلانده ، روښانه او پارونکو رنګونو نه استفاده کوی چی بدن ته یی ځانګړی ښکلا وربښی او د ښځی د بدن د پټوالی سره سره یی د بدن ښکلا ظاهریږی، لکه اصلاً چی یی لباس نه وی اغوستی؛ او د حجاب له روح نه ډیر لری دی د ابوهریره د دی حدیث په استناد چی د لباس په عنوان کی هم ذکرشو پیغمبرصلی الله علیه سلم داسی ښځی جهنمی یادی کړی دی .

امام مسلم له حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت کړی **صنفان من أهل النار لم أرهما...ونساء كاسيات عاريات** »(٥٣: ٩٥١).

حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی چی رسول الله علیه سلام وفرمایل دوه ډلی د دوزخیانو دی چی لا تر اوسه می هغوی نه دی لیدلی،...او هغه ښځی دی چی لباس یی اغوستی وی (ولی دومره چسپ او نازک وی ) چی د بربنډی په څیر وی خپله هم (په دی کړنو سره) د نامحرمو خواته میلان لری او هم نارینه د ځان لپاره متمایله کوی سرونه یی داسی متشکل کړی لکه د اوښ بُکام هغوی به نه جنت ته داخلیږی او نه به یی د جنت بوی پوزی ته ورسیږی. همداسی هغه نارینه دی چی په لاسونو کی یی قمچینی دی لکه د غوایی لکی او خلک وربا‌ندی وهی.

له دی ذکرشوی حدیث نه دالاندی استنباطات کیږی:

١ـ دا حدیث معجزه ده چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د آینده په اړه خبر ورکړی. دوه ډلی خلک دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کی یی شتون نه درلود او وروسته به د مسلمانانو په منځ کی ظهور کوی ځکه چی د رسول الله عصر د پاکی عصر وه چی ټولو د عفت جامی لرلی او همدا رنګه د انسانانو حقوق په سمه توګه رعایت کیدل، داسی خلک نه ول څو په بازارونو کی خلک په قمچینوووهی .

---

[25] اسناده حسن نمبرحديث:(٤١٠١).

۲ـ دا دوه طایفی مسلمانان دی چی دوزخ ته به ځی، ځکه چی نوموړی ښځی په انسانی ټولنه کی د فساد لامل ګرځی او یاد شوی نارینه هم د خلکو ابرو له منځه وړی .

۳ـ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د فرمود ی په اساس هغه څوک چی چسپ او نازک لباسونه اغوندی لباس لرونکی بی لباسان یابربنډان دی، یعنی د دوی په ګمان له دی سره سره چی لباس یی په تن دی مګر د شریعت له لحاظه بی لباسه دی.

۴ـ د شهوت پارونکو لباسونو اغوستل د فساد د نشراو ځان ښودنی لپاره دی، که داسی نه وی نو له کوره د وتلو په وخت کی انسان څه ضرورت لری څو داسی لباس په تن کړی .(۲۴: ۳۵۳).

د دی حدیث موارد په اوسنی زمانه کی ښه تصدیق کیږی چی ښځی د نازک او چسپ لباس په اغوستلو سره د نارینه وتوجه د ځان خوا ته جلبوی او دا کار ګناه هم نه محسوبوی، حال دا چی د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د فرمودی په اساس په دی عمل سره هغوی له جنته محرومی دی او حتی د جنت بوی یی هم ترپوزی نه رسیږی .

**د حجاب ډول**

په اسلامی فقه کی د ښځی د حجاب لپاره کوم خاص ډول نه دی تعین شوی یواځی دا بیان شوی چی له څو مواردو پرته باید ټول بدن ستر شی او د تحریک آمیزو او نازکو لباسو نو اغوستل یی نه دی منلی او د رنګارنګ او تزین شویو لباسونو په اغوستلو ملاحظات لری.د حجاب ډول او د اسلامی حجاب معیارونو سره د هغه د انطباق څرنګوالی د هری ټولنی فرهنګ ،آداب اورسوموته په کتوفرق لری .

د مثال په توګه ترټولو ډیرمروج ډول د حجاب په افغانستان کی چادری په پاکستان کی بُرقع او په ایران کی ټیکری ده چی د تاریخ په مختلفوادوارو او جغرافیایی مناطقوکی تنوع درلودونکی ده امّاپه وروستیولسیزوکی په ډیرو اسلامی ممالکو کی په حجاب پابندی مسلمانی میرمنی ډیرکم له ټیکری نه استفاده کوی، په منځنی ختیځ عربی هیوادونو کی عبابه او په مغرب کی جلباب رایج ده.

په غیراسلامی هیوادو نو کی میشتی مسلمانی خویندی او میرمنی چی کله کله یی په حجاب بندیزهم وضع کیږی له ټولنیزوعنعناتوسره مطابق یی باید داسی حجاب رعایت کړی چی هم شریعت سره مطابقت ولری او هم یی د ټولنی موازین په نظرکی نیولی وی .(۳۱: ۵۴۲).

له دینه داپه ډاګه شوه چی اسلامی شریعت د حجاب کوم ځانګړی ډول نه ده معرفی کړی، دهری منطقی مسلمانان کوی شی چی د اسلامی شریعت د لباس د شرایطوپه نظرکی نیولوسره د خپلی منطقی دعرف اوعاداتومطابق اسلامی حجاب مراعات کړی .

**دوهم مطلب په احادیثوکی دحجاب وقایوی تدابیر**

یوډول تدابیر شتون لری چی اسلام هغه د اخلاقی تعا لیمو لپاره ممد او مساعد ګڼی او یاهم د اخلاقی نظام دا تدابیر د ټولنیز نظام اصلاح او د اخلاقی ضعف عوامل له منځه وړی، چی د نقصان په صورت کی یی په افرادو کی محیطی تربیه باقی نه پاتی کیږی، او دا د ټولنی د وقایی لپاره دی.

اسلام غواړی چی ټولنه د هر ډول شهوانی تحریکونکو عواملو څخه پاکه وی او جنسی بی بندوباری تریوه ممکن حده بشکته راشی او ټولی هغه کړنی او انسانی سلوکونه چی د ټولنی نظم مختلوی محو اوملغا کوی دلته مونږله هغو یادوشویو تدابیرونه یادونه کوو.

**د لباس مناسب والی**

په اوسنی عصرکی له اساسی مشکلاتو یو هم د لباس د شرایطو نه شتون او یا د هغو نه مراعت کول دی، بناً د سترعورت د تطبیق لپاره لازمه ده څو باید د لباس شرایط په تفصیلی ډول بیان کړو.

دلباس شرایط په دوه ډوله دی:

**د لباس عام شرایط**

د لباس له عاموشرایطونه مقصد دا دی چی د دی شرایطو مراعتول په نارینه او ښځینه ویوډول لازم دی،هر یوله دوی نه که دا شرایط مراعت نه کړی نوګناه کاره ګڼل کیږی او سترعورت به یی درست نه وی.

**الف : نازک نه وی**

هغه لباس چی د سترعورت د پټولو لپاره تری استفاده کیږی باید نازک نه وی څود انسان بدن تری معلوم نه شی یو شمیر خلک داسی نازک لباس اغوندی چی د تلو په وخت کی یی جسم معلومیږی د لباس د نازکوالی علت یاد تکی په اختیارولو سره وی لکه د کاچ او پانورو تکو اختیارول او احیاناً هم د لباس د ډیری استفادی په وجهه هغه لباس ډیر مبین شی . د لباس د شرعی حکم په مورد کی د څو احادیثوتذکرلازمی ګڼو.

۱ـ له حضرت عایشی نه روایت دی: «دَخَلَتْ حفصةُ بنتُ عبد الرحمن على عائشة ، وعليها خمار رقيق ، فشقَّتْهُ عائشةُ وكَسَتّها خِمارا كثيفا[26]»

یوه ښځه حضرت عائشی رضی الله عنها ته په داسی حالت کی راغله چی ټیکری یی نازک وه، حضرت عائشی هغی ته وویل مګرسورة النور دی نه ده لوستی، هغه ټیکری یی له هغی نه واخسته ویی شکاوه اوبل ټیکری یی په سرورواچاوه په یوبل روایت کی دمناسب ټیکری په اړه له حضرت عائشی رضی الله عنها نه پوښتنه وشوه! « وعن عائشة أنها سئلت عن الخمار فقالت إنما الخمار ما وارى البشرة والشعر »(۱۵: ۲۳۵).

---

[26]أ. قال أيمن صالح شعبان] أخرجه مالك في الموطأ (1758) مع شرح الزرقاني عن علقمة ، عن أمه ، فذكرته.

په حضرت عایشې رضی الله عنهانه بوښتنه وشه چې ټیکرې څه شی دی په جواب کې یې وفرمایل هرهغه څه چې پوستکی اووېښتان پټ کړی هغه ته ټیکرویل کیږي.

۳ـ په یوبل مشابه حدیث کې له حضرت عائشې رضی الله عنها نه له اسمأسره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دعکس العمل په اړه روایت دی چې نازک لباس یې په تن وه نوله حضرت اسمأنه آنحضرت صلی الله علیه وسلم مخ واړاوه.(۹: ۸۱۲).

۴ـ په یوبل مشابه روایت کې حضرت عائشه فرمایي:

« يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ { وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ} شَقَّقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا »[27](۹: ۸۱۲).

په مهاجروښځوباندې دې د الله رحمت وي، مخکښې دې وي کله چې الله جل جلاله د حجاب آیت نازل کړضخیم ترین پشمې حجابونه یې واخستل اوپه هغه سره به یې خپل سر اوغاړه پټول .

۵ـ قرطبی تفسیر روایت کړی چې د بنی تمیم ځینې ښځې حضرت عائشې ته راغلې او نازک لباسونه یې په تن ول، بی بی عائشې رضی الله عنها ورته وویل که تاسو با ایمانه ښځې یاستې نو دا د ایماندارو ښځو لباس نه دی، او که نامسلمانه یاست نوبیاڅه مشکل نشته درته .

په هرحال که د یادو شویو روایاتواسناد درست هم نه وي د بدن حجاب او مستوروالی یې یوبدهی مطلب دی او د قرطبی په تعبیر سره ستر د بدن له حجاب پرته کومه معنی نه لري .(۴۴: ۲۴۴).

په فعلی شرایطوکې نازکې تکې بازارونوته عرضه شوې دي چې په هیڅ ډول په هغوی سره سترعورت نه کیږي، لکه د کاچ رخت او یا د جالی تکه چې ډیرې ښځې یې د ټیکرې اویاقمیس په توګه کاروي چې په ډیر تأسف سره نوموړې تکه ډیره نازکه وي او زمونږد خویندو ویښتان په سمه توګه نه پټوي همدا رنګه یوشمیر ښځې اونجونې بیا له نازکو تکو نه لستونې جوړوي چې متې یې ښکاریږي په دې صورت کې یې لباس ته د سترلباس نه شو ویلی.

ب: **لنډ نه وي**

په هغه لباس کې چې د ستر عورت لپاره استعمالیږي دا ضروري ده څو د بدن هغه غړي چې پټوي یې مکمل سترکړي، ځینې خویندې له کوره بهرد نامحرمو پروړاندې پنجابی کالي اغوندي چې دا لباسونه لنډ وي او د ستر اندازه یې نه پوره کوي، احیانا لنډې لمنې له پطلون سره اغوندي چې دا هم له اسلامی ستر سره په ټکرکې ده.

---

[27]قال ابوداود:اسناده حسن

د يخن اوغاړی په جوړولو کی احیانا ځینی خویندی لویی غاړی اختیاروی چی د سینی تخته یی ښکاریږی او کله هم نیمه استین لرونکی کالی اغوندی، چی دا لباسونه په هیڅ ډول هم د اسلامی لباس له قاعدی سره برابری نه لری .

ځینی هلکان د ورزش یا لامبو وهلو په وخت کی لنډ لباس اغوندی که ورته وویل شی چی ستاسو لباس مناسب نه دی نو دا دلیل وایی چی مونږ خوښځی نه یو حال دا چی د نازکو کالیو اغوستل چی سترعورت پټ نه کړی د نارینه او ښځینه ولپاره یوشان حرام دی .(۲۴: ۳۵۰-۳۵۲).

ج:په بدن پوری نښتی نه وی

د اسلامی حجاب له شرایطویو هم د لباس آزادوالی دی بناًځینی لباسونه چی نښتی وی لکه: برجس، کاوبای پطلون، جینز او ځینی نور چی په ځان پوری نښتی وی د مسلمانو نارینه او ښځو لپاره جایزنه دی.

تقریباً ټولو فقهاو دا تصریح کړی ده چی لباس باید بدن نما او نازک نه وی په دی اړه په دغه روایت استدلال کیږی.« حضرت ابی هریره رضی الله عنه فرمایی: چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دوه ډلی دوزخیان دی چی لا تراوسه می نه دی لیدلی، ښځی دی چی لباس یی اغوستی وی ولی (هومره چسپ اونازک وی ) چی د بربنډوپه څیر وی خپله هم په دی کړنوسره د نامحرموخواته تمایل لری اوهم نارینه د ځان خواته متمایله کوی سرونه یی (داسی جوړکړی وی) لکه د اوښ کوهان. هغوی به نه جنت ته داخلی شی اونه به هم د جنت بوی دهغوی مشام ته ورسیږی. همدارنګه نارینه دی چی په لاسونوکی یی د غوایانو د لکی په څیر قمچینی وی او خلک د هغه په واسطه سره وهی.(۵۳: ۸۱۱).

مسلمانان باید خپل لباسونه د اسلامی شرایطوسره سم چی عورت یی محفوظ وی واغوندی.

**د: د نارینه ومخصوصی جامی نه وی**

رسول الله صلی الله علیه وسلم هماغسی په هغه نارینه وچی ځانونه د ښځو په شان جوړوی لعنت ویلی دی داسی یی هغه ښځی هم چی د نارینه وپه هیکل ځان عیاروی د لعنت وړګرځولی دی.د مخالف جنس له لباس نه استفاده کول حرام ګرځول شوی دی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له لوری هغه څوک چی د مخالف جنس لباس نه استفاده کوی لعنت کړی شوی دی .ابن عباس له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه داسی روایت نقل کړی ده:

« لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم المتشبهين من الرجال بالنساء ، والمتشبهات من النساء بالرجال »[28](۱۶: ۷۴۶).

دالله رسول دنارینه په ښځو ورته والي کوونکو ښځو او ښځو په ښځو ورته والي کوونکو نارینه وباندی لعنت ویلی دی.

همدامطلب له حضرت عائشی نه هم نقل شوی ده چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم نارینه نما ښځو باندی لعنت او نفرین کړی ده.

**د لباس خاص شرایط**

د لباس له خاصوشرایطونه هغه شرایط مراد دی چی په ایمانداره نجونو او ښځو باندی له کوره د وتلو او یاد نامحرم په وړاندی د راڅرګندیدو په وخت کی یی رعایت کول حتمی دی، چی د عامو شرایطو نه علاوه دا شرایط هم په نظرکی ونیول شی.

الف: **له جذابو رنګونونه ځان ساتنه**

د ایماندارو خویندو د لباس له شرایطو یو هم دا دی چی له کوره بهرد جذاب رنګ لرونکی جامی وا نه غوندی ولی دا سی لباس اغوستل په کوردننه د ښځو یامحارمو نارینه وپر وړاندی ورته جایزدی.

اما له کوره د وتواویاله نامحرموسره د مخ کیدو په صورت کی دی له سنګینو او ساده لباسونو نه استفاده وکړی .

کله ګورو چی ډیری محجبی ښځی په حجاب کی له شادو او ښایسته جذبونکو رنګونو نه استفاده کوی چی وجود ته یی ځانګړی ښکلا وربښی او د ښځی د بدن له پټوالی سره سره یی ښکلا ظاهریږی لکه چی اصلاً یی حجاب نه وی اغوستی او دا د حجاب له روح نه ډیرلری دی.

ستر په اسلام کی هغه حجاب دی چی د ښځی د کرامت او وقارساتنه کوی، په هررنګ کی که وی باک یی نشته ولی له روشنواو تحریکونکو رنګونو نه استفاده چی د نورو توجه ځانته جلبوی نه تنهادا چی هغه هدف کوم چی اسلام یی لری نه تأمینوی بلکه د غرض نقض هم ده. لازمه ده څو پام وشی یوله هغو منکراتو نه چی قرآن کریم د احزاب سورة په (۳۳) آیت کی په شدت له هغه نه منع فرمایلی ده او هغه یی د جاهلیت زمانی له اعمالونه شمیرلی دی (د ښځوتبرج ) د ی.

[وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى].(اودسابقنی جاهلیت دوران په څیرخپل سینګارونه مه ښکاره کوی).

---

[28]قال ابوعیسی:هذاحدیث حسن صحیح.الترمذی

په دی اساس په ټولنه کی په دی حیثیت سره د ښځو ظاهریدل چی انګشت نما او د خلکو سترګی ځان پسی راوکاږی(تبرج) اوحرام دی.(۲۶: ۱۹).

**ج: له عطروځخه استفاده نه کول**

د مؤمنوخویندو لپاره دا رواده چی په کور دننه له هرډول زینت او سینګارنه استفاده وکړی ولی له کوره د وتلوپه وخت کی دی له عطریاتو نه استفاده نه کوی ځکه دا عمل د فتنی لامل ګرځی .

حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمایی چی نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« كل عين زانية والمرأة إذا استعطرت فمرت بالمجلس فهي كذا وكذا يعني زانية »[29](۱۶: ۷۴۶).

هره سترګه زنا کوی هرکله چی میرمن عطر ووهی او له مجلس نه عبور وکړی دا ښځه داسی اواسی ده ، (یعنی زنا کارده ).

**دریم مطلب په احادیثوکی د حجاب حدود**

دحجاب د تحفظ لپاره کوم حد ود چی اسلامی شریعت وضع کړی هغه دا دی چی له میره نه پرته بل چاته اجازه نشته چی د اجنبیه ښځی سره خلوت وکړی او یا د هغی جسم لمس کړی ولوکه د ښځی له نزد یکانو او خپلوانو ځخه هم وی مګر د محارمو موضوع ته مو په خپل ځای کی اشاره کړی ده.

۱ ـ د الله له رسول نه نقل شوی دی: « عن عقبة بن عامر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إياكم والدخول على النساء فقال رجل من الأنصار يا رسول الله أفرأيت الحمو قال الحمو الموت »[30](۵۳: ۹۶۶).

له عقبه بن عامر نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښځو ته له ورتګه (اطاق یاځای د اوسیدونه یی) ځان وساتی د انصارو یوسړی وویل ای دالله رسوله که لیوریی وی نوبیا دالله رسول وفرمایل لیورمرګ دی یعنی دهغه حکم هم لکه د نوروپه څیر ده.

۲ـ له عمروابن عاص نه روایت دی چی ویی فرمایل:« إن رسول الله صلى الله عليه وسلم نهانا أن ندخل على النساء بغير إذن أزواجهن »[31](۱۶: ۷۴۵».

دالله رسول مونږله دینه منع کړی یو چی ښځو ته پرته دهغوی دمیړونوله اجازی ځخه ورش.

---

[29]قال ابوعيسى هذا حديث حسن صحيح.نمبرحديث: (۲۷۸۶).الترمزی.
[30]قال ابو عيسى هذا حديث حديث حسن صحيح
[31]قال ابوعيسى هذاحديث حسن صحيح.نمبرحديث: (۲۷۷۹).

۳ـ له حضرت عائشی رضی الله عنها نه روایت دی:« کله چی د الله رسول له ښځو نه بیعت اخسته له هغوی سره به یی په خبرو بیعت کاوه او د هغوی لاس به یی په خپل لاس کی نه نیوه .

دا احکام اوحدود د ځوانو ښځو لپاره دی او هغه ښځی چی د زوړتوب عمر ته رسیدلی وی هغوی سره په یوازی توګه ناسته او مصافحه جایزه ده .

لکه څنګه چی د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعلی عنه په اړه روایت دی چی هغی قریی ته به ته چی شودی یی پکی څښلی وی او دهغی قریی له عجوزو ښځو سره به یی مصافحه کوله .

له عبدالله ابن ذبیر نه روایت دی چی هغه یوه زړه ښځه د خپلی تداوی لپاره په اجاره نیولی وه چی یادی شوی ښځی به دهغه پښی مبنلی او سر به یی کاته او دا د عجوزی او ځوانی ښځی ترمنځ فرق په خپله دا روښانه کوی چی د دوه جنسو تر منځ اختلاط باید دفتنی لامل نه شی (۵۲: ۳۱۱).

ذکرشوی احکام له میره پرته نورتپولوته شاملیږی هغه که محرم وی یاغیرمحرم نود ښځی لپاره دا جایزه نه ده چی له لاسونو،قدمونو او مخ پرته عورت چاته ښکاره کړی، او ټولو نارینه وته لازمه ده چی د داخلیدوپه وخت کی اجازه وغواړی . د حجاب د حد او حدودو رعایت چی د قرآن او نبوی احادیثو پربنا ذ کرشوی پر مسلمان واجب دی.

**څلورم مطلب د حجاب له حکمه د شارع مقصد**

د هغو شرعی نصوصو په اساس چی مخکی مو ذکرکړل د حجاب درلودل په مسلمانو ښځو واجب دی.

د حجاب په مسئله کی هغه څه چی د شارع لپاره ځانګړی اهمیت لری هغه د ښځوحرمت ساتل او ځانګړی مقام ته یی درناوی ده. نوځکه ځینی د نظر خاوندانو همدا موضوع د ځینی احکامو مبدأ معیینه کړی ده، او حجاب یی یوه شخصی موضوع تلقی کړی ده.

یوله هغو دلایلو چی د دی حکم د اثبات لپاره وړاندی شوی هغه هم د جلباب ایت ده . ډیری فقهاودی آیت ته په کتوسره حجاب د کنیزی لپاره واجب نه دی ګڼلی، اما ځینی نوربیا فتنه انګیزی او د شهوت تحریکول د حجاب د وجوب لامل بولی. چی په دی اړه کوی شو څو په لاندی دلایلو استناد وکړو:

۱ـ [**فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ**].(۱: احزاب/۳۲).داسی نه چی هغه څوک چی زړه یی د (هوا اوهوس) په مرض اخته دی په طمع کی شی.

د حجاب لزوم یوحفاظتی حکم او د فتنی د مخنیوی لپاره وضع شوی ده.

[وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ].(۱: نور/۳۱)

او داسی دی خپلی پښی په زمکه نه وهی چی پای زیبونه او د پښو پوښلی زیورات یی معلوم شی.

حجاب د ټولنی د روانی سلامتی او ارامتیا لپاره د یوضرورت په توگه مطرح شوی ده.۳- [وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ].(۱: نور/۶۰).

هغه یئیسه ښځی چی له ازدواج نه ناامیده شوی دی هیڅ گناه پری نشته که چیری دوی په داسی حالت کی چی زینت یی ښکاره نشی او خپل حجاب لری کړی، مگرد عفت ساتل د هغوی لپاره ډیرغوره دی.

د هغوی د حجاب نه مراعت کول د فتنی لامل نه گرځی نو ځکه یی هغوی ته د کم ستر اجازه ورکړی ده حال دا چی د آیت په اخر کی فرمایی که چیری دوی عفت اختیارکړی د دوی لپاره بهتره ده.

۴- یو شمیرفقهاله هغواحادیثونه چی په ټولنه کی دښځو په کم حضوردلالت کوی آن که په مذهبی مراسموکی هم وی لکه: د جماعت اوجمعی لمونځونه استنباط کړی چی شارع داحکم له فساداوفتنی نه دمخ نیوی په موخه فرض شوی(۱۳: ۴۴۲-۴۴۸).

۵- د حجاب په هکله د فقهاوفتاواو څخه دا په ښه توگه څرگندیږی چی د ښځو ټولنیزفعالیتونه اوکړنی په هیڅ ډول هم د حجاب منافی نه دی او د حجاب په مراعت کولو سره یی د ښځو تحصیل او کسب کار ته اجازه ورکړی ده.

له بلی خوا ځینی فقهاو په ذکرشوی آیت کی د « اونسائهن » عبارت په استناد لیکلی چی مسلمانو ښځو ته جایزه نه ده څو د غیرمسلمانی ښځی په وړاندی خپل زینت ښکاره کړی دا له دی امله ده چی د بیگانه نارینه پر وړاندی د هغی د ځینی اندامونو د توصیف مخنیوی شوی وی(۶: ۴۶۴).

له ذکرشویو نکاتونه دا په ډاگه کیږی چی په اسلامی ټولنه کی د حجاب مراعت کول یوشرعی امر او اجتماعی ضرورت دی.

او په زړو ښځوچی نور د زناشوهری امید نه لری گناه نشته چی خپل حجاب لری کړی ( په دی شرط ) چی خپل زینت تظاهر ونه کړی.

# دریم مبحث دبی حجابی عوامل اغیزی اوپه وړاندی مسؤلیت

## لومړی مطلب دحجاب ضدتوطیئه

## دوهم مطلب دبی حجابی پیل

## دریم مطلب دبی حجابی عوامل

## څلورم مطلب پرټولنه دبی حجابی ناوړه اغیزی

## پنځم مطلب دبی حجابی په مخ نیوی کی دحکومت،علماوټولنی مسؤلیت

## ځلورم مبحث د بی حجابی عوامل اغیزی اوپروړاندی یی مسولیت

ستراوحجاب په ټولوادیانو کی ځانته ځای او مقام لری، د ادیانو د تاریخ مطالعی دا ښودلی چی حجاب د ادیانو یوله مهموعناصرو څخه ګڼل کیږی؛ امّا د مختلفو دلایلو په اساس لکه د الهی ادیانو تحریف او نورحجاب همیشه د تغیر او تبدیل په حال کی وه، آن تر دی چی داسی به تلقین کیده چی حجاب یواځی په اسلام او هغه هم په افراطی جریاناتو پوری منحصرده او په نوروادیانو کی یی کوم ځای نشته .

امّا د تکنالوژی په عصرکی د حجاب لوری ته د ښځو تمایل نه همیشه غربی نړی واهمه لرله او دا موج یی د خپل ځان لپاره تهدید ګڼلی ده، او له دی موج سره د مبارزی په منظور یی همیشه د ښځو حجاب ته توهین کړی او هغه یی تربرید لاندی نیولی ده چی هره ورځ یی نمونی په دنیا کی ترسترګوکیږی .

له دی ټولو فشارونو سره سره بیاهم د ډیرو مسلمانو ښځو لپاره حجاب د تحمیلی فرهنګ پر وړاندی د مقاومت ځلی ګرځیدلی ده اوس د مسلمانواو خاصتاً هغو ښځو په منځ کی چی په غربی هیوادونو کی اوسیږی حجاب د دینداري او د غربی فرهنګ سره د مبارزی نښه ګڼل کیږی .(۲۵: ۳۰۱).

### لومړی مطلب د حجاب پرضد توطیئه

د رنسانس او دینی ضد حرکتونوپه پیل کیدوسره په اروپا کی حجاب د دینداری ټولنی د نښی په توګه د روشنفکرانو له خوا ترحملی لاندی راغی او د وخت په تیریدو سره نه یوازی دا چی حجاب او ستر ته توجیه بیخی کمه شوه بلکی بربنډتوب او مُدګرایی د مُدرنی نړی له ځانګرتیاو شمیرل کیدل .د حجاب په رابطه د ځینی دولتونولکه فرانسه، بلژیک، هسپانیا، ډنمارک، کوزوو او آلمان سخت ګیری د صیهونیستی یهودانو د توطئی ښه بیلګه ده د مسلمانانو پر وړاندی دا ډول د انسانیت او دینداری ضد اقدامات غربی دولتونوته کومه فایده نه رسوی په دا ډول کړنوسره هغه خپل دینی ضد ماهیت لاښه په ډاګه کوی او ټولنیزو اختلافاتو ته لمن وهل دی .

په ننی عصرکی هردین او مسلک ځانګری مذهبی ځانګرتیاوی لری، لکه په اسلام کی مناره اوحجاب په مسیحیت کی صلیب اونورمذهبی سرودونه چی عیسوت ته د هغوی د باورمندی نښه ده، چی په قهرجنو کړنوسره نه شو کولی هغه لری کړو، په غربی مصرفی ټولنه کی د معنویت نشتون او هویتی بحران به د وخت په اوږدوکی د دین اومذهب لوری ته د خلکو د لا زیات تمایل لامل شی .(۴۰: ۲۸).

د اسلامی سازمان د کنفرانس د شمیرنی مطابق نږدی (۴۵۰) میلونه مسلمانان په(۱۵۰) هغودولتونوکی ژوند کوی چی د اسلامی سازمان غړیتوب نه لری. د

حجاب د ممنوعیت موضوع د بین المللی حقونوله نظره په اقلیتونو باندی د حاکمو قوانینو په پام کی نیولو سره ترنیوکی لاندی ده .(۴۸:۵۰).

په دا ورستیوکی ځینی اروپایی هیوادونو په اسلامی حجاب بولړبندیزونه وضع کړی دی چی دا کار د ټولوبین المللی اصولوخلاف کړنه شمیرل کیږی.

۱-د لومړی ځل لپاره په ۱۹۸۹م.کال کی دری تنه محجبی مسلمانی زدکونکی په شمالی فرانسه کی په دی جرم چی حجاب یی په تن دی له مکتب نه وایستل شوی.

دا حادثه د دی لامل شوه چی د حجاب په اړه د فرانسی د دولت رابطه د دی هیواد له ۳ میلیونه مسلمانوساکنینوسره تربحث لاندی راشی .

۲-د دوهم ځل لپاره په ۱۹۹۰م.کال کی یو شمیرمحجبه زدکونکی له خپل ښوونکی سره د حجاب لرلوپه خاطرله مکتب نه اخراج شوی .

په فرانسه کی په ۲۰۰۴م. کال کی د مسلمانانوپه ضد د حجاب د ممنوعیت قانون تصویب شو،لکه ځنګه چی اوس ګوروپه اروپایی دولتونو کی دحجاب د ممنوعیتت اوله اسلامی شعایرو سره د مخالفت بحران د زیاتیدو په حال کی دی.

چی دا اقدامات په ډاګه د اروپایی هیوادونوله ادعا سره چی د موکراسی او د ادیانو او مذاهبو ازادی ده په ټکرکی ده .(۴۰: ۱۸).

۳- د « معلم ټیکری » په نامه ورته قضیه کی « فرشته لادن » (۲۶) کلنه افغانی الاصله آلمانی مسلمانه میرمنه د المان د مکاتبود معلمینوپه امتحان کی منل کیږی ولی له حجاب نه د استفادی په د لیل صنف ته له داخلیدومنع کیږی.

د فدرال اداری محکمی دهغی په اړه داسی نظر ورکړ:« معلمان په عمومی مکاتبوکی د دولت نمایندګان دی اوباید د زدکونکولپاره نمونه وی ».

فرشته لادن د آلمان د اساسی قانون محکمی ته مراجعه وکړه او ادعاکوی چی دهغی اساسی حقوق لکه مذهبی ازادی چی د آلمان د اساسی قانون په ۴ماده کی تضمین شوی، همداسی انسانی کرامت، شخصی ازادی، دقانون پروړاندی مساوات،دوجدان اوعقیدی ازادی، ښاری مساوات او د استخدام مساوات یی ترپښولاندی شوی دی؛ ځکه له اسلامی حجاب نه استفاده کول دهغی له درونی باوراوایمان نه سرچینه اخلی. د دی محکمی زیاتره قضات د آلمان په اساسی قانون کی د حجاب د خاصو مقرراتو د نه شتون له امله د قبلی مراجعو په خاصه توګه د کارد ځای تعلیمی هیأت د تصمیم په نظرکی نیولوسره د تردید غوښتونکی شول اوپه پایله کی یی داسی وړاندیزوکړ:د مذهبی ازادیوپه اړه داروپایی بشری حقوقو کنوانسیون د (۲) بند نهمی مادی محدودیتونه دی بررسی شی .

۴-دی کړنی ته ورته کړنی په ځینی نوروا‌سیای اواروپایی هیوادونو کی هم تکرارشوی دی « لیلاشاهین » د طب پوهنځی د پنځم کال محصله د اسلامی حجاب مراعت کولو په علت د تحصیل له دوام نه محرومه شوه.

دی محصلی هم د اروپا د بشرحقونو په محکمه کی شکایت وکړ او محکمی هم په پایله کی د دولت په نفع فیصله صادره کړه .

علی الرغم په ډیرو اروپایی هیوادونوکی د حجاب په ضد د خاصوقوانینو په تصویب سره په ابتدایی مکاتبوکی د اسلامی حجاب په رعایت بندیزلګول شوی ده چی په نتیجه کی یی مسلمانوښځواوانجونوته ډیرمحدودیتونه رامنځته کړی دی .(۴۰: ۴۶).

حال دا چی دوی د اسلامی حجاب په رعایت سره داسی کومه کړنه نه لرله چی د نوروله ازادی سره په تعارض کی واقع شی یا د ټولنی عمومی نظم اخلال کړی همدارنګه له اروپایی محاکموڅخه یی یوی هم اونه هم د آلمان اساسی محکمی دا وضاحت کړی چی څنګه د دی مسلمانوښځوحجاب د ټولنی له عامه نظم ،د ښځوله حقونواود بیان یا مذهب له ازادی سره په ټکرکی ده .

اوسنی وخت کی اروپا د خپل نفوس په ترکیب کی د مسلمانانوسره مخامخ ده چی نه یوازی مهاجر بلکی یونوی نسل تشکیلوی .

داسی ماشومان په مکاتبو اومیرمنی په ټولنه کی شتون لری چی هغوی د خپلومذهبی کړنوپه رسمیت پیژندلوغوښتونکی دی .

آن دا چی ځینی اروپایی لیکوالان په دی اند دی چی په اروپاکی مسلمان اقلیتونه نامتجانسی ډلی اوټولنی لپاره تهدید دی اودا تهدید د یوی ټولنی په نسبت بلی ته فرق لری سمعی اوبصری رسنی هم کله کله دی بیګانګی ته لمن وهی اود مسلمانوځوانانوتلویحات له تاوتریخوالی ډک اوخطرناک معرفی کوی .

د بشرحقونود معیارونوپه اساس له حجاب نه استفاده یا نه استفاده باید یوډول حمایت شی. د حجاب منع کول له دی سره سره چی یوډول تعصب ده، همدا رنګه د مسلمانو ښځود دینی ازادی اوتحصیل له حق سره په تعارض کی قرارلری. داسی کړنی اصلاً له حقوقی منطق سره په ټکرکی دی اوډیرله سیاسی تصامیموسره شباهت لری او آن دا چی د بشرحقونواروپایی دیوان یی هم تر تاثیرلاندی راغلی دی .

که په آلمان یافرانسه کی د حجاب ممانعت ته وګوروپه یاده قضیه کی د دین او دولت جدایی اویا د کلیسا جدایی له دولت څخه اویاهم په یاده قضیه کی د دولت بی طرفی محوریت درلود چی له سیاسی تصامیموسره ډیرشباهت لری.

همدا رنګه د سپتامبرد ۱۱پیښی وروسته د مذاهبو ترمنځ د رابطی او د دولتونو د قدرت بحث ډیر حساسیت پیدا کړچی له دی رامنځته شوی فضأ څخه حجاب هم په

امن کی پاتی نه شو،داسی ښکاری چی په ډیرو اروپایی هیوادونوکی په حجاب ممانعت په مسلمانانو باندی یوډول اجتماعی اوسیاسی فشاردی اوهیڅ ډول حقوقی منطق نه لری .(۴۰: ۵۷).

**دوهم مطلب دبی حجابی پیل**

ویل دورانت په دی عقیده دی چی له دوهم جهانی جنگ وروسته له صنعتی انقلاب سره سم د ښځی د آزادی په بهانه په واقعیت کی له هغی نه د ناوړه گټی اخستو په موخه ،هغه نارینه چی د شرم اوحیأ د له منځه وړوغوښتونکی ول ښځی یی د فحشأ میدان ته را وایستلی .(۵۴: ۱۵۱).

له ۱۹۲۱م.وروسته لمنی لنډی شوی (ترځنگنوورسیدی ) اودلباس په تاریخ کی دایوبی مخینی کاروه.(۵۵: ۴۱۹).

د حجاب تاریخی مستندات دا په ډاگه کوی چی له رنسانسه وروسته په ځینی اسلامی هیوادونوکی په نولسمه اوشلمه پیړۍ کی د میرمنوپه تربیت کی د تقویت په بهانه د حجاب اوسترد تغیرلپاره د استعمارشومه پلانگزاری په لاره واچول شوه چی دلته یی په لنډ ډول ځینی نمونی اودلایل ذکرکوو:

۱-د تصویرونوشاهدی ورکول: له رنسانس نه مخکی په تصاویروکی دحضرت مریم حجاب په ارَتواولویولباسونوسره کښل شوی اواوس وروسته له رنسانسه په نیمه بربنډه اولوڅ سرسره.(۱۴: ۱۱۶).

۲-خپلولاس پوڅواوهغوپادشاهانوته چی د لیبرالیستانولکه فرانسه اوانگلستان له سیطری لاندی دی د اروپایانوله خواتربیت ورکول لکه مصر،هند افغانستان اوځینی نورهیوادونه .

۳-د حجاب له منځه وړل اودهغه قانونی کول اومحجبه ښځوته د تحصیل لپاره پوهنتونواوتحصیلی مؤسسواونورودولتیی اداروته د حضوراجازه نه ورکول.

۴-له نولسمی پیړۍ بیاتراوسه د حجاب ضد تبلیغات!ځوحجاب یوپست شی وښودل شی اوبربنډی ښځی شجاع اوشکلی معرفی شی البته له ډیرو گزافواو مستقلو مصارفو سره.

داهغه استعماری سیاستونه دی چی «همفر» په خپلوخاطراتوکی لیکلی دی :

« د ښځی د بی حجابی په موضوع کی باید فوق العاده کوښښ وشی څومسلمانی میرمنی د حجاب پریښودوته لیواله شی؛ د دلائلواوتاریخی شواهدوپه واسطه باید ثابته کړوچی د ښځی لباس اوستر د ابن عباس له زمانی راوروسته رواج وموند اومطلقاً اسلامی سنت نه دی ،خلکوبه د پیغمبرصلی الله علیه وسلم ښځی پرته له حجابه کتلی اود صدراسلام ښځوبه د ژوندپه ټولوچاروکی اوږه په اوږه له نارینه و سره کارکاوه،

له پراخه تبلیغاتووروسته کله چی ستراوحجاب له منځه لاړه زمونږد ماموړانووظیفه داده چی ځوانان مینی کولواوله ښځوسره نامشروعه روابطوته وهڅوی اوغیرمسلمانی ښځی دی کاملًا بی ستره ظاهره شی، څومسلمانی ښځی له هغوی نه تقلید وکړی. اوپه دی وسیله دی فساد په اسلامی ټولنه کی وغځول شی »(۵۶: ۱۰۸)

**دریم مطلب د بی حجابی عوامل**

د ځینوښځوله لوری عفت اوسترته ارزښت نه ورکول. په ټولنه کی د حجاب په ترویج کی د مسئولینواوفرهنګی چارود متولیانوکم توجهی کیدای شی چی ډیر فردی اوټولنیز زیانونه ولری اوامکان لری چی په تدریج سره د ټولنی باارزښته اواخلاقی بنیادونه ونړوی اود فرهنګی اومعنوی انحطاط زمینه برابره کړی له دی امله د ټولنی د نزولی سیر د مخنیوی په موخه د حجاب په مخالفت کی د مؤثروعواملوپیژندل ضروری دی اوپه حقیقت کی کولی شی چی دعفت په ساتلوکی له مونږسره مرسته وکړی چی په راتلونکی کی هغوعواملوته په لنډ ډول اشاره کوو:

۱-د اسلامی فرهنګ د مزایاو نه روښانتیا

د اسلامی خلافت له انحلاله راوروسته معنویت دینداری اود دینی د ساتیرو اجراکولو ته میلان کم شوی ده اود اسلامی هیوادونود فرهنګی چارومتولیان د اسلامی فرهنګ استمراراوایشاعت ته چی حجاب هم دهغوی یوجز تشکیلوی ډیرلږمتوجه شوی دی اوپه نوروومسائلوکی چی د دوی په ګمان د ډیراهمیت لرونکی دی مصروف شول.

۲-د پلانګزاری مجال نه د رلودل

د جهانی استکبارد توطئی اود اسلام د دښمنانود کینه توزی په نتیجه کی چی تراوسه د اقتصادی، سیاسی، امنیتی اواجتماعی بحرانونوشاهدان یواوله ټولومهم دتحمیلی جنګونو په لاره اچولوکی د اسلامی هیوادونوزیاتره مادی اومعنوی سرمایه بی ځایه په کاروړل شوی چی داعوامل بیا د دی لامل شو څوله مسؤلانونه د سمی پلانګزاری وخت سلب شی .

۳-فرهنګی سیاستونه

فرهنګی میدانونه دغوره ذوق لرونکیو، متعهدو، متدینواومتخصصوانسانانوته ضرورت لری ،څوپه د قیق اوعمیق ډول وکولای شی اسلامی مسائل د اسلام له غنی منابعونه واخلی اوپه سمه توګه یی د اسلامی پوهنی په کتابونو،تحقیقی مراکزو، پوهنتونونواود ټولنی په ټولوتعلیمی سطوحوکی وړاندی کړدی، په دی توګه چی دا کتابونه وکولی شی ځوانان جلب اومعنویت ته یی پاملرنه وکړی، دینی اواخلاقی ارزښتونه دهغوی په زړونوکی په ود یعت واچوی ،چی په دی میدان کی تراوسه کوم مؤثرکارنه دی شوی.

۴-د تساهل اوتسامح ترویج

هغه خلک چی په فکری لحاظ له اسلام نه سمه پوهه نلری اوله بله پلوه د د ښمنانود بدوتبلیغاتوتربمبار لاندی راغلی، ډیر وخت یی حجاب د ځان لپاره قید اوبند محسوس کړی اومراعت کول یی له خپلی جسمی اومادی آزادی سره په تعارض کی ګڼی اود آرامه اواسوده ژوندانه لپاره ډیر زرد دښمن دهغوافکارو اوعقایدوښکارکیږی اوهغه دام کی چی له پخوانه یی هغوی ته ایښی لویږی.(۴۰: ۹).

۵-د مناسبو الګوګانو نشتون

په تأسف سره باید وویل شی چی مونږ ونه شو کولی چی د حجاب په رابطه د اِنجونو اومیرمنولپاره مناسبی اجتماعی الګوګانی وړاندی کړوچی دهغوی دپاملرنی وړ وګرځی اوهغه خپله الګو وګرځوی. په داسی حال کی چی دښمن له دی فرهنګی خلاء نه په استفادی اود خپلو مصرفی الګوګانوپه ترویج سره د ځوانانواونویو ځوانانوبی بندباره کیدوته ادامه ورکړی اوډیروغیراخلا قی مسائلوقبح یی له منځه وړی دی .

۶- د ازدواج سن لوړوالی

په دی کی څه شک نشته چی په دی ورستیوکی د ځینوسلیقو له امله د ازدواج سن پورته تللی اوځوانان په مختلفودلایلو لکه معیشتی مشکلات، د کورنشتوالی، د کار نه در لودل او ځینی نورامورات لکه د کورنیوسختګیری، اوغیرمنطقی غوښتنی هغه مشکلات دی چی له امله یی ځوانان نشی کولی د بلوغ په لومړی دوره کی ازدواج وکړی او دا کړنه په خپله کولی شی چی زیات مشکلات او ناوړه پایلی ولری چی په خپل ځای کی باید تربحث لاندی ونیول شی او مسئولان باید د هغه د حل لپاره لازمی تابیاوی ونیسی .(۴۰: ۱۰).

زمونږتربحث لاندی موضوع په اړه هم زیاتره په دی اند دی چی د ازدواج د سن پورته تلل د ځوانانوپه منځ کی د حجاب اوعفت په تنزیل، د بی بندباری اوبی عفتی په ترویج کی ډیرمؤثردی ،ځکه د ښځی طبیعت ځان ښودنه اود مخالف جنس په وړاندی جلوه ګری ده که له سمی اوشرعی لاری اشباع نشی زیاتره وخت امکان لری چی د نورو لاروچاروپه لټه کی شی چی د حجاب اوعفت لپاره یی زیانمنی وی اوپه پایله کی د بی عفتی اوبی حیایی لامل کیږی .

۷-له کورنی نه لری والی

اوس د اولادونود تحصیل شرایط داسی شوی دی چی زیاتره اِنجونی مجبوره دی چی د تحصیل د دوام لپاره د کورنۍ ګرمه غیږ پریږدی اونوروښارونوته لاړی شی اوکلونه د پوهنتون، مکتب اوتحصیلی لیلیوپه محیط کی چی بعضاً نامناسب هم وی د والدینوله مهراوعطوفت نه لری تیروی ،حتی په ځینی وختونوکی والدین د

اولادونوسرکشي نادیده نیسي اوخپله وظیفه په سمه توګه نه ادا کوی، معلومه ده چي په داسي اوقاتوکي اولادونوته ضرر زیات متوجه کیږی اوپه ډیراحتمال سره د دښمن له بدوالقأګانواود نفساني خواهشاتوله وسوسو د کم تجربه اِنجونواوځوانانواسیب پذیری ډیریږی.

۸-د پردیوله لوری دین غندنه

دا یوه روښانه خبره ده چي ټول اسلامي دولتونه د پردیوغربیانوترشدید ترین فرهنګي تهاجماتولاندی دی، جهاني استکبار په خپلوټولوامکاناتوسره هڅه کوی څومعنوی اواخلاقي ارزښتونه ترپوښتني لاندی را ولي اومسلمان ځوانان د اسلامي اصولونه له پابندی لری وساتي اود بي بندوباری اوبي حیایي خواته یی سوق کړی،هغوی په خپلودرواغجنوادعاګانوسره د میرمنوعواطف راپاروی او د هغواِنجونواومیرمنوپه واسطه چي پوهه یی کمه وی اویاهم دفساد د باندونوپه دام کي لویدلي وی غواړی ځوانان له اسلامي شریعت نه لری وساتي او د هغه پرځای یی ضد ارزښتونوته چي هماغه بي حیای اوبي عفتي ده وهڅوی .(۴۰: ۱۱).

په ځانګړی توګه بیازمونږګران هیواد افغانستان چي په اوسني وخت کي ترسختوفرهنګي تهاجماتولاندی دی اونړیوال استکبار په خپلوټولوامکاناتو او سلګونوراديويي، تلویزیوني اوکیبلي کانالونوپه واسطه په ډیر شدت سره کوښښ کوی څواسلامي ،اخلاقي اومعنوی ارزښتونه ترپوښتني لاندی راولي اومسلمان ځوانان له اسلامي ارزښتونولری وساتي، د بي بندوباری اوبي حیایي خواته یی وهڅوی اوبي قیدوشرطه آزادی ترویج کړی .

**څلورم مطلب په ټولنه دبي حجابي ناوړه اغیزی**

قاضي بن لندی چي د امریکا په « نور » ښارکي د تنکیوځوانانو دجنایي محکمي رئیس هم دی په خپل کتاب « د ځوان نسل تمرد » کي لیکي :

« په امریکا کي اطفال داسي دی چي ډیر زرله هغه نورمال حالت نه بلوغ ته رسیږی اود وړکتوب نه په هغوی کي هغه جنسي احساس ژوندی کیږی ».

نوموړی قاضي (۳۱۲) اِنجوني ترڅیړني لاندی نیولي اودی نتیجي ته رسیږی چي دهغوی ترمنځ (۲۵۵) نجوني چي عمر یی له یوولسوتردیارلسو کلونودی د بلوغ سن ته رسیدلي دی اوپه هغوی کي د شهوت ځانګړی نښي نښاني موجودی وی، نوموړی داکتر لیکلي دی: د باتیمور په ایالت کي د یوکال په موده کي زرشکایتونه موجود وه چي ټول یی له (۱۲) کلونونه دکم عمره نجونوپه اړه دی .

یوبل امریکایي لیکوال وایي :زمونږاکثره خلک په داسي اوضاع اوشرایطوکي ژوند کوی او له فطرت نه په دی اندازه لریوالي لری چي اِنجوني اوهلکان په پنځلس کلني کي په اخلاقي فساداخته کیږی اوداکار ډیرخطرناکي اوناوړه پایلي لری ځکه په دی

عمر کی جنسی شدیده علاقمندی ډیری ناگواره پایلی لری چی ترټولوکوچنی یی له کورونونه داِنجونوتیښته ده (۴۰: ۱۰).

دا دهغه ابتکار نتیجه اوثمره ده چی نوی محیط د ښځو لپاره منځته راوړی دی.

په غربی نړی کی د بی قید شرطه اختلاط له آثارو نه یوځو په لاندی توگه ذکر کوو.

۱-اخلاقی بی بندباری

د اخلاقو رکود او په انسانیت د حیوانی شهوت غلبه کول، د نارینه اوښځوحیاله منځه تلل ،د ټولنی نظم اوارامتیا ختمیدل داټول د جنسی آزادی اوبی بندباری له آثاروڅخه دی.کندی دامریکا دوخت جمهوررئیس په خپل یواعتراف کی چی په (۱۹۶۲)م ورځپاڼوکی خپروشوداسی اقرار کوی :« امریکایی ځوانان سپک خام ،یوله بل شلیدلی اود شهوت په کنده کی لویدلی دی. شپږم یااوم دهغوی په اخلاقی فسادکی داستغراق له وجهی د سرتیری په توگه د وظیفی اداکولولیاقت نه لری.دیوامریکایی مسؤل په توگه دا اختاروركوم چی دامریکا راتلونکی په خطر کی ده »(۴۸: ۱۲۹).

۲-د ناجایزه اولادونوخپریدل

له ټولنی د حجاب د لریکولواوجنسی بی بندوباری له آثاروڅخه یوهم دهغو اولادونوخپریدل دی چی په غیرقانونی توگه تولد شوی دی .

په امریکا کی د صحی مرکزونوله خوا د حامله انجونوپه اړه چی کوم راپورونه ورکړل شوی دی ډیر وحشتناک او ټکان ورکونکی دی په یو راپورکی راغلی دی چی د ۱۹۸۳م کال د متولیدینو یوله دریمی حصی څخه یی هغه ماشومان دی چی له ناجایزی اوغیرقانونی لاری لاسته راغلی دی او ډیر یی له هغو اِنجونو دنیا ته راغلی چی عمرونه یی له ۱۹ کلونونه ښکته دی د دی ماشومانو شمیر (۱۱۲۳۵۳) تنه یعنی په نیویورک کی د متولد شویوماشومانو ٪۳۷ تشکیلوی (۴۰: ۱۱).

عامه شوی چی زیاتره ځوانانو دا آسانه لاره انتخاب کړی اودهغوی په زعم دتکراری اوجامد ژوندانه پرځای ښه ده چی هره ورځ له یوه سره په متنوع توگه واوسی اوخپله ځوانی له یوه اوبل سره تیره کړی .

اوله بلی خوابه یی د ازدواج د تکلیف له دامه اوهمدارنگه د اولادونود تربی له مصرف نه ځان ساتلی وی .

د دی فرهنگ له نتایجو یوهم د بی شمیره سرگردانوښځوشتون دی چی د ځوانی دوران یی بغیر دهمسرنه وی څودهغه په خواکی په آرامه ژوند تیرکړی، کله چی د زوړتوب عمرته ورسیږی لکه د مصرف شویوکالیوپه څیر په یوگوښه کی غورځول کیږی .

۳-د طلاق زیادت اودکورنی له منځه تګ

د ازدواج مخی ته بی شمیره خنډونه اومشکلات منځ ته راغلی اود ازدواج په صورت کی هم د ښځی اومیړه ترمنځ پیوند ډیرپیاوړی نه وی ،کله چی په ټولنه کی د نامحرم نارینه اوښځی ترمنځ محدودیت وجود ونلری هیڅ څوک دی ته حاضرنه دی چی دا ټول مشکلات اومحدودیتونه تحمل کړی اوحتی دازدواج په صورت کی هم کورنی ډیرزرله منځه ځی اویا په ډیره کوچنی بهانه دمیړه اوښځی ترمنځ پیوند له منځه تلای شی په غرب کی د طلاق کچه ورځ تربلی په وحشتناک ډول دزیاتیدوپه حال کی ده .

۴-د خطرناکوناروغیوخپریدل

ساری ناروغی اوهمدارنګه عصبی اوروانی اختلاط هرکال زرګونه خلک قربانی کوی .

ایدزهغه خطرناکه ناروغی ده چی له پیژندویی ډیرکم وخت کیږی دا ناروغی د معمولی میکروبونواوناروغیوپروړاندی دبدن دفاعی سیستم کمزوری کوی هغه څه چی هره ورځ له نړیوالوورځپاڼواونشریاتوخپریږی ښیی چی دی ناروغی په جهان کی دمیلینونوانسانانوژوندته ګواښ پیښ کړی(۴۰: ۱۳-۲۵).

دلته باید داسلام په عظمت اود پیغمبرصلی الله علیه وسلم په معجزه اعتراف وکړوچی فرمایی: « دهرقوم په منځ کی چی فساد اوفحشأ زیاته شی او هغه قوم دګناه په ارتګاب کی بی پرواشی دهغوی په منځ کی به داسی طاعون اوناروغی خپری شی چی له هغوی نه په مخکینیوکی به نه وی تیری شوی .

دنامشروع اختلاط دعوتګران غواړی دبی بندباری او اخلاقی فساد په خپرولو سره دا ټول درد اوغم زمونږ ټولنی ته تزریق کړی حال داچی الله جل جلاله مونږله هغه نه ویرولی یو.

۵-د مینی له منځه تلل

دی کی څه شک نشته چی په زیاتره هیوادونوکی پټ اوپنهانی فسق اوفساد علنی بڼه ځانته غوره کړی چی په آزاده اوعلنی توګه لکه د روا کارپه توګه سرته رسیږی په دی اساس جنسی ازادی اوله یونفرنه بل شخص ته محبت کول په خپل ذات کی حقیقی محبت له منځه وړی ،ځکه چی انسان څوخپل مقصود ته نه وی رسیدلی دهمغه شی محبت له ځان سره لری اوداچی خپل هدف ته ورسید نوسمدلاسه په بله مینه پسی شی یا په واقعیت کی د بل په دام کی اچولوپسی کیږی .(۴۰: ۲۷).

دا وه دهغوبی بندباریو یوه بیلګه چی په اروپا او امریکا کی شتون لری اوورځ تربلی زیاتیږی، هغه خلک چی زمونږ په خاوره یانوروشرقی هیوادونوکی حجاب نه

خوښیوی په حقیقت کی یی په ذهنونوکی همدا ډول د ژوند کول دی اوټول حواس اوعقل یی دهمداسی غولونکومظاهرو له تأثیرلاندی راغلی دی .

**پنځم مطلب د بی حجابی په مخنیوی کی د حکومت اوټولنی مسؤلیت**

دتیروشویو مطالبو په ذکرکولوسره داپوښتنه مطرح کیږی چی ایا داسلامی شریعت له نظره حکومت کولی شی چی د بی حجابی ناوړه پدیدی پروړاندی ودریږی یاپه بل عبارت د دی پدیدی پروړاندی د حکومت د ممانعت په اړه کوم شرعی مدرک شتون لری که نه؟

دلته ځینی هغوشرعی دلایلوته چی د بی حجابی پروړاندی د دولت مسؤلیت څرګندوی اشاره کوو:

۱-د ګناه کارپه تعزیراجماع

د بی حجابی حرمت ته په کتو اوداچی دایوناروا کاردی، فقهاپه دی اند دی چی حاکم کولی شی چی دهرډول ګناه هغه که حق الله وی یا حق الناس مخنیوی وکړی اومرتکب یی تعزیر کړی .

دتعزیر دوجوب سبب هم دهغه جنایت ارتکاب دی چی په اسلامی شریعت کی دهغه لپاره کوم معیین حد نه وی مقررشوی .

اودځینوپوهانوپه اند دتعزیر مصادیق په لاندی ډول دی :

«والتعزیر یکون امابالضرب اوبالحبس اوالجلد اوالنفی اوالتوبیخ اوالتغریم المالی اونحوذالک ممایراه الحاکم رادعا للشخص بحسب اختلاف حالات الناس حتی القتل سیاسة»(۲۶: ۳۸۷).

تعزیرپه دُره وهلوګرفتاری اویادهغه په امثالوپوری منحصرنه دی؛ بلکه هرډول تنبیه او هغه اقدام ته شامل دی چی دعمل دتکرار دمخنیوی لامل شی لکه نصیحت کول، تعهداخستل اوتوبیخ کول اوحتی د ضرورت په وخت کی حالاتوته په کتوسره د مجرم وژل هم تعزیرکی شاملیږی.

۲-امربالمعروف اونهی عن المنکر

داهل سنت والجماعت فقهی له نظره «حسبه»په نوم تشکیلات شتون لری اودهغه لپاره یی قواعد تنظیم کړی دی .هغوی په دی اند دی چی د مسلمانانوحاکم باید یوصلاحیت لرونکی شخص د امربالمعروف اونهی عن المنکرلپاره وګماری اوټول امکانات دهغه په اختیارکی ورکړی څوله منکراتونه مخنیوی وکړی .

ابن خلدون په دی اړه لیکی :«حسبه د امر بالمعروف اونهی عن المنکر په اړه یودینی مکلفیت دی د مسلمانانوپه حاکم لازمه ده چی د دی کار لپاره یوځوک وګماری اوټول

امکانات د هغه په اختیارکی ورکړی څود منکراتو وضیعت په ټولنه کی و ارزوی اومنکرین تنبه کړی ».(۳: ۲۳۹).

د« معالم القربه » کتاب چی په هغه کی د اسلام له ظهور نه را وروسته د حسبه اداری تشکیلات اود تشکیل تاریخ په اړه معلومات راټول شوی دی په مقدمه کی یی راځی : د اسلامی حکومت د تشکیل په شروع کی امر بالمعروف اونهی عن المنکرد آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوراشدینوخلفاوله خواترسره کیده بیاوروسته په مصرکی د اسلامی حکمتونوپه دوران کی تشکیلاتی توسعه پیداکړه، په نوموړی کتاب کی د هغوی ځینی کارنامی ذکر شوی چی ځینی یی دلته ذکرکوو:

الف ـ دوهم خلیفه نارینه له ښځوسره له یوځای طواف کولونه منع کړل اوهغه نارینه به چی له ښځوسره لمونځ کاوه په دره سره به یی تنبه کاوه .

ب ـ د « جوربن اولع » په نوم یونفر په (۲۵۳ق) کال کی د مصر د پولیسو رئیس په توګه ټاکل شوی وه نوموړی شخص ډیرسخت ګیره وه اوعمومی حمامونوته یی د ښځوله ورودنه همدارنګه د قبرونوله زیارت اومړولپاره د زړا مراسموله نیولونه منع کول اوله متخلیفینوسره به یی سخت چلند کاوه .

ج – په (۱۹۵ق) کال کی د مصر حاکم په خپل یوحکم کی د بی حجابه ښځوپه تګ راتګ بندیز لګولی وه .(۴۳: ۴-۱۷).

په دی اساس داهل سنت والجماعت پوهان په دی عقیده دی حکومت باید دخپلی وظیفی په توګه د حسبه له نقطی نظره د حجاب موضوع باید د یواساسی امر په توګه تعقیب اوله بی حجابی یا بد حجابی نه مخنیوی وکړی .

دامسئله منکرنه له منع سره تفاوت لری چی په هرمسلمان فرد باندی واجب ده؛ ځکه فقها له منکرنه منهی ته دا اجازه نه ورکوی چی له مرتکب سره برخورد وکړی او د افرادو وظیفه له کلام نه تجاوزنه کوی .

۳-د ټولنی روانی اوټولنیزامنیت ساتنه

په دی کی هیڅ شک نشته چی دټولنی دنظم اودسپلین لپاره د قوانینووضع کول څود خلکوامنیت یکی تأمین شی د ډیراهمیت درلودونکی دی؛ تر دی حده پوری چی ډیروخت فردی اهداف د اجتماعی اهدافو قربانی کیږی .په اسلام کی هغه که څه دینی متون اویاهم داسلامی پوهانوله لیکنونه څرګندیږی چی دفردی اوعمومی احکاموپه تزاحم کی عمومی احکاموته اولویت ورکول کیږی اوافراد دا حق نلری چی دټولنی نظم مختل کړی .

داچی بد حجابی اویا بی حجابی د اسلامی ټولنی اوکورنیود نظم اواخلاقی ارا متیالپاره لوی تهدید دی اوله بله پلوه د حجاب رعایت اود جنسی تحریکاتو مخنیوی د یوی

ټولنی د افرادو د رشد اولوړوالی نشانه ده، حکومت مؤظف ده څوداسی قوانین وضع کړی چی د ټولنی د روانی اوټولنیز امنیت د تأمین لامل شی .(۲۶: ۲۴۴).

۴-د اسلامی شعایروساتنه

د حکومت له وظایفونه یوهم دهغواوامروتأمین ده چی د مسلمانی نښی نښانی دی. حکومت باید دهغود احیاألپاره کار وکړی اودهغو دبیا راژونی کولوپه لاره کی هغه شته خنډونه له منځه یوسی. په اسلامی فقه کی داسی موارد شته چی اسلامی حاکم ته دا حق ورکوی که څوک نوموړی شعایررعایت نه کړی نوحاکم کولی شی څوهغوی تعزیر کړی؛ ځکه چی دا د مسلمانانوله عمومی شعایروڅخه شمیرل کیږی اوپه دی کی سستی د هغوی له یاده ایستل اوحاشیی ته کولوپه معنی ده لکه د اختر لمونځ، د جماعت لمونځ، آذان اونور.(۴۶: ۲۴۴).

په اوسنی عصرکی د مسلمانومیرمنوحجاب په ټوله نړی کی د مسلمانی او دینداری له نښونه گڼل کیږی، له همدی امله په ځینوهیوادونوکی دهغه په نسبت حساسیتونه راپاریدلی دی اودهغوی له ورځنیوگرمو موضوعاتوگرځیدلی دی تردی پوری چی په هغو اسلامی هیوادونوکی چی پرقوانینویی لائیک اصول غالب دی په جوماتونوکی د مسلمانانود جماعت په لمانځه ادا کولوڅه بندیزنشته اما مکاتب، پوهنتونونواودولتی مراکزوته د محجبه میرمنوپه حضورباندی بندیز ونه لگول شوی دی ځکه حجاب د اسلامی شعایروپه توگه دلائیک له اصولوسره هیڅ ډول جوړجاړی نشی منلی، حکومت په دی ملاک سره کولی شی څو د حجاب له موانعوسره مقامت وکړی او هغه له منځه یوسی اود بی حجابی مخنیوی وکړی .

په دی اساس د علمأو اجماع چی د اسلامی شریعت د احکامو په بیان کی یوه منبع اومأخذ ده د بی حجابی په له منځه وړلوکی د حکومت په مسؤل گڼلو لومړی د لیل دی .

اسلامی فقهی دا حق بلکه مسؤلیت یی د مشروع اسلامی حکومت پراوږوباندی ایښی دی څود حجاب په اړه تصمیم ونیسی اود لزوم په صورت کی جبر اومتخلفینوته یی تنبه ورکړی .

**مناقشه**

د حجاب د وجوب اوحدودو په اړه اسلامی پوهانو قرآنی آیاتونه او استنباطات تر څیړنی لاندی نیولی اوپه دوه عمده ډلو ویشل شوی دی :

جمهورعلمأ د ښځی مخ اولاسونه په حجاب کی شامل نه بولی اوپټول یی هم ضروری نه گڼی .

ځینی نور بیا د ښځی ټول بدن پټول لازم بولی اود کومی استثنا قایل نه دی .

دهغوی د اختلاف اساسی عوامل د نورسورة د (۳۱) آیت « **إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا** »

(مگر هغه ظاهری ښکلا ) په مستثنی شویو مواضیعوکی ده د حجاب د وجوب د اثبات اودهغه د حدودوپه څرنګوالی کی د فقهاولپاره دا آیت مهم ترین استناد دی چی څودوله تفسیریی شوی ده .

علامه شوکانی د علمأود ار أو اختلاف داسی بیانوی:

د آزادی ښځی دعورت په اندازه کی اختلاف شتون لری ځینی د ښځی ټول بدن عورت بولی بغیرله مخ اوکفینواو دا د لومړی عصر د ځینومستقلوفقهاو نظر دی.شافعی ابوحنیفه او مالک هم په یوروایت کی د دی نظرتأید کړی دی ځینونورو بیا د پښوقدمونه هم ورداخل کړی دی چی د امام ثوری ابوسفیان اود امام ابوحنیفه یوقول دوهم نظرغوره کړی دی. یوشمیربیاله مخ نه پرته د ښځی ټول بدن عورت ګڼلی ده لکه امام احمد بن حنبل او داود ،څلورمه ډله پرته له کومی استثناڅخه د ښځی ټول بدن عورت ګڼی چی دا بیا د احمد او ځینو شوافعو نظردی او د دی ټولو تفاوتونو د لیل د علمأو هغه اختلاف ده چی د [إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا] آیت د تفسیر په اړه یی سره لری. (۳۴: ۵۵).

دعلمأوپه اقوالوکی ترجیح

له ټولوذکرشویواقوالواوهمدارنګه له نورونبوی احادیثواوآثارودا په ډاګه کیږی چی د نوموړی آیت له نزول نه وروسته ښځود پیغمبرصلی الله علیه وسلم په دوران کی یاله هغه وروسته د اصحابوپه زمانه کی ټیکری، نقاب اویاهم پرده استعمالوله اوبربنډ مخ به له کوره بهرنه راوتی لکه چی په سنن ابوداود ترمذی موطأامام مالک اونورود احادیثوکتابونوکی راغلی دی چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احرام په حالت کی د ستکش اونقاب له اغوستلومنع فرمایلی ده .

۱-په سنن ابوداود کی له ابن عمررضی الله عنهما نه روایت دی:«المحرمة لا تنتقب ولاتلبس القفازین.-نهی النساء في إحرامهن عن القفازين والنقاب »[32](۹: ۳۷۳).

دارِوایات په ډیر صراحت سره دا بیانوی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی ښځود نقاب اود ستکش له اغوستلوسره عادت کړی وه ، چی د احرام په حالت کی بیاله هغه نه منع شوی اود دی حکم مقصد هم دا نه ده چی د حج په موسم کی د د ښځومخ ټولوخلکوته ښکاره شی بلکی اصلی هدف دا ده لکه څنګه چی په عادی حالاتوکی نقاب اودستکش د حجاب جزده داحرام په حالت کی داحرام جزنه دی .په احادیثوکی په صراحت ذکرشوی چی مخکی مو ذکر هم کړل

[32]قال ابوداود:اسناده حسن وله شاهد،نمبرحديث: (۱۸۲۶).

ازواجومطهراتواونوروميرمنوبه د احرام په حالت کی له بيګانه نارينه ونه مخونه پټول

۲-سنن ابوداود کی له حضرت عائشی رضی الله عنها نه روايت دی: « کان الرکبان يمرون بنا ونحن محرمات مع رسول الله (ص) فإذاحازونا سدلت إحدانا جلبابها على وجهها فإذا جاوزونا کشفناه ».[33](۹: ۳۷۴).

مونږه د احرام په حالت کی له رسول الله سره وو کله به چی سپرلی ولا له مونږه تيريدل نوهريوله مونږه به خپل ټيکری له سره په مخ را ښکته کاوه اوکله به چی له هغوی نه تيريدومخونه به موبيرته لوڅول .

۳-اکثريت فقها اومفسرين هرډول کړنه چی د فتنی اوفساد لامل شی حرامه بولی تردی حده چی د حجاب په اړه په دی اند دی که د ښځی د ښايست له امله اويا هم د مکانی شرايطوله وجهی ويره موجوده وی نود مخ حجاب هم واجبيږی .(۲۶: ۷۳۹).

۴-شوکانی ليکلی: «هذا(کشف الوجهه) عندامن الفتنه...اتفاق المسلمين على منع النسأأن يخرجن سافرات الوجوه لاسيما عند کثرة الفساق ».(۳۴: ۲۴۴).

حراموکی دواقع کيدونه دامن په صورت کی د مخ حجاب واجب نه دی، اما د مسلمانانو اجماع په دی ده چی ښځی بايد بربنډ مخونه له کوره بهرراونه وځی؛ خاصتا په داسی حالت کی چی د نا اهلوځوانانوپه معرض کی واقع شی .

د حقير بنده له نظره په اوسنی عصرکی د مسلمانوښځواوِانجونولپاره دمخ پټول مهم دی پرته له هغوحالاتونه چی مجبوره وی اوياهم استثنا موجوده وی لکه د طواف په وخت کی اما په عادی وختونوکی احتياط غوره دی .

**دشبهاتورد**

داسلام دښمنان په دی موخه چی په ټولنه کی بی حجابی اوبی حيايی دود کړی ځينی پوچ اوبی معنی دلايل وړاندی کوی څوخلک پری وغولوی .

لومړی شبهه: ځينو نجونو ته يی په دی فريب ورکړی څوقلب دی پاک وی حجاب اولباس ته ضرورت نشته. دوی وايی له حجاب نه مقصود داخلی اومعنوی ستر دی يعنی هرکله چی انسان له داخله تقوای ولری همدا حجاب دی نه دا چی حجاب په ټيکری مخ پړونی اونقاب سره تعبيرکړو.

**د دی شبهی جواب**

داډول افراد بايد په دی پوه شی چی دوی د قرآنکريم له ډيرو آيتونونه انکارکو، ځکه په قرآنی آيتونوکی حجاب په مادی معنی سره بيان شوی ده د(خمار) ټيکری لفظ

[33] قال ابوداود اسناده ضعيف نمبرحديث: (۱۸۳۳).

صراحتاًپه قرآن کی ذکرشوی ده اودا یادونه هم شوی دی چی ټیکری باید غاړه، د سینی تخته،ویښتان اونورپټ کړی.[وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ](نور/۳۱). غوره ده چی داسی خلکوته د تفسیر د پوهانونظریات نقل کړو څوپوه شی چی د قرآنکیم ټول مفسران په څه نظر دی

امام طبری چی د تفسیرله مشهورو امامانوڅخه دی د « وَلْيَضْرِبْنَ.....» آیت شریف په تفسیر کی فرمایی :خپل ټیکری دی د سینوپه سر وتړی څوویښتان، غاړه، اودغاړی لاکتونه پری پټ شی .(۳۶: ۱۵۰).

علامه ابن کثیر[34] د تفسیر له مشهوروپوهانوڅخه دی د « ولیضربن ...» آیت په تفسیرکی لیکی: دلته هغه مخ پړونی مراد دی چی ښځی یی د سینی د پټولو لپاره په سینه باندی راواچوی اوخپل ویښتان اوکوڅۍ پری پټوی څوپه دی سره د جاهلیت د زمانی له ښځوسره مخالفت ښکاره کړی ځکه د جاهلیت په زمانه کی ښځودا کارنه کاوه اود نارینه وپه مخ کی به یی په داسی شان سره تګ راتګ کاوه چی د سروویښتان ،غاړه اوحتی غوږوالی به یی ښکاره کیدی .(۸: ۴۶).

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایی :«يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ { وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ } شَقَّقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا». [35](۹: ۸۱۲). هغه کسانوچی د اسلام د دښمنانوپه خبرو فریب خوړلی د دی حقیقت په درکولوسره شاید داسی خبری نوری تکرار نه کړی، اوپه دی به ورته یقین پیداشی چی په اسلام کی په کومه اندازه چی باطنی پاکی مهمه ده په هماغه اندازه ظاهری پاکوالی اوحجاب هم ضروررده ،ځکه ظاهری اوباطنی پاکی لکه د سیکی دوه مخه داسی دی کله چی یومخ یی خراب شی نوسیکه خپل ارزښت له لاسه ورکوی ،داسی ښځوته باید وویل شی چی ایا ستاسوزړونه له بی بی فاطمی، بی بی عائشی اونوروصحابیه ښځونه پاک دی ،هغوی د قرآنی آیتونو په پوهیدوسره سم له دی سره سره چی د پاکوزړونوخاوندانی هم وی اسلامی حجاب یی مراعت کاوه .(۲۴: ۳۴۴).

هغه خلک چی ادعاکوی ګویاداچی پاک زړه لری الله له پاکوزړونوسره کارلری اوپه داسی خبرویی ځان مصروفه کړی دی، دوی دی یوه بله خبره هم ځان سره یاد داشت کړی چی داخلی سپیڅلتیا د بیرونی سپیڅلتیا لامل ګرځی اوهیڅکله هم پاک زړه دناپاکئ (بی حجابی )میوه نه نیسی .

---

[34] عمادالدین ابو الفدا اسماعیل بن عمر بن کثیر قریشی تولد۷۰۱ ه ق وفات ۷۷۴ دمشق . شافعی مذهبه مفسر محدث اومؤرخ مشهورترین اثار البدایته والنهایه اوتفسیر ابن کثیر دی(تذکرة الحفاظ للحسینی. ص ۵۸-۵۹)

[35]داحدیث قبلاتخریج شو

لکه چی الله جل جلاله فرمایی « وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا ».(۱:اعراف/۵۸).

دوهمه شبهه: ځینی بیاداسی اداعاکوی چی دعفاف اوحجاب ترمنځ کومه رابطه نشته؛ عفاف لازم دی اما حجاب نه.

کله دامطلب دهیواد په کلیوالواوکوچی ښځوباندی اطلاقوی چی ګویاهغوی اسلامی حجاب نلری اماعفیفی دی .

د دی شبهی ځواب: لکه څنګه چی په تعریف کی ذکرشوچی حجاب دلغت په کتابونوکی د پردی اومانع په معنی سره راغلی دی، ساتونکی ته حاجب ویل کیږی چون یوخاص محیط ته د بیګانه او اغیارد داخلیدومخنیوی کوی، په دی اساس د ښځی ستراوحجاب هم د یوحاجب اومانع په توګه د نامحرم پروړاندی کارول کیږی هغه چی د نورود ناموس په حریم کی د تصرف قصد اونیت لری لکه چی په تعریف کی موبیان کړل .

همدا د منع اوامتناع مفهوم د ریښی په لحاظ دعفت به لغوی معنی کی هم شتون لری.

دا دواړه کلمی «حجاب»او«عفت» په اصل کی ګډه معنی لری (یعنی منع اوامتناع) هغه تفاوت چی دمنع اومخنیوی په منځ کی ده هغه هم یوازی د ظاهر اوباطن ترمنځ فرق دی یعنی منع اومخنیوی په حجاب کی په ظاهر پوری مربوط دی اومنع اومخنیوی بیا چی دعفت اړوندشی نوبیاباطن اوداخل پوری مربوطیږی ځکه چی عفت یوباطنی اودرونی امردی البته دابايد هیر نشی چی دظاهرتأثیر په باطن اود باطن په ظاهر دا د انسان له عمومی خصوصیاتونه ګڼل کیږی .(۶۶:۳۲).

په دی اساس دظاهری حجاب اوباطنی عفت ترمنځ متقابل تاثیر اوتأثر شتون لری هغه داسی چی په هره اندازه که ظاهری حجاب زیات اوغوره وی په هماغه اندازه یی د باطنی عفت په روزنه اوتقویه کی تأثیر ډیردی؛ اوبالعکس په هره اندازه چی داخلی عفت ډیر وی په هماغه اندازه یی دنامحرم په وړاندی په ظاهری حجاب تأثیرزیات وی.

قرآن کریم په ډیرظریف شکل سره دی تأثیر اوتأثرته اشاره فرمایلی ده .

لومړی یی زړوښځوته اجازه ورکړی چی د تبرج اوځان ښودنی له نیته پرته که د نامحرم په وړاندی خپل ټیکری لری کړی په دی کی څه حرج نشته مګرپه آخرکی بیافرمایی که عفت غوره کړی ډیره ښه ده.[وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا

فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَهُنَّ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (60)]

البته داپه دی معنی هم نه دی چی هره ښځه که ظاهری حجاب اوسترولری هغه به ضرور د باطنی عفت اوپاک لمنی له ټولومراتبو برخورداره وی .

د حجاب اوعفاف رابطه لکه درینی اومیوی درابطی په څیرده چی حجاب دعفاف میوه اوعفاف دحجاب ریښه ده، ځینی خلک ممکن ظاهری حجاب ولری اما په دی نه وی توانیدلی چی په خپل ځان کی باطنی سپیڅلتیا اوطهارت رامنځته کړی .

**نتیجه ګیری**

۱-په دی تحقیق کی له حجاب نه زمونږ مقصد د اسلام د وجوبی احکاموپه توګه دا دی چی ښځه له نارینه وسره د مخ کیدوپه صورت کی خپل بدن پټ کړی اوله ځان ښودنی اوبی ځایه جلوه ګری نه ځان وساتی.

۲-حجاب د نامحرم په وړاندی د ښځی د بدن د پټولوپه معنی د اسلام د مبارک دین له ضروری احکاموڅخه دی .

۳-حجاب اوعفاف یوفطری امردی اوپه ټولوالهی ادیانوکی ځانګړی ځای لری.

۴-حجاب په حقیقت کی ښځی ته حرمت اواحترام کول دی څونامحرم هغی ته په حیوانی توګه ونه ګوری اوحرمت یوازی مسلمانوښځوته ځانګړی دی اوغیری مسلمانی میرمنی له دی حرمت نه بی برخی دی .

۵- له قرآن کریم نه داسی زیات شواهد شتون لری چی مخکی له اسلامه هم په عربی ټولنه کی ښځی عامه ځایونواوعمومی اجتماعاتوته د حاضریدو په صورت کی له کامل حجاب نه برخمنی نه وی.او لکه د نارینه وپه شان به یی چندان حجاب نه مراعت کاوه په داسی وخت اوشرایطوکی د حجاب اړوند د الله جل جلاله او دهغه درسول حکم صادر شو.

۶- د قرآن کریم د سورتونوله جملی څخه په دوه سورتونوکی دحجاب موضوع مطرح شوی ده چی لومړی ځل په اجمالی توګه داموضوع داحزاب په سورت کی ذکرشوه اوبیاپه زیات تفسیر سره دنورپه سورت کی بیان شوی ده .

۷-ټول نبوی مبارک آحادیث په ډیروضاحت سره ددی څرګندونه کوی چی حجاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کی واجب شواوهغه صلی الله علیه سلم به له هغوخلکوسره چی ځان به یی له تازه ایجاد شوی وضعیت سره نه عیاراوه اولاهم به یی له سابقه مروج لباس نه استفاده کوله برخورد کاوه اویادونه به یی ورته کوله.

۸- اسلامی پوهان د حجاب په رابطه په دوه عمده ډلوویشل شوی دی:

اول: ډیرئ اسلامی فقها اوپوهان مخ اولاسونه په حجاب کی شامل نه بولی، دټول بدن پټول له مخ اولاسونوپرته واجب ګڼی.

دوم: ځینی نوربیا د ټول بدن پټول سربیره په مخ اولاسونود ښځولپاره واجب شمیرلی دی دواړو ډلودخپلی مدعا « دحجاب لزوم اواندازه » د اثبات لپاره دلایل هم ذکرکړی دی.

۹- په اسلامی فقه اونبوی احادیثوکی دا واضحه شوی چی د مخ اولاسونو دنه پټولو وجوب په دی معنی نه دی چی دهغوی پټول جایزنه دی بلکه اساساً دښځی پټوالی غوره دی د نارینه اونامحرم ښځوترمنځ حریم باید مراعات شی.

۱۰- اسلامی پوهانودعورت اوحجاب ترمنځ فرق کړی دی .دسترعورت لباس هغه لباس دی چی چسپ،نازک ،اولنډنه وی .حجاب بیاله هغه تیکی نه عبارت دی چی پرته له هغه لباس نه چی سترعورت کوی دهغه لباس سربیره اغوستل کیږی اودبدن ټول غړی ورباندی پوښل کیږی

۱۱-دا ذکرشوی احکام د ځوانی ښځی لپاره دی بلوغ ته له رسیدوسره سم سترعورت شروع کیږی اود جنسی جذابیت ترشتون پوری دوام کوی اوکله چی د بلوغ سن ته ورسیده بی له شکه چی نوموړی احکام تخفیف پیدا کوی، یعنی د زوړوالی اومرض حالاتوکی نوموړی احکام آسانه کیږی اوپه داسی حالاتوکی ښځوته اجازه شته چی داسی حجاب واغوندی که څه هم کمی اوتعدیل ولری .

۱۲- دا احکام له میره پرته نورټولوته شاملیږی هغه که محرم وی یانه وی، د ښځی لپاره جایزه نه ده چی له کفینوپرته نوراعضأ دهغوی په وړاندی ظاهرکړی اوپه ټولو نارینوو واجب ده څومخکی له دی چی د ښځو سکان ته ورداخل شی اجازه واخلی.

۱۳- د ځینوښځوله خوا حجاب ته اهمیت نه ورکول اوهمدارنګه په ټولنه کی د ستر او جحاب د ترویج په اړه د مسؤلانواود فرهنګی چارو د متولیانونه پاملرنه  د ډیرو فردی او ټولنیزو اضرارولامل کیدای شی اوامکان لری په تدریج سره د ټولنی اخلاقی اوباازښته تنابونه سست اود ټولنی د فرهنګی اوعنعنوی انحطاط سبب شی .

۱۴- په اسلامی فقه کی د ښځی د حجاب لپاره کوم ځانګړی رنګ نه دی تعین شوی اوفقط د بدن په پټوالی (پرته داستثناشوی مواردونه ) تأکیدشوی البته د نازکوتنګواوهغه چی بدن تری ښکاره شی اوتحریک کونکوکالیوڅخه یی منع فرمایلی ده او د رنګارنګ تیزو اود غږ ایستونکوبوټونواوعطروپه باره کی ملاحظات لری.

۱۵- دغربی پوهانو د اعترافاتوله مخی چی ویلی یی دی :

هغه اوضاع اوشرایط چی مونږپه هغه کی ژوند کوو دومره له فطرت نه لری ده چی نجونی او هلکان په پنځلس کلنی کی په اخلاقی فساد اخته کیږی او د دی کارپایله به ډیره بده وی ځکه په دی سن کی دا ډول علاقمندی اورغبت د ډیرواضراراواوزیانونولامل کیږی .

۱۶- اسلامی شریعت داحق بلکه وظیفه داسلامی اومشروع حکومت په غاړه ایښی ځود حجاب په رابطه تصمیم ونیسی اود لزوم په صورت کی اجباراً متخلفین تنبه کړی.

۳۲- یوازینی دین چی په کامله توګه یی د ښځی ارزښت اومقام بررسی کړی ده او هم په ټولنه کی د ښځی د شخصیت درناوی کوی اوپه نړی کی د ښځی یوائینی اوواقعی تصویر ده هغه داسلام مبین دین ده .

**وړاندیزونه**

داچی ستراوحجاب داسلام له عامه د ساتیرونه ګڼل کیږی بنأدهغه دتعمیل لپاره لاندی ځوټکی وړاندیزلرو.

۱- ټولوهغوکسانوته چی ځانته مسلمان وایی زمونږ وړاندیزدا دی ځو اسلامی ستر مراعت کړی ځکه چی حجاب یوفطری امراوشرعی حکم دی، په دی برخه کی نه پاملرنه د ټولنیزواو فردی زیانونوباعث کیږی.

۲- په ځانګړی توګه مومسلمانوخویندوته دا وړاندیزدی چی له بیګانه نارینه وسره په معاشرت کی د سرويښتان اوخپل نور اندامونه پټ کړی او ځان ښودنه ونه کړی ځوله یواړخه خپل ځان د نا اهله کسانوله ضرره وساتی اوله بله پلوه خپله هم په ټولنه کی دبی بندوباری لامل نشی .

۳- ټولوځوانانوته مو وړاندیزدا دی چی هرډول جنسی التذاذ دی دازدواج په کانون کی په کورنی محیط پوری منحصرکړی اوټولنه دی د کاراوفعالیت لپاره ځانګړی شی، ځود انرژی له بی ځایه تلوځخه مخنیوی وشی او هغه په اقتصادی اوعلمی پرمخ تګ کی ولګول شی .

۴- د اسلامی حاکم له وظایفونه یو هم د اسلامی شعائروپلی کول دی اوحجاب هم یوله اسلامی شعائروځخه دی نو د حکومت مسؤلینوته مووړاندیزدا دی ځو دحجاب په رابطه تصمیم ونیسی اود لزوم په صورت کی اجباراً متخلفین تنبه کړی.

## فهارست

د قرآنکریم دآیتونوفهرست:


| شماره | طرف آیت | سورة | د آیت گڼه | صفحه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ... | اعراف | ۲۲ | ۴ |
| ۲ | ذالک ادنی... | احزاب | ۵۹ | ۹ |
| ۳ | ولاتبرجن تبرج... | احزاب | ۳۳ | ۲۳ |
| ۴ | یا ایها الذین آمنو لاتدخلوا... | احزاب | ۵۳ | ۲۵ |
| ۵ | وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ... | اعراف | ۴۶ | ۲۶ |
| ۶ | وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ | مريم | ۴۵ | ۲۶ |
| ۷ | فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُونِهِمْ حِجَابًا... | مريم | ۱۷ | ۲۶ |
| ۸ | وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ... | احزاب | ۵۳ | ۲۶ |
| ۹ | فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ... | ص | ۳۲ | ۲۶ |
| ۱۰ | وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ... | فصلت | ۵ | ۲۶ |
| ۱ | وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُكَلِّمَهُ اللَّهُ... | الشوری | ۵۱ | ۲۶ |
| ۱۲ | وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ... | النور | ۳۱ | ۲۷ |
| ۱۳ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا... | احزاب | ۵۳ | ۳۰ |
| ۱۴ | قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ | النور | ۳۱ | ۳۱ |
| ۱۵ | يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِنَ النِّسَاءِ... | احزاب | ۳۲ | ۳۲ |
| ۱۶ | وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ... | احزاب | ۳۳ | ۳۲ |
| ۱۷ | يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ... | احزاب | ۵۹ | ۳۲ |
| ۱۸ | وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ... | النور | ۶۰ | ۳۳ |
| ۱۹ | قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ... | النور | ۳۱ | ۳۵ |
| ۲۰ | وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ... | النور | ۳۱ | ۴۷ |
| ۲۱ | وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ... | احزاب | ۳۳ | ۵۰ |
| ۲۲ | يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ... | احزاب | ۵۹ | ۵۱ |
| ۲۳ | وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ... | النور | ۶۰ | ۵۳ |
| ۲۴ | أَوِالتَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ... | النور | ۳۱ | ۵۴ |
| ۲۵ | ولایضربن بارجلهن... | النور | ۳۲ | ۵۹ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢٦ | قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ... | النور | ٣٠ | ٦٢ |
| ٢٧ | ويستأذن فريق منهم... | احزاب | ١٣ | ٦٧ |
| ٢٨ | يَا بَنِي آَدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ... | اعراف | ٢٦ | ٦٧ |
| ٢٩ | أَوِالطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا... | النور | ٣١ | ٦٩ |
| ٣٠ | وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ... | النور | ٥٩ | ٦٩ |
| ٣١ | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا... | النور | ٢٧ | ٧٠ |
| ٣٢ | وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ... | احزاب | ٣٣ | ٧٢ |
| ٣٣ | وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي... | النور | ٦٠ | ١٠٢ |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

**د احادیثو فهرست**

| شمیره | د حدیث متن | کتاب | کودی ادرس | صفحه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | یاأسمأ ! ان المرأة اذابلغت ... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۹ |
| ۲ | فخرجت مع رسول الله بعدماانزل... | صحیح البخاری | ۱۳ :۵۹۴ | ۲۸ |
| ۳ | عن أنس قال قال عمررضي الله... | صحیح البخاری | ۱۳ :۱۹۲ | ۲۹ |
| ۴ | عن دحیة الکلبی انه قال اتی... | ابوداود | ۹: ۸۱۴ | ۳۶ |
| ۵ | قالت عائشه رضی الله عنها دخلت... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۳۶ |
| ۶ | قالت خرجت سوده... | صحیح البخاری | ۱۳: ۳۹۶ | ۳۷ |
| ۷ | لمانزلت هذه الایه خرج نساء... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۳۷ |
| ۸ | رحم الله نساء الانصار... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۳۷ |
| ۹ | ان عمربن الخطاب نهی النسأ... | التحریروالتنویر | ۵: ۱۶۷ | ۴۴ |
| ۱۰ | لعن رسول الله: المتشبهات... | جامع الترمذی | ۱۶: ۷۴۶ | ۴۵ |
| ۱۱ | قال رسول الله صلی الله علیه وسلم... | صحیح مسلم | ۵۳: ۹۵۱ | ۴۵ |
| ۱۲ | کان الرکبان یمرون بنا... | ابوداود | ۹ :۲۶۱ | ۴۶ |
| ۱۳ | عن عائشه رضی الله عنها... | **جامع البیان فی تفسیر** | ۳۶ :۲۱۸ | ۴۸ |
| ۱۴ | مثل الرافلة فی الزینة... | جامع الترمذی | ۱۶ :۱۳۹ | ۵۰ |
| ۱۵ | لاتنتقب المرأة المحرمة... | صحیح البخاری | ۱۳ :۲۸۴ | ۵۲ |
| ۱۶ | ان علیا کان ینهی النساء... | صحیح مسلم | ۵۳ :۳۳۷ | ۵۲ |
| ۱۷ | کان الرکبان یمرون بناونحن... | ابوداود | ۹ :۲۶۱ | ۵۳ |
| ۱۸ | عن عائشه ان امرأة دخلت... | **الاتقان فی علوم القرا** | ۳۲: ۴۲) | ۵۶ |
| ۱۹ | فقالت انما الخمار.... | سنن الکبرابیهقی | ۱۵: ۲۳۵ | ۵۶ |
| ۲۰ | عن عائشه رضی الله عنها... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۵۶ |
| ۲۱ | لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم... | جامع الترمذی | ۱۶: ۷۴۶ | ۵۸ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | کل عین زانیة والمرأة... | جامع الترمذی | ۱۶: ۷۴۶ | ۶۰ |
| ۲۳ | ایّاکم والدخول علی النسآء... | جامع الترمذی | ۱۶ :۱۳۹ | ۶۰ |
| ۲۴ | ای شیئ خیرللمرأة... | فقه اسلامی وادلته | ۲۶ :۳۲۵ | ۶۱ |
| ۲۵ | کل عین باکیة یوم القیامة... | تفسیرقرآن العظیم | ۸ :۲۹۳ | ۶۳ |
| ۲۶ | المراة عورة... | جامع الترمذی | ۱۶: ۳۳۹ | ۶۶ |
| ۲۷ | لاینظرالرجل الی عورةالرجل... | ابوداود | ۹: ۷۹۷ | ۶۷ |
| ۲۸ | اياكم والتعری... | جامع الترمذی | ۱۶ :۷۴۸ | ۶۷ |
| ۲۹ | احفظ عورتک... | جامع الترمذی | ۱۶: ۷۴۷ | ۶۸ |
| ۳۰ | لایحل لامرأة تؤمن باللہ... | **جامع البیان فی تفسیر** | ۳۶: ۳۰۵ | ۶۸ |
| ۳۱ | یااسمأ!ان المراة اذابلغت... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۶۷ |
| ۳۲ | عن عقبه بن عامران رسول ... | صحیح مسلم | ۵۳: ۹۶۶ | ۷۲ |
| ۳۳ | نهانارسول الله صلی الله علیه سلم... | جامع الترمذی | ۱۶: ۷۴۵ | ۷۴ |
| ۳۴ | قالت خرجت سوده بعد ماضرب ... | صحیح البخاری | ۱۳: ۳۹۶ | ۷۵ |
| ۳۵ | صلواة المرأة فی بیتها... | ابوداود | ۹: ۱۲۷ | ۷۶ |
| ۳۶ | لاتمنعوا اماءاللہ مساجداللہ... | صحیح البخاری | ۱۳: ۳۴۷ | ۷۶ |
| ۳۷ | ائذنوالنسأبالیل... | صحیح البخاری | ۱۳: ۴۰۶ | ۷۷ |
| ۳۸ | کان رسول الله علیه وسلم لیصلی... | صحیح البخاری | ۱۳: ۴۰۷ | ۷۷ |
| ۳۹ | اذا شهدت احداکن المسجد... | صحیح مسلم | ۵۳: ۱۸۷ | ۷۷ |
| ۴۰ | خیرصفوف... | ابوداود | ۹: ۱۴۶ | ۷۸ |
| ۴۱ | صنفان من اهل النارلم اراهما... | صحیح مسلم | ۵۳: ۹۵۱ | ۸۴ |
| ۴۲ | یا أسمأ!ان المرأة اذابلغت... | ابوداود | ۹: ۸۱۲ | ۱۰۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٤٣ | امر الله نسأ المؤمنين... | تفسير المنير | ٢٧: ١٠٨ | ١٠٢ |
| ٤٤ | قال كان رجل من المنافقين... | **الاتقافى علوم القران** | ٣٢: ٢٢١ | ١٠٢ |
| ٤٥ | المحرمة لاتنتقب... | ابوداود | ٩: ٣٧٣ | ١٠٣ |
| ٤٦ | كان الركبان... | ابوداود | ٩: ٣٧٤ | ١٠٣ |
| ٤٧ | عن عائشه رضى الله عنها زوج انبى | ابوداود | ٩: ٨١٢ | ١٠٤ |
| ٤٨ | | | | |
| ٤٩ | | | | |
| ٥٠ | | | | |
| ٥١ | | | | |
| ٥٢ | | | | |
| ٥٣ | | | | |
| ٥٤ | | | | |
| ٥٥ | | | | |
| ٥٦ | | | | |
| ٥٧ | | | | |
| ٥٨ | | | | |
| ٥٩ | | | | |
| ٦٠ | | | | |
| ٦١ | | | | |
| ٦٢ | | | | |
| ٦٣ | | | | |
| ٦٤ | | | | |
| ٦٥ | | | | |
| ٦٦ | | | | |

## فهرست اعلام

۱- ابوالاعلی مودودی:. مشهورمسلمان لیکوال اومذهبی فیلسوف سیاسی متفکرد په نیمه وچه کی داسلامی جماعت مؤسس په ۱۹۰۳میلادی تولداو په ۱۹۷۹کی وفات شوی دی.

۲-ویلدورانت:. مشهور امریکایی لیکوال اومؤرخ په ۱۸۸۵میلادی کی تولد اوپه ۱۹۸۱کی مړشوی ده مشهورترین اثریی تمدن تاریخ په ۱۱جلدونوکی.

۳-امام طبری:.ابوجعفرمحمد بن جریربن یزید بن کثیربن غالب طبریداهل سنت وتلی مفسر تاریخ لیکونکی اومحدث په ۲۲۴هـتولداو په۳۱۰هـ کی وفات شوی دی مشهورترین آثار یی جامع البیان فی تفسیرالقرآن ۲ تاریخ الامم والرسل والملوک.

۴-کندی:.جان فیتزجرالدکیندی john fitzger ald kennedy دامریکا پنځه دیرسم ولسمشردحکومت دوره ۱۹۶۱-۱۹۶۳م په ۱۹۷۱تولد اوپه۱۹۶۳م کی ووژل شو.

۵-قرطبی:. ابوعبدالله محمدبن احمدابوبکربن فرح انصاری خزرجی اندلسی قرطبی په ۶۱۰م تولد اوپه ۶۷۱ وفات شوی .

۶-ابن خلدون:. ابوزید عبدالرحمن بن محمد بن خلدون خضرمی په ۷۳۲هـ کال کی تولد اوپه ۸۰۸هـ کی وفات شوی دی .

۷-عمادالدین ابو الفدا اسماعیل بن عمر بن کثیر قریشی تولد۷۰۱ ه ق وفات ۷۷۴ دمشق. شافعی مذهبه مفسر محدث اومؤرخ مشهورترین اثار البدایته والنهایه اوتفسیر ابن کثیر دی(تذکرة الحفاظ للحسینی. ص ۵۸-۵۹)

۸-ابوعبدالله محمد بن عمر فخر رازی متولد ۵۴۳ ومتوفی۶۰۶ مشهورترین اثریی مفاتح الغیب معروف په تفسیر کبیرفخررازی .(فخرالدین رازی)نوشته دفتح الله حلیف.

۹-محمود بن عمرملقب په جارالله زمخشری کنیه یی ابو القاسم پیداینت ۴۶۷وفات۵۸۳مشهورترین اثریی الکشاف ده (زمخشری وکشاف اثردمحمد مقدم علوی ۱۳۵۳)

۱۰-محمدظاهرابن عاشور (۱۲۹۶-۱۳۹۳ق)ادیب اومفسرتونسی مالکی مذهب مشهورترین اثریی تفسیر التحریر والتنویر المعروف بتفسیرابن عاشور.(ابن عاشورج۴ ص۱۴۵۶
محمدبن علی بن محمد شوکانی داهل سنت له فقهاو څخه په ۱۱۷۳ه ق په یمن کی متولد اوپه ۱۲۵۰ وفات شوی آثاریی نیل الاوطار ۲فتح القدیر فی التفسیرچی ډیرمشهور دی (ویکی پدیا محمد الشوکانی) ۱۶ اگست ۲۰۱۸)

**منابع**

۱- قرآنکریم

۲- ابن ابي حاتم، عبدالرحمن. (۱۴۱۹ق). **تفسير القرآن العظيم** . (ج : ۸ ، ۱۰). عربستان. مكتبة نزار.

۳- ابن خلدون، عبدالرحمن . (۱۴۲۴ق) . **مقدمه ابن خلدون** . بيروت . دارالفكر.

۴- ابن حزم، علي بن احمد. (ب ، ت) . **المحلّي** . (ج : ۳) . دمشق . دارالفكر.

۵- ابن عاشور، محمد بن طاهر. (ب ، ت) . **التحرير و التنوير** . (ج : ۱۸) .(ب، ط).

۶- ابن قدامه، عبدالله . (۱۴۰۵ق) . **المغني** . (ج :۱، ۷) . بيروت . دار الفكر.

۷- ابن‌منظور، محمدبن مکرم . (۱۴۰۵ق) . **لسان العرب** . (ج : ۱) . قم . ادب الحوزه .

۸- ابن كثير، اسماعيل بن عمرو. (۱۴۱۹ق) . **تفسيرالقرآن العظيم** . (ج: ۶) . بيروت . دارالكتب العلميه.

۹- ابوداود، سليمان بن اشعث. سجستانى . (۲۰۰۹م).**سنن ابي داوود**.نسخة ومصححة الحافظ ابوطاهر زبيرعلى زئى . الرياض . دارالسلام .

۱۰- اردوباري، احمد صبوري . (ب، ت) . **آيين بهزيستي اسلام** . (ج : ۳) .(ب،ط).

۱۱- اسدالله، (۱۳۸۳ش) . **بهشت جوانان** . انتشارات سبط اكبر. طبعه: ۱۹ .

۱۲- اشتهارى،ابوالقاسم.(ب، ت).**حجاب در اسلام** .به نقل ازالسيرة الحلبيه .(ب، ط)

۱۳- بخارى، محمدبن اسمعيل. (۱۹۸۷م) . **صحيح البخارى** . (ج: ۱، ۴) . شرح و تحقيق قاسم الرفاعى . دارالقلم . بيروت . الطبعة الاولى .

۱۴- براون، واشنايدر. (ب، ت) . **پوشاك اقوام مختلف** . (ب، ط) .

۱۵- بيهقي، احمدبن حسين. (ب، ت) . **السنن الكبرى** . (ج : ۲) . بيروت . دارالفكر.

۱۶-الترمذی،ابوعیسی محمدبن عیسی بن سوره.(ب،ت).**الجامع الصحیح سنن الترمذی**. داراحیاء التراث العربی . بیروت . لبنان . الطبعة الاولی .

۱۷- جان موریس، رابرتس . (۱۳۸۶ش) . **تاریخ جهان از آغاز تا پایان قرن بیستم .** تهران . شادان منوچهر.

۱۸- جرجی، زیدان . (۱۳۶۹ش).**تاریخ تمدن اسلام** .انتشارات امیرکبیر.طبعه : ۶.

۱۹- جصاص، احمد بن علی .(۱۴۰۶ق) . **احکام القرآن** . (ج: ۵) . استانبول . طبعه: افست بیروت.

۲۰- جلال رفیع . (ب، ت) . **سفرنیویورا ك** . (ج : ۳ ، ۵) .

۲۱- جوهري،اسماعیل بن حماد.(۱۳۷۶ش).**الصحاح**.قاهره. احمد عبدالغفورعطار.

۲۲- حداد عادل،غلام علي . (ب، ت) . **فرهنگ برهنگي** . (ب، ط) .

۲۳- خسرو، باقري . (ب، ت) . **نگاهي دوباره به تربیت اسلامي** . بحث ویژگیهاي عمومي انسان .(ب، ط) .

۲۴- داعی، عبدالظاهر . (۱۳۸۹ش) . **فلسفه عبادات .** کابل . طبعه : اول .

۲۵-دایرةالمعارف زنان فرهنگهای اسلامی.(ب،ت).**دائره المعارف القرن العشرین**. (ج : ۱) (ب،ط).

۲۶- زحیلي، وهبه .(۱۴۱۸ق).**الفقه الاسلامي و ادلته** . (ج: ۷) . دمشق . دار الفکر.

۲۷- زحیلي، وهبه . (۱۴۱۸ق) . **التفسیر المنیر** (ج: ۲۲) . دمشق . دار الفکر.

۲۸- زمخشري، محمود . (۱۴۰۷ق) . **الکشاف عن غوامض التنزیل** .(ج: ۳) . بیروت . دار الکتاب العربي .

۲۹- سرخسي، شمس الدین . (۱۴۰۶ق) . **المبسوط** . (ج : ۱۰) . بیروت . دارالمعرفة .

۳۰- سید سابق . (ب،ت) . **فقه السنه** . ( ج : ۱) . بیروت . دارالکتاب العربي .

٣١- سيستانی،علی . (٢٠٠٠م) .**استفتاءات المرجع الدينی .**الأعلی السيد السيستانی. قم .

٣٢- سيوطي، جلال الدين .(١٤١۶ق) . **الاتقان في علوم القرآن.**(ج : ١، ۵). بيروت. دار الفكر.

٣٣- سيوطي، جلال‌الدين . (١۴٠٣ ق) . **الدرالمنثور** . (ج : ۵) . بيروت . دار الفكر.

٣۴- شوكاني،محمد بن علي .(١٩٧٣م).**نيل الاوطار**.(ج: ٢، ۶) . بيروت . دارالجيل.

٣۵- طالبي دارابي، باقر. (١٣٨٣ش) . **سيري در تلمود** . قم . مركزمطالعات اديان و مذاهب . آدين اشتاين سالتز. ترجمه : باقرطالبي دارابي .

٣۶- طبري، محمد بن جرير. (٢٠٠٠م) . **جامع البيان في تفسير القرآن** . (ج : ٩، ١٣، ٢٢) . تحقيق : احمدشاكر. مؤسسة الرساله . طبعة الاولی . بيروت . دارالمعرفه .

٣٧- علامه، سيدمحمد حسين فضل الله. مجله پيام زن. **جوانان،ورزش وحجاب** شماره: 74.

٣٨- عهدعتيق . (١٩٨١م) . **انجمن كتب مقدس** . سفرپيدايش، سفرتثنيه، سفرخروج، سفرتكوين .

Mishneh Torah , Sefer Nashim ،. Halacha .
, Ishut , Chapter Thirteen.

٣٩- عهد عتيق وعهد جديد.(١٣٨٠ش).**اساطير.**رساله بطريس،رساله پولس، رساله بهتموس . ترجمه : فاضل خان همداني . تهران .
.parsiblog.com٨http://bikarane

۴٠- فتحی، دكتر علی . (١٣٩٠ش) . **اهميت حجاب .** درحقوق اسلامی و غرب . تهران . (ب، ط) .

۴۱- فخررازی، محمد بن عمر. (۲۰۰۰م) . **التفسير الكبير**. (ج : ۲۳) . أو، مفاتيح الغيب . بيروت .

۴۲- فيّومي، احمد بن‌محمد. (۱۹۸۷م) . **المصباح المنير** . بيروت . المكتبة العلميه .

۴۳- قرشي (ابن اخوه)، محمد . (۱۴۰۸ق).**معالم القربه** . قم . دفتر تبليغات اسلامي.

۴۴-قرطبي،محمدبن احمد.(۱۳۶۴ش).**الجامع لاحكام القرآن**.(ج : ۱۴).تهران.ناصر خسرو.

۴۵ - گرگاني، اميرفريدون.(۱۳۸۲ش).**گنجينه ازتلمود**.آبرهام كهن.تهران. اساطير.

۴۶- ماوردي، علي . (ب،ت) . **الاحكام السلطانيه** . قم . دفترتبليغات .

۴۷- مسيري،عبدالوهاب. (۱۳۸۳ش). **دايرةالمعارف يهود، يهوديت و صهيونيسم.** تهران . موسسه مطالعات و پژوهش‌هاي تاريخ خاورميانه .

۴۸- مصطفى، ميرمحمدى . (۱۳۸۶ش) . **عدم ممنوعيت حجاب اسلامى** ازمنظر حقوق بين الملل اقليت‌ها . (ب، ط) .

۴۹- مطهري، مرتضي . (۱۴۲۰ ق) . **مجموعه آثار .** (ج : ۱۹) . قم . صدرا.

۵۰- مطهرى ، مرتضى . (۱۳۷۰ش) . **مسئله حجاب** . تهران . (ب، ط) .

۵۱- ملاصدرا، صدرالدين محمد شيرازي .(۱۹۹۹م) . **شرح اسفار.**(ج : ۲۴، ۳۸)**.** بيروت . دارالحياء التراث العربي .

۵۲- مودودي، عبدالاعلي . (ب،ت) . **الحجاب** . بيروت . دارالفكر. ۵۳- نيسابورى، مسلم بن ۵۳- حجاج القشيرى . (۲۰۰۰م) . **صحيح مسلم .** مع ترقيم : محمدفواد عبدالباقى . دارالسلام . الرياض . الطبعة الثانيه .

۵۴- ويل دورانت . (۱۳۶۷ش) . **تاريخ تمدن** . (ج : ۱۲، ۱۳، ۲۰) . ترجمه احمدآرام . طبعه : سوم . تهران . انتشارات آموزش انقلاب اسلامي .

.chabad.org/library, Classic Texts ,Mishneh Torah

۵۵- ویل کاکس، روتترنر. (۱۳۸۶ش) . **تاریخ لباس** . بزرگمهر. شیرین . توس.
۵۶- همفر، خاطرات مستر. (ب، ت) . مترجم : محسن مؤیدی . (ب، ط) .
۵۷- هیثمی، علی بن ابوبکر. (۱۹۸۸م) . **مجمع الزوائد و منبع الفوائد**.(ج : ۴) . بیروت .

**Summary of research**

What writing is in front of you (in the light of Holy Quran and Sunnah Hijab and veil) This topc,which is the Master’s thesis of the slave,in the light of Quran and the Prophetic hadiths,which is lead by the honorable Teacher Fasihullah Abdulbaqi.In addition, to the case,I have arranged four discussions in which each discussion has a number of topics.and, the benefits and values of Hijab have been explained. In the second discussion, the rules related to the greatness in the Holy Quran, the order of the decent of the Hijab and the history of the verses related to the Hijab, the limits of the Hijab in the Qur’an and also the views of the Islamic scholars regarding the Hijab verses have been examined.

The third topic,in this topic,Hijab and its major ruling in Sunnah,investigation of Hijab-related hadith,preventive measures of Hijab in hadiths,and,the description of the limits of Hijab have been mentioned.

The fourth topic is the factors of non-hijab, its impact and responsibililty, the conspiracy against Hijab, the beginning of non-hijab, factors and the negative effects of non-hijab in society, as well as, the responsibility of the government, scholars and society in preventing non-hijab. The contents are described.

In order to prove each meaning, the Qur’an an the Prophetic hadiths have been argued.And, in addition to the Quranic verses and the prophetic hadiths, the opinions of Islamic scholars have also been brought forward.

Salam University
Faculty of Sharia and Law
Master Program in Tafseer and Hadith

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# Hijab and veil in light of Quran and Hadith

## A Master's thesis

**Student: Najibullah Sabah**

**Supervisor: Dr. Fasihullah Abdulbaqi**

**Year: 2017**

Salam University
Faculty of Sharia and Law
Master Program in Tafseer and Hadith

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# Hijab and veil in light of Quran and Hadith

A Master's thesis

Student: Najibullah Saban
Supervisor: Dr. Fasihullah Abdulbaqi

Year: 2017